


# پر پښتو شعر د جنګ اغېزې

عزت الله شمسزي

www.sikaraam.com

۱۶ جوزا ۱۳۸۱
د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون


**کتاب پیژندنه**

---

**دکتاب نوم:** پر پښتو شعر د جنګ اغېزې

**لیکوال:** عزت الله شمسزی

**خپرندوي:** د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون

**ایډیټر:** خوشال خلیل

**دپښتیطرحه:** محمد مظفري

**ډیزاین:** محمدتقي حسن‌زاده

**چاپشمېر:** لومړی وار ۵۰۰ ټوکه

**چاپځای:** د کمیسیون چاپ خونه

**نیټه:** ۱۳۹۱/ مرغومی



**پته:** ۶ مه ناحیه، پل سرخ، کارته سه، کابل، افغانستان.

**ټیلفون:** ۰۰۹۳(۰۲۰)۲۵۰۰۶۷۶-۲۵۰۰۶۷۷

**برېښنالیک:** aihrc@aihrc.org.af

**ویبپاڼه:** www.aihrc.org.af



www.sikaraam.com

**لړليک:**

| | |
|---|---|
| سريزه | ۱ |
| جنگ او شعر | ۸ |
| د جنگ د شعر موضوعات او مضامين | ۱٦ |
| تحميلي جنگ او افغانان | ۱۹ |
| په شعر کې د انساني تلفاتو انځورونه | ٤۲ |
| ملي شتمنيو او چاپېريال ته اوښتي زيانونه | ۷۳ |
| دماشومانو متاثره کېدل او د ښوونځيو سوځېدل | ۷۹ |
| په شعر کې د ورځنيو پېښو انځورونه | ۸٥ |
| په شعر کې د جنگ اصطلاحات | ۱۰٥ |
| سوله په شعر کې | ۱۱۲ |
| پايله | ۱۲۱ |
| اخځونه | ۱۲۳ |

www.sikaraam.com

## د دې کتاب په اړه

ادبیــات او هــنر له بشري حقونو سره ژوره اړیکه لري، پــه اروپا کې له منځنیوپیړیو را وروســته د ویښتیا او روښانتیا په دوران کې همدغه ادیبان او هنرمندان و، چې په خپلو هنري شاهکارونو کې یې د انسان کرامت او مقام ته د درناوي ذهنیت جوړ او په فکري لحاظ یې ټولنه دې ته چمتو کړه چې انسان ته دې د هغه د انسانیت په خاطر درناوی وشي. لــه هغې پســې د دوو نړیوالو جګړو پــر مهال چې بشري ټولنې تــه کوم زیانونه واوښتل، همدغو ناخوالو ته په کتو، لویدیز کې د جنګ ضد شاعرۍ مفهوم رامنځته شو او د جګړو او بربادیو په ضد د شعر لیکنې لړۍ پیل شوه، چې د جګړو د دوران ویجاړۍ او وژنې په کې په ښکلې هنري بڼه انځور او غندل شوې وې. له جنګ جګړو او وحشت نه ســتړې شوې د هغه مهال نړیوال ســیاسي، ټولنیز او فکري حالت ددې زمینه برابره کړه چې د ملګرو ملتونو د ســازمان له جوړیدو لږ وروســته پــه ۱۹۴۸ کال کې د بشر د حقونو نړیواله اعلامیه تصویب کړي، چې په هغه کې د ټولو انســانانو پر طبیعي حقونو په ځانګړي توګه د ژوند او انســاني کرامت ته د درناوي حق پر خوندیتوب ټینګار شوی دی.

د جنګ ضد شــاعري کوم داســې مفهوم نه دی چې په هغه کې دې د مشروع دفاع حــق او د هیوادنیــو ملي جګړو مفاهیم تر پوښــتنې لاندې راشي، او یــا خدای مه کړه هغه تاریخي حماســې دې ونګول شي چې د اســتبداد، ظلم او بې عدالتیو پر وړاندې د مقاومــت پــه ترڅ کې پنځول شــوي دي. بلکــې د جنګ ضد شــاعرۍ کې د جنګ او تاوتریخــوالي نــه کرکه او بیزاري انځور شــوې ده، د جنګ ضد شــعرونو کې د جګړو هغه کرغیړنې شــیبې او پیښــې ثبت شــوې دي چې زموږ ټولنه یې منفي پایلې لا هم احساســوي. د جنګ ضد شــاعر معمولا په دې هڅه کې وي چې په مســتقیم ډول له جنــګ او تاوتریخــوالي نه خلک را وګرځوي، څو په ټولنه کــې بشري کرامت ته درناوی تعمیم او معنا پیدا کړي. دلته د شاعر له انده جنګ هدف او وسیله نه ده، بلکې جنګ هغه ویجاړونکي پدیده ده چې نه یوازې کورونه، ښارونه او باغونه ورانوي بلکې د افغانانو نفس او انسانیت ته هم زیان اړوي.

سیاســتوال سوله د مذاکرې، پخلاینې او اوربند په څیر مفاهیمو کې لټوي، خو سوله

www.sikaraam.com

هغه وخت معنا پیدا کوي چې د یوې ټولنې وګړي له رواني پلوه دغه کار ته چمتو وي، یعنې په ټولنه کې د جنګ او تاوتریخوالي د سوچ او فکر د له منځه وړو له لارې موږ له جنګ نه لرې، یوې هوسا، سوکالې، عادلانه او پرمختللي ټولنې ته رسیدای شو، چې په هغې کې د زغم او پیرزوینې د فرهنګ په اســاس افراد په کې یو بل ته په درناوي قایل وي او د قانــون پــه چوکاټ کې د خلکو بشري حقونه خوندي وي. همدې ټکو ته په پام ښــاغلي عزت الله شمسزي په دغه( پر پښتو شعر د جنګ اغیزې) ځیړنیز اثر کې هڅه کړې چې د افغانستان په وروستیو څه دپاسه درې لسیزو وسله والو شخړو او جګړو کې د جنګ په اړه شاعرانه موضوعات او د شعر ټولنیز نقش څرګند کړي، څو راتلونکې کې تاریــخ لیکونکي او ادبي کره کره کتونکي وکولای شي له دغه اثر نه د موجوده وضعیت تازه شــاعرانه موضوعات او انګیرنې ترلاســه کړي. ددغه کتاب له مطالعې راته څرګنده شــوه چې په ټولیزه توګه زموږ شــاعرانو د بشري حقونو مفاهیم لکه عدالت او آزادي په هنري او شعري قالبونو کې په ډیره ښه بڼه بیان کړي دي.

د شــعر ژبــه د شــور، عاطفې او ښــکلا ژبه ده، ځکه خــو د ټولنې پــه روان تر بل هر شي ژوره اغیــز پریبــاسي. د افغانســتان د بشر د حقونو خپلواک کمېســیون د خپرونو کتنپلاوي غړو هر یو د کمیســیون مرستیال ښاغلي فهیم حکیم، کمیشنر صاحبانو کې فرید حمیدي، مولوي غلام محمد غریب، ضیا لنګري او ثریا صحبرنګ د کتاب همدغه اهمیــت تــه په کتو د هغه چاپ ګټور وباله او د چاپ سپارښــتنه یې وکړه، په دې هیله چې دغه کتاب به د جنګ اوتاوتریخوالي د ذهنیت او فرهنګ په له منځه وړو کې ګټور تمام شي.

خوشال خلیل
د چاپي خپرونو مسوول

**سریزه:**

په پښتو ادبیاتو په ځانگړې ډول په شعر کې د جنگ موضوع له پخوا نه موجوده وه. په پښتو لنډیو، نظمونو، غزلونو، نارو، څلوریزو، چاربیتو او نورو فورمونو کې موږ د حماسي شعرونو بېلگې لرو چې په کې تل د هېواد د ساتنې او یا هم د خپلواکۍ جنگونو ته ولس هڅول شوی دی. خوشحال بابا چې کله له مغلو سره په جنگ بوخت و، نو یوه ورځ چې له تیراه نه د یوسفزو مېداني سیمې ته د پښتنو راغونډولو لپاره روان و او دپښتنو جذبه یې ولیده نو په فخر یې وویل:

پښتنو زلمیو بیا لاسونه سره کړل
لکه باز منگولې سرې کاندې په ښکار
سپینې تورې یې گلگونې کړې په وینو
په اهار کې شگفته شولاله زار

هغه وخت چې جنگ خوشحال بابا ته یوازې یو رومانتیک خیال و او په هغه کې یې د وطن ازادي لیدله، نو گورو چې په پورتني شعر او داسې لسگونو نورو کې یې له اور او وینو ښکلا پنځولې ده.

په پښتو لنډیو کې ډېر داسې مثالونه لرو چې د جنگ رومانتیک ذکر په کې کېږي او په داسې انداز کې ویل شوي لکه شاعره چې یې یوه عشقي یا پسرلنۍ ښایسته منظره ترسیموي:

یار مې له جنگ نه تړی راغی
شربت د شونډو به په خوله کې ورکومه
ټوټې ټوټې په تورو راشې
چې پرهرونه دې گنډم خوله درکومه

خال به د یار له وینو کېږدم
چې شینکي باغ کې گل گلاب وشرموینه

www.sikaraam.com

پښـــتو متل دی وايي دجنګ ســخت ســاعت خوږې خــبرې. پخوانو کــه د جنګ خبرې هم کولې نو په داســې غنايي انــداز کې يې کولې چې د پسرلي خــوږې وږمې، رنګونه او ښايستونه يې د مخاطب سترګو ته درول، داسې ښېلګې ډېرې کمې لرو چې له جنګه په کې شکايت شوی وي او يا د جنګ کرغېړنې خواوې په کې بيان شوې وي.

په افغانستان کې يوه مرحله داسې هم راغله چې زموږ د معاصرو شاعرانو په شعر کې هم د جنګ موضوع ته تمايل تر پخوانيو يو څه شدت وموند، د پښتو ژبې د فلسفي شاعر غني خان په شعرونو کې هم داسې ښېلګې موندلی شو چې وايي:

چې قطرې قطرې مې يوځ د دښمن نۀ کا
مورې ما پسې په کوم مخ به ته ژاړې
يا به دا بې ننګه ملک باغ عدن کړم
يا به کړم د پښتنو کوڅې ويجاړې

د افغانســتان په معاصرو شــاعرانو کې د ثور تر کودتا او د روســانو تر يرغل دمخه ښاغلي اکاډميسين سليمان لايق هم پښتون زلمي ته وليکل چې:

ګرزه ملا تړلی له وسلو سره
جار دې شم زلمیه له پښتو سره
او يا هم:
را روان به موج خون شي زه پوهېږم
هر يو ځوان به مو مجنون شي زه پوهېږم

په پورتنيو او ســلګونو نورو شعرونوکې موږ وينو چې له جنګ نه وېره نه ښکاري، ښايي يو څو داسې لنډۍ به ولرو چې ووايي:

تورو ټوپکو استاکاره
دښو ځوانانو خون به ستا له غاړې شينه
دګورستان نه مې زړه بد دی
ځوانان ستانه کړي رالېږي تش پالنګونه

د جنګ په اړه ويل شــويو شــعرونو کې د پخوانيو شاعرانو رومانتيک انداز وايي چې دوی غير مســتقيم ډول جنګ ته تمايل ښــودلی، ښــايي لامل به يې دا وي چې پخوانيو لکه د اوس په څېر مسلسل جنګ نه و ليدلی او يا په ځينو حالاتو کې يې ښايي له خپلو فتحو او

www.sikaraam.com

ویاړونو څخه خوند اخیستی وي او د احساساتو په څپو کې ورته جنګ په اهاړ کې د شګفته لاله زار په څېر ښکاره شوی وي.
اوســمهالو شــاعرانو چې د پنځه دېرش کلن جنګ مزه وڅکله نو د جنګ د پلوی او ویاړنو پر ځای یې د جنګ کرغېړنو خواو ته پام واوښت. په دې تېرو لس پنځه لسو کلونو کې چې له جنګ نه د کرکې په اړه څومره شــعرونه لیکل شــوي ښایي د افغانستان د ادبیاتو په ټول تاریخ کې نه وي لیکل شــوي. د یو شــمېر اوسنیو شاعرانو په شعر کې نه د جنګ دتقدس خبره کېږي او نه هم د فتحو او ویاړونو، دوی یوازې د جنګ مسکوته څېره موږ ته ښیي، هغه څېره چې نه زموږ په پخوانیو ملي او حماسي شــعرونو کې لیدل کېږي او نه هم د مقاومت د دورې په ادبیاتو کې ښکاري.
د جنــګ دغــه نوې څېره خپل ولــس او نړیوالو ته د یوه جنګ ځپــلي ولس د درد تصویر دی، هغــه لوی درد چــې ولس یې دخپلو خلکو، غرونو او ښــارونو تر مرګ ژوبلې وروســته احساســوي. اوسنیو شاعرانو چې د جنګ پنځه دېرش کلن ناورین او ستونزې ولیدلې، نو جنګ یې دیوه ویاړ په توګه نه بلکې دیوې غمیزې په توګه تجربه کړ او اوس ددغې فاجعې رومانتیــک بیــان نه کوي او نه هم د جنګ په ترخو شــېبو کې خوږې خبرې کوي، دوی په هنري ژبه د جنګ د بدمرغیو تریخ حالت موږ ته انځوروي.
د تپل شــویو جګړو له لاســه افغان ولس ته د راپېښــو غمیزو درد دومره زیات دی چې په هېواد کې دننه او تر هېواده بهر یې د پښــتنو شاعرانو سندرې په اور ولړلې، شاعر که اوس د ګل پاڼــه انځوروي نو د لمبو رنګ به خامخا په کې ښــکاري. د لــوی افغان پر کور ددغو لګېدلو لمبو له تاوه که په کابل کې اســحق ننګیال د ســیندونو په مرګ خواشینی دی او غږ یې کړی چې:

دا کلی مه ورانوئ!
دا کلی مه ورانوئ!
ګورئ چې هلته د شنو ولو د شنوسیورو لاندې
ګورئ د شنې ویالې تر څنګه د جلګو دپاسه
یو کوچنی پروت دی
یو کوچنی ویده دی
او ، تر وړې لوپټې لاندې
په خوب وړو سترګو
د ناز په غېږه کې کوچني شینکي خوبونه و یني.

نو هلته په پېښــور کې پر رحمت شــاه ســایل هم حالات اور اوروي، د خپلو وینو رنګ په

www.sikaraam.com

لمبو کې ویني، د لمبو په سیوري کې د خپلو دردونو څرېکو ته ناست دی او له ډېره سوزه دګلونو په ښار کې د اورونو نغمې غږوي:

ما درته ټول عمر د ګلونو ښار ویلی دی
کله مې پېرزو شې په بمونو پېښوره
ستا تصویر مې تل د زړه په وران کور کې ساتلی دی
کله مې پیرزو شې په بمونو پیښوره

که دلته پیرمحمدکاروان د ټپي چنار د بدمرغیو او ناخوالو کیسه شعر کوي او یا دجګړو د بدمرغیو له لاســه دیوه رنګ جومات او یا له کوره دیوه نادرکه افغان فریاد راپورته کوي او خپلې سندرې لکه د کابل دنجونو په شان په خپلو وینو سره بولي:

سور د روح په وینو د کاروان غزل
ته وا د کابل د نجونو مړی دی

نو هلته په کوزه پښتونخوا کې اباسین یوسفزی سلګۍ وهي چې په ټول وجود یې دجنګ لمبې خورې شوي، ځوانان په بازارونو کې دکلي مستۍ او ساعت تیریو پسې ګرځي نه یې پیدا کوي، ګودرونو اور اخیســتی او مستانه نجونې د دې لمبو او اورونو له لاسه ګودر ته نه شي تلای، د امن د کوترو له وزرو نه هم لمبې وربېږي او دا لمبې له اباســینه ان تر ســپین غر او سورغر پورې خورې دي:

خورې له اباسینه تر سپین غر پورې لمبې دي
د سترګو نه راواخله تر ځیګر پورې لمبې دي

که په کندهار کې عبدالباري جهاني د جنګ له تورو تیارو نه په تنګ راغلی او د سباوون په تمه ژاړي:

اسمانه ما خو داسې نه غوښتله
چې د ښارونو جنازې وژاړم
چې مې په کلیو کې بلا لنګه شي
چې د ځوانانو هدیرې وژاړم

نو په کویټه کې بیا یو بل دردېدلی او درویش شــاعر د خپل هېواد زخمونه د اســمان تر

www.sikaraam.com

ستورو زيات ګڼي او وايي چې شينكي اسمان خپل حساب و كتاب سم ساتلی:

شينكي اسمان دی خپل حساب او كتاب سم ساتلی
د ستورو شمېر يې دی زما تر زخمو كم ساتلی

لنډه دا چې جنګ د ټولو د شعر پر مضمون او محتوا اغېز كړی دی، كه يو شاعر رومانتيک غزل هم ليكي نو يو بيت به په كې ارو مرو دجنګ ناخوالې د ځان پر لوري راكاږي.
يو شمېر اوسني شاعران خو لا د خپل ولس د ارمانونو او د اوسني پير د پېښو د انځورولو تر څنګ پر هغو كسانو چې جنګ يې په شعارونو غوښت نقد هم كوي او وايي چې دوی د جنګ له زوره خبر نه وو، دوی ښايي يوه ورځ، يو مياشت يا يو كال جنګ ليدلی و، دوی ته دا معلومه نه وه چې جنګ په مليونونو افغانان له خپل هېواده كډه كولو ته اړ كوی، په مليونونو كسان شهيدان او معيوبوي، غرونه ، كلي او ښارونه د بمونو او درنو وسلو د ګوليو او بارودي دوړو له امله خپل ښايست له لاسه وركوي او په پای كې ولس ديوې داسې ناهيلۍ كندې ته غورځوي چې بېرته وتل ورته ګران ښكاري:

د سرو لمبو د غرغرو د شوره نه دي خبر
دا څوک چې جنګ غواړي د جنګ د زوره نه دي خبر
زما د كور د ورانولو په ارمان لېوني
دخپل ارمان د ورانېدونكي كوره نه دي خبر
زما بچي لا د ګودر اور اوركي يادوي
دوی د ګودر دلګېدلي اوره نه دي خبر

د اوسنيو شاعرانو شعرونه د چاپيريال له ځانګړو حالاتو رنګ اخيستی. دوی د خپل ژوند كيسه په نوی رنګ كوي، ځكه دوی پوهېږي چې د پرون خبره بله وه او د نن ادا بدله شوې ده. دوی چې په يوه ماډرنه زمانه كې ژوند كوي په دې پوهېږي چې د شاعر په بيان كې صداقت ډېر مهم دی او دجنګ په ترخو شېبو كې خوږې خبرې كول او وچ وياړونه ولس داسې نشه كوي چې بيا به ورته خپل قدمونه هم نه ښكاري چې پر كومه خوا ځي. ددوی مينه ترخو لوګو خوړلې ده او د ژوند په رګونو كې يې ټول ترخه خوربږي او همدې اغېزو يې ژبې هم ترخې كړې دي. اوس د جنګ د موضوعاتو د بيانولو په انداز كې هم خورا توپير راغلی دی. اوس كه د جنګ يادونه څوک كوي نو انداز يې عاطفي، هنري وي او د جنګ په ټولو ابعادو شاعري كېږي.
دوی اوس په دې پوه شوي چې جنګ كه په هر نوم او يا د هرې موخې لپاره وي په

بشریــت کې د وحشــت، ذلت، فقر او بدمرغۍ طاعون زېــږوي، نو ځکه خو نه وايي چې د وينو موج به روان کړي او يا به د پښــتنو کوځې ويجاړې کړي. اوســني شاعر په افغانستان کې دا درې نيمې لســيزې د وينو داســې موجونه وليدل چې ښــځې، نارينــه، لوی، واړه، کاڼي، بوټې، حيوانات او نباتات هرڅه په کې غرق شول. دومره ورانې کوځې او لمبه لمبه ښــارونه يې وليدل چې اوس ورته خپل ځان هم ديوه لمبه شوي انسان په څېر ښکاري او له خدايه د رحمت بارانونه غواړي:

راشه د رحمت بارانه ښار اخيستی اور دی
ژوند لکه د کلي د چنار اخيستی اور دی
راشئ زما اوښکې ورله يوسئ بلبلانو
سوزي درنه ښکلي لاله زار اخستی اور دی
نه يې د چا لاس لکه امېل د غاړې تاو شو
غاړه کې يې خپل د غاړې هار اخستی اور دی

شــاعران اوس په دې پوهېږي چې مظلوم ولس يې د ژوندانه په يوه داســې پړاو کې دی چې هره ورځ د نويو او نا اشــنا پېښو شاهدان دي او له جنګه دومره ستړي دي چې خدای ته دجنگ د خلاصېدلو په اړه زارۍ کوي او وايي:

چې بيا نه توره پورته شي نه سر په وينو رنگ شي
باداره دغه جنگ دې د وطن اخري جنگ شي

نو؛ څومره درد، غم او خوږ چې روانو حالاتو شاعرانو ته بخښلی، ځينو يې په صادقانه ډول په ډېره هنري ژبه په خپلو شعرونو کې د خپلو احساساتو، تجربو او مشاهدو انځورګري کړې ده. اوس وخت که موږ په اصطلاح دې دموکراسۍ کې هم دجنگ د عاملينو او د بې ګناه انســانانو د قاتلينو نوم نه شــو اخيســتلای نو لږ تر لږه خپل غم خو بايد وژاړو؟ موږ ته خو لکه ښاغلی لال پاچا ازمون چې وايي هغه خلک هم معلوم دي چې ډېرې وينې يې تويې کړي خو نه يې په شعر کې يادولای شو او نه په نثر کې:

راته معلوم دی، چې همدا دی د ګلونو قاتل
خو د نامه د اخيستلو يې جرئت نه لرو

دا کتــاب د شــعر په ژبــه د افغانســتان او د افغانانو د درد يوه هنــداره ده، په دې کتاب کې له جنگ نه د کرکې په اړه د شــاعرانو شــعري انځورګرۍ، نه خو شعارونه دي او نه هم احصاييوي رپورټونه چې لوستونکو ته دمرګ ژوبلو او ورانيو ارقام ورکړي او يا يې احساساتي

www.sikaraam.com

کړي. په پښتو شعر د جنگ د اغېزو په دې څېړنیز اثر کې به تاسو هغه شعرونه وګورئ چې بېلابېلو شاعرانو په دې وروستیو کلونو کې دجنګ د غمیزې په اړه د نظمونو، ازادو شعرونو او غزلونو په چوکاټ کې لیکلي دي.

هر شــاعر په خپل وار دخپلو سترګو لیدلي تجربې او رواني کیفیتونه په هنري او شاعرانه ژبه شــعر کړې دي، دلیل یې دادی چې شــاعر د ټولنې او هېواد دیوه غړي په توګه ټولنه او هېــواد خپــل وجود ګڼي او هر ټولنیــز او هېوادنی درد تر ټولو دمخه احساســوي، که د افغانســتان په هر ګوټ کې د هر افغان وینه تویه شــوې، نو شــاعر پرې تر هرچا دمخه دیو عاطفــي انســان په توګه اوښــکې څڅولي دي، که هــر چېرته کور او کلی وران شــوی، غر ســوځېدلی او که ښــار شــاعر پرې له زړه نه دردېدلــی. په کتاب کې د شــاعرانو نظمونه په بېلابېلو کټګوریو تقســیم شــوي، دبېلګې په توګه د دېرش کلنــې جګړې د مرګ ژوبلو، مهاجرتونو، بې کوریو، معلولیتونو، ملي شــتمنیو، چاپېریال، فرهنګي میراثونو او ښــوونځیو ته د رســېدلو زیانونو په اړه شــعرونه سره جلا شــوي دي. یوه خبره د یادونې وړ بولم هغه دا چې په دې اثر کې پر راغلیو شعرونو د شعریت، بیان او لفظي ښکلاو له مخې بحث نه دی شــوی، یوازې یې د پیغام خوا څېړل شــوې ده، هیله لرم یوه ورځ زموږ کره کتونکي د جنګ د دورې شــعرونه د لفظي او معنوي ښــکلاو له مخې هم وڅېړي. ددې شــعرونو د څېړلو او راغونډولو یوه موخه دا هم وه چې وښودل شي شاعرانو څومره خپل مسؤولیت ادا کړی دی او د ټولنــې د روڼ انــدو په توګه یې د خلکو په پوهولو کې څومره ونډه اخیســتې ده. زه په دې باور لرم که دا شــعرونه په بله هره ژبه وژباړل شي د نړۍ په هرګوټ کې به لوســتونکو او اورېدونکو ته زموږ د ژوند یو رښــتینی انځور وړاندې کړي او یو شــمېر مهربانه انســانان بــه زمــوږ په درد کې له موږ سره ګډ کړي. لازمه بولم چې همدلته له درانه لیکوال ښــاغلي اسدالله غضنفر نه مننه وکړم چې ددې کتاب لیکلوته یې هڅولی یم اوځان دهېواد دوتلي شاعر پیرمحمد کاروان داحسان پوروړی ګڼم چې دضرورت په وخت کې یې لازمې مشورې راکړې.

د جنګ د پای او د تلپاتې سولې او ارامۍ په هیله
عزت الله شمسزی
کابل- څلورمه کارته

## جنګ او شعر

جنګ یوه داسې پدیده ده چې له انساني ټولنې سره سم روان دی او د انساني عمر په اوږدوالي کې لکه د ورځنیو پېښو له انسان سره پاتې شوی دی. د تاریخي اسنادو پر اساس د بشریت په ټول دېرش زره او پنځه سوه کلن تاریخ کې یوازې شاوخوا ۲۷۰ کلونه پرته له جنګه تېر شوي. دا چې ولې د جنګونو تاریخ دومره اوږد او د سولې وخت لنډ او لږ دی دا نو یوه داسې معما ده چې واضحه ځواب ورته لا نه دی موندل شوی، سبب یې ښایي دا وي چې جنګونه بېلابېل سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او نور دلایل لري چې د ټولنپوهنې او ارواپوهنې د پوهانو له نظره هم کله کله پټ پاتې شوي.

په پخوانیو متنونو کې لولو چې د جنګونو قدامت اساطیرو ته رسېږي او لاملونه یې هم د خپلې بقا لپاره خپلمنځي رقابتونه، له یوه او بل نه په زوره د ځمکو ، اقتصادي منابعو، د سون د موادو، اوبو او خوړو لاسته راوړل دي. انسانانو تل کوښښ کړی چې بل له مخې لرې کړي چې خپله پاتې شي. یانې دا چې د انسانانو په سر کې د ځینو حیواني خویونو، ځان غوښتنې او ځان ساتنې د عناصرو له کبله جنګ په انساني ټولنه کې له پخوا نه موجود و او تر پایه به باقي وي. دلته له دې څېړنې زموږ موخه داده چې جنګ له ارواېي او ټولنیز پلوه څومره شاعران متاثره کړي او دوی د جنګ له موضوع سره څه ډول چلند کړی او بلاخره شعر دیوې ژبنۍ وسیلې په توګه جنګ ته څه ډول انعکاس ورکړی دی. د ځینو پوهانو څېړنې ښیي چې د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې له جنګ سره د شاعرانو چلند متفاوت و او په راتلونکي کې به هم داسې وي، ځکه جنګ د انګېزو پر بنسټ ډول ډول شکلونه لري. د بېلګې په توګه دخپل ننګ، ناموس او هېواد لپاره جنګ، دفاعي جنګونه، تعرضي جنګونه او ان د نړۍ ځینې حیواني جنګونه چې په تاریخونو کې یې زیاتې بېلګې لیدلای شو. موږ دخپل هېواد او د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو په ادبیاتو په ځانګړې ډول شعرونو کې وینو چې د ځینو جنګونو انګېزې مقدسې بلل شوي او شاعرانو په دې جنګونو کې د خپلو ولسونو د کامیابۍ په خاطر په بېلابېلو فورمونو کې شعرونه ویلي، چې ادبپوهانو دغه ډول ادبیات حماسي ادبیات نومولي دي. که د افغانستان موجود تاریخ مطالعه کړو د بې شمېره عقیدوي، دفاعي، خپلمنځي او د نام او ننګ د جنګونو له حکایتونو ډک دی، چې اغېزې یې پر خپلو کلاسیکو ادبیاتو هم وینو. له امیر کروړ رانیولې چې وایي: ( زه یم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نه شته)، تر خوشحال بابا پورې

www.sikaraam.com

د پښــتنو د ګڼو شــاعرانو په شعرونو کې دحماســې ښلابښل چوکاټونه موندلای شو. په هر چــوکاټ کې د وطن او ننګ لپاره تورو وهلو ته ځوانان هځول شــوي. کله کله ان له جنګ سره دغــه متــداوم چاپېریال د پښــتنو مېرمنــو جمالیاتي ذوق هم جنــګ ته راکش کړی دی. په پښــتو لنډیو کې کله کله وینو چې پښــتنو پېغلو توره وهل او د بوړی ټوپک ګرځول دخپلې ښکلا او جمال د خپلولو د شرایطو په توګه وړاندې کړي دي. لنډه دا چې د پښتو په کلاســیک ادب کې د حماسي شعرونو زیاتې بېلګې شته، خو لنډۍ مو بیا په جنګ کې د احساساتو د پارولو له ځانګړنې مالامالې دي:

چې توره نه کړې نور به څه کړې
چې دې شیدې د پښتنې رودلي دینه
تر دې بوړي ټوپک دې جارشم
په اوږه ستا دی کړه زه له خیاله ځمه
جانان به ولې توره نه کړي
تر نیمایي مورچله زه ورسره تلمه
که په میوند کې شهید نه شوې
ګرانه لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

نړیوالوکلاسیکو او معاصرو ادبیاتو کې هم د جنګ په پلوۍ او ناپلوۍ شعرونه لیکل شوي دي. د هند دخلکو په حماسي اثر [مهابهارات] کې چې په سانسکریټ ژبه په ۱۹ کتابونو وېشل شوې او رامایانا چې د هند د جنګیالیو خلکو او د هغوی د جنګونو داستانونه تر موږ رارسوي، په فارسي ژبه لیکل شوي شاهنامه، د بابل په ادبیاتو کې د ګیل ګمش حماسه او د توپان داستان ، د یونان په پخوانیو ادبیاتو کې د ایلیاد او ادیسه حماسي اثار چې یو په بل پسې په زرګونو بیتونو کې لیکل شوي او د پخوانیو جنګیالیو له کارنامو مو خبروي.
لکه پورته چې یادونه وشــوه په پښــتو ادبیاتو کې هم له امیر کــروړه را نیولې تر دې دمه د جنــګ پــه پلوۍ او د جنګیالیو د هڅونې لپاره شــعرونه لیکل کېږي چې په ادبیاتو کې حماسي شعرونه بلل شوي. هغه څه چې موږ یې په خپلو ادبیاتو کې لږ وینو هغه له جنګه شکایت او یا هم د جنګ پر ضد شعرونه دی. ښایي یو څو داسې لنډۍ به ولرو چې :

دلښکرونو ملک ته وایه
په وینو موږ یې که نور غواړې جنګونه

له ګورستانه مې زړه تور دی
ځوانان ستانه کړي رالېږي تش پالنګونه

د تاریخ مطالعه موږ ته راښیي چې نړیوال او زموږ خپل ادبیات که څه هم له جنګ پلویو

www.sikaraam.com

شــعرونو ډک دي خــو کله چې د نړۍ خلک د جنګونو خونــد ويني او خپل اولادونه په کې له لاســه ورکوي نو بيا کله کله په شــعرونو کې له جنګه کرکه هم ليدل کېږي. ((د يونان په ادبياتو کې د يورپېډس په شــهکاره ډرامه { د ټراى د ښــځو انځور} کې وينو هغه يو څو ښــځې چې د يونانيانو په لاس د ټراى د ښــار تر ســوځيدو او ورانيدو وروســته په ټراى کې پاتې دي؛ د جنګ او ورانيو له بدو پايلو څخه د جنګ او تشــدد پر وړاندې وړ عکس العمل ته رسيدلې دي. په دې ښځو کې يوه مجذوبه کساندرا ده، چې زياتره مهال يې وړاندوينې رښتيا کيږي، دا پخپله يوه مکالمه کې ښيرا کوي:))[۱]

داسې پلرونه دې په اور وسوځي
چې خپل زامن جګړې ته نه ستنوي
چې له لاسونو نه يې تورې نه اخلي
هغوى ته نه وايي چې مه وژنئ بې وزله بشر...

په ۱۹ ميلادي پېړۍ کې بيا تر لومړۍ نړيوالې جګړې وروســته د دويمې نړيوالې جګړې پــه دوران کې د جنګ د شــعر په نامه نوى ژانر رامنځته شــو، چې ډېرو شــاعرانو دجنګ د بدمرغيــو په اړه شــعرونه وليکل. د اروپايانو ليکوالو او شــاعرانو پام دې موضوع ته زيات واوښــت چې د حماســو ليکلو پر ځاى څنګه تېر شــوي او روان ناورينونه، بشردوســتي، له جنګه کرکه او داســې نور موضوعات د شعر په ژبه خلکو ته بيان کړي. له هغه وخته راپاتې مشهور شعرونه دجنګ غوښتونکو د حماقت، ليونتوب او تاوانونو په باره کې موږ ته په هنري ژبــه معلومات راکوي. دغه شــعرونه زياتره دمــرګ د تجربو انعکاســوونکي دي او هغه لويه ويره موږ ته راښــيي چې د جنګ په دوران کې او له جنګه وروســته خلک ورسره مخ کېږي. په نړيوالو ادبياتو کې د تولســتوي [ جنګ او ســوله] د شــولوخوف [دن رام ]. د ارنســت همينګــوى [ له وســلې سره خداى پاماني]. د اوريانا فالاچــي [ ژوند جنګ او نور هېڅ] او د ويکتــور هوګو [بينواپان] هغه اثار دي چې دجنګ پر ضد د شــهکار ادبياتو په کتار کې راځي او نړيوالې جايزې يې ګټلي دي.

له نولسمې پېړۍ نه تر شلمې پېړۍ پورې ليکل شويو نړيوالو شعرونو کې د جنګ پر ضد يو شــمېر شــعرونه موندلى شــو، چې يا د جنګ په دوران کې له جنګه کرکه په کې ښکاره شــوې او يا هم په ډېره هنري ژبه خلک هڅول شــوي چې د روان استبداد په مقابل کې په مدني ډول ودرېږي او مقابله ورسره وکړي. دفرانســې اوســنې ملي سرود د جګړې د دوران ديوه خوردظابط شــعر دى. د چلى د ملي شــاعر پابلو نرودا يو شعر په يوه شپه کې په ټوله چلي کې دشبنامې په توګه دجنګ او ظلم پر ضد خپور شو.چې بالاخره د اعدام سبب يې هم شو.موســى جليل تاتارى الاصله شــوروى شاعر د فاشيســتانو او نازيانو په زندانونو کې

www.sikaraam.com

دمقاومت او له جنگ څخه د نفرت شعرونه وویل او د کاغذ دنه موجودیت له امله به یې د زندان پر دیوالونو ولیکل. مایاکوفسکی د شوروی اتحاد مشهور شاعر دجنگ پر ضد خورا ډېر شعرونه لري. د ایران د صادق هدایت او علي شریعتي یو شمېر شعرونه شته چې له جنگه په کې کرکه ښکاره شوې او د همدې هېواد خسرو گلسرخي د مقاومت شاعر بیا درضا شاه په وخت کې په خندا اعدام ته ولاړ او د دار رسۍ یې غاړې ته واچوله.

یو شعر یې دی :

تو رفتی
شهر درتو سوخت
باغ در تو سوخت
اما دو دست جوانت بشارت فردا
هر روز گل می دهد
گلی به سرخی خون.

میرمن گلرخسار د تاجیکستان مشهوره شاعره کلونه کلونه د تاجیکستان د داخلي جنگونو او د جنگ پر ناخوالو او عاملینو د شعر ویلو له امله تبعیده شوې وه.بازار صابر ددغه هیواد بل مشهور شاعر په خپل شعر کې د خلکو د ربښتینو ستونزو او ناخوالو د هنري کولو له امله اوس هم په امریکا کی مهاجر دی.

له جنگه شکایت که د نولسمې نه تر شلمې پېړۍ د گوته په شمار شاعرانو په شعرونو کې لیدل کېده خو په اوسني وخت کې بیا د جنگونو د تباهیو په لیدو د ټولې نړۍ په کچه د زیاتو شاعرانو په شعرونو کې له جنگه کرکه لیدل کېږي. د فلسطین شاعران چې موږ ته ورته ناخوالو او ستونزو سره مخ دي، هره ورځ همداسې شعري او هنري انځورونه خلکو ته وړاندې کوي، دیوې فلسطینۍ نجلکۍ حنان اشراوي یو شهکار شعر چې ښاغلي پیرمحمد کاروان ژباړلی وگورئ چې په څومره هنري ژبه پر اسرایلي سرباز طنز کوي:

زما سرباز
سبا به لرې کاندي
زما له زخم پټۍ
هېڅ نه پوهېږم ښایي پس له سبا
په یوه راپاتې سترگه
د، روغ نارنج نیمایي خوا ووینم
نیمه مڼه ووینم
د مور هم نیمه تنه

www.sikaraam.com

مرمۍ مې ونه لیده
ولې په سر کې مې چې وچاودېده
په درد یې وپوهېدم
تصویر د هغه سرباز
له لوی ټوپکه سره
په لړزېدلو لاسو
تر اوسه هم زما په سر کې ګرځي
او هغه ورځ مې په تړلو سترګو
هغه سرباز ولیده
دده به دا فکر وي
چې ښايي دا خلک په سرونو کې یوه بله
اضافي سترګه لري
کله چې یوه سترګه له لاسه ورکړي
اضافي سترګه په کې ولګوي
تر یوې میاشتې وروسته
زما کلیزه راځي
په همدې ورځ به زه یوه ښیښه یي سترګه لرم
ښايي چې هر څه به زه
ګردي مردي ووینم
څه، پروا نه لري تر دې پخوا مې
دنیا ته ما په ټول قوت کتلي
هرڅه هرڅه عجیب وو
ما اورېدلي چې یو تاند د نهو میاشتو ماشوم
په یوه سترګه ړوند شو
حیران په دې یم چې زما اسراییلي سرباز نو
څنګه سخت زړی و چې باړ یې پر ده وچلاوه
ښه خیر دا زه خو لوی یم
خو دا غریب خو و، تی خوری ماشوم
چې لا تر اوسه یې هېڅ ښکلی شی لیدلی نه و.

همداســې دیو بل فلسطیني شاعر سمیح القاســم شعر ولولئ چې دا هم ښاغلي کاروان ژباړلی، دسفر ټکټونو په نامه:

www.sikaraam.com

د سفر ټکټونه
وي له ورځو يوه ورځ به
او شپېبه به له شپېبو څه داسې راشي
چې دا زه به وژل کېږم
او قاتل به لټوي زما جيبونه
زما جيب کې به پيدا کړي
د سفر څو ټکټونه
يو ټکټ به مې د سولې
او د امن و سفر ته وي اخيستی
په دې بل ټکټ سفر کېږي باران ته
د زرغون ټال تر وزر لاندې زرغونې کروندې ته
په دريم ټکټ سفر په مينه مينه
د بشر د زړه تر تله پورې کېږي
يه زما ګرانه قاتله
هيله ده چې څيرې نه کړې
دا درې واړه ټکټونه
په دې هر يوه ټکټ به
کوې ښکلي سفرونه.

په دې وروســتيو کلونو کې کله چې امريکې پر عراق يرغل وکړ، په خپله د امريکايانو له خوا (www.poetsagainstthewar.org ) په نامه د جنګ پر ضد يو ويب ســايټ جوړ شو، چې په لږ وخت کې د ډېرو هېوادونو شاعرانو د جنګ پر ضد خپل شعرونه دې ويب سايټ ته ولېږل او له دې لارې نشر شول. په دې شعرونو کې داسې شعرونه هم ليدلای شو چې جنګ غوښــتونکو ته د جنګ د کرغېړنو خواو انځورونه په هنري ډول ښــيي او عاطفه يې له چيلنج سره مخ کوي.

د افغانستان د پنځه دېرش کلن جنګ په دوران کې چې زموږ ولس او هېواد ته په مادي او معنوي لحاظ کوم تاوانونه ورســېدل او د روان ناورين له امله مو څومره غميزې وګاللې، زموږ د شــعر او ادب پر محتوا يې هم ژوره اغېزه وکړه. خلکو وليدل چې جنګ دانســانانو، حيواناتو، حشراتو او نباتاتو مرګ دی، جنګ د ښارونو، کليو او باندو ورانېدل او د بدمرغی، بيکاری، ګډوډی او بې عدالتی لامل دی. زموږ د هېواد نارينه او ښځينه شاعرانو د جنګ د کرغېړنــو خــواو په ليدلو هڅه وکړه چې له خپلې ښېســارې مينې او عاطفې نه کار واخلي او د جنګ پر ضد خپل اعتراض وړاندې کړي. ښــايي په شعر کې لا هم زموږ د هېواد دغه تراژيدي په ســمه توګه تمثيل شــوې نه وي، خو لږ تر لږه دومره وشــو چې په پښتو ادبياتو

www.sikaraam.com

په ځانګړي ډول شـــعر کې له جنګ نه کرکه پيدا شـــوه او د جنګ پر بېلابېلو خواو شعرونه وليکل شول:

د سرو لمبو د غرغرو له زوره نه دي خبر
هغوی چې جنګ غواړي د جنګ له اوره نه دي خبر
( صاحب شاه صابر، قامتونه قيامتونه)

ګلاب ګلاب ليمې رانه په سرو وينو کې ورې
ميرات شې ځوانيمرګ شې مړ شې جنګه ځوانيمرګه

( شرر ساپی، ناچاپ اثر)

لنډه دا چې نړيوالو ادبياتو او د افغانســـتان اوســـنۍ شاعري دا خبره په ازبات رسوي چې يوويشـــتمه پېړۍ نور د قهرمان جوړونې پېړۍ نه ده چې شاعران په خپلو شعرونو قهرمانان جوړ کړي، ديوويشـــتمې پېړۍ په شـــاعرۍ کې هغه څه زيات دي چې انســـانان ورسره په ورځنـــي ژونـــد کې مخ کېـــږي. دوی پوهېږي چـــې جنګ بايد وغنـــدل شي، ځکه جنګ د انسانانو اخلاقو ته تغيير ورکوي. ارنست همينګوی په خپل يوه اثر (زنګونه د چا لپاره چيغې وهي) کې دا مسٔله په ښه ډول تشريح کړې ده چې جنګ ارزښتونه تباه کوي او انسانان د بدمرغۍ پر لوري راکاږي. دده په نظر په يوه هېواد کې چې هرڅومره جنګ جګړې زياتېږي نو زياتره انســـانان په دغو جنګي حالاتو کې په مجرمينو بدلېږي چې بيا ټول عمر د ځينو عقدو له کبله د بدۍ او کرکې خواته تمايل ښيي او ډېری ليدل کېږي چې همدغه انسانان پـــه ډله ييزو وژنو او نورو بېســـارو جنايتونـــو لاس پورې کوي. داسي کرغيـــړن حالات او له ناخوالو ډک ژوند بيا د شاعر احساس نه شي زغملی نو ځکه خو وايي:

چې چرته شرشي چرته جنګ غوندې شي
وجودمې سترې زړه مې تنګ غوندې شي
شي را په ياد د چا خالي لاسونه
چرته چې هم د بنګړو شړنګ غوندې شي
محبت زړه ساتي د ناوې غوندې
په نفرتونو کښې زړه زنګ غوندې شي

(عثمان علی عثمان)

ځوان شـــاعر احسان الله جرس چې دجنګ کلونو ځورولی، د جنګ د ناخوالو سيلاب په مخه کړی، حيران دی چې دا ســـيلاب به يې اخر کومـــې خواته يوسي، دی خپل همزولي ويني چې د سپوږمۍ کلي ته ور ننوځي، خو دده ګامونه هره ورځ د سپوږمۍ له رڼا نه لرې

www.sikaraam.com

کېږي او لا هم په دې ویره کې دی چې دا نامعلوم جنګ به یې اخر کومې خواته بوځي. دجنګ بدو ناخوالو دې حالت ته راوستی چې اوس د ښکلوسترګو د جنګ تاب هم نه لري، دی وایي:

له ډېره وخته وخت د چا په تمه کړې یو موږ
وخت د سپوږمۍ له کلي څومره لرې وړي یو موږ
ښکلیه و سترګو ته هم نیغ په نیغه مه راګوره
قسم په خدای دی چې له جنګه څخه ستړي یو موږ
خدای خبر کوم لور یو روان خو بس په ورکو درومو
خدایزده د جنګ سیلاب وکوم لوري ته وړي یو موږ
دا مرغلرې به نور خدای خبر دانه وانه کړئ
رب مو تړلي د ښکلا په داسې پړي یو موږ
جرسه نور په دې تیارو پسې ډېوه راواخله
ځکه چې اوس هم د رڼا زیات پوروړي یو موږ

د پارسي ژبې یو لیکوال شهرنوش په خپله مقاله ( "تو هیچ گپ نزن" در متن ادبیات جنګ) کې لیکي: " چې جنګ لوی مصیبت دی او ادبیات بیا ددغه مصیبت داسې راوي دی چې د خبرنګارانو، عکاسانو او تاریخ لیکونکو بر عکس مخاطب پوښتنې کولو، انتقاد کولو او قضاوت ته هڅوي، د جنګ ادبیات د انسانانو له تاریخ او اروا سره ډېرې نږدې اړیکې لري، دجنګ ادبیات په تاریخ کې ډېره مخینه لري چې ډېر وخت د لیکوالو او شاعرانو سوژه ګرځېدلې، جنګ د نړۍ د مشهورو لیکوالو لکه تولستوی، ارنست همینګوی، برتولت برشت، مارګیت میچل، مارګیت دوراس، کلود سیمون، ژان ژیرودو، میخایل شولوخوف، ارنست یونګر، اشتفان تسوایګ، توماس مان، ګونتر ګراس او نورو په اثارو کې لیدل شوی او دا سلسله تر نن ورځې پورې دوام لري، لکه څنګه چې د نړۍ د جنګونو پای نه شته همداسې به یې په ادبیاتو کې ذکر هم پای ونه لري." هغه څه چې مهم دي هغه دا دي چې دجنګ روایتونه، کرغېړنې خواوې او ناخوالې باید ولسونو ته په هنرونو کې وښودل شي، کله چې جنګ په یوه هېواد کې پای مومي او بل نسل د سولې او سوکالۍ په فضا کې ژوند کوي، نو بیا هغوی نه شي کولی د ننني انسان ستونزې په خپل ذهن کې مجسم کړي او اثار ورته وپنځوي، دا د همدې ننني لیکوال او شاعر دنده ده چې د نن ورځې پېښې سباني نسل ته خوندي کړي او په هنري ژبه ورته د مینې او عاطفې سندرې ووایي. ددوی دغه سندرې به د راتلونکو نسلونو په ذهن کې یو نوی بصیرت او لیدلوری ایجاد کړي.

www.sikaraam.com

## د جنګ د شعر موضوعات او مضامين

جنـــګ په بشريت کې د وحشـــت، ذلت، فقر او بدمرغۍ طاعـــون زېږوي دجنګ په حالت کې ټولنه زيات ارزښـــتونه له لاســـه ورکوي، د انسان کرامت تر پښو لاندې کېږي ، بيکاري، بـــې عدالتي، ګډوډي او ډول ډول نورې ســـتونزې په ټولنه کـــې زياتېږي. له دې سره سره پـــر کومه ســـيمه، هېواد او خلکو چې جنګ روان وي نو د هېـــواد له تباهۍ سره سره يې د خلکو احساســـات هم ژوبل شي، په نظمونو او ســـندرو کې يې د وينو رنګ ښـــکاري او له غزلو نه يې د بارودو بوی پورته کېږي. د افغانســـتان د پنځه دېرش کلنې غمېزې په لومړيو لســـو کلونو کې د جنګ له ډول ډول کړاوونو او دردونو نه په تاثر پښـــتو شعر هم يوې نوې مرحلې ته داخل شـــو، د جنګ ناخوالو او بدمرغيو د يو شـــمېر شاعرانو احساسات زخمي کړل او دې ته يې پام شـــو چې شـــعر يوازې د رباب او منګي، ګل او بلبل ذکر نه دی، بلکې ټولنيـــز نقـــش هم لري چې د يو ولس د ژوند ژواک، دود او دســـتور، ژبې، هنرونو، جذبو او احساساتو، ناخوالو او دردونو هنري تصويرونه په ځان کې رانغاړلی شي. يو شمېر شعرونه چې د دېرش کلن تپل شوي جنګ په دوران کې ليکل شوي شاعر يې راته د خپلې زمانې او خپل چاپېريال احساسات، تجربې، فريادونه او چيغې په شعرونو کې انځور کړي او هڅه يې کړې د ســـياسي، احساساتي او شعاري خبرو نه ځان لرې وساتي او پر ځای يې د شعر د هنر له بېلابېلو ابعادو نه په اســـتفادې سره خپل ولس ته په هنري ژبه دجنګ بدمرغۍ بيان کړي. هغو ټولو تحولاتو ته چې په دې تېرو کلونو کې افغانستان ورسره مخ شو او خلکو يـــې ډول ډول رنځونـــه، دردونه، مصيبتونـــه او تراژيدۍ وليدلې، نو شـــاعرانو يې هم ددغو ټولنيزو پېښـــو نه په تاثر ګام په ګام مخ پر وړاندې لاړل او داســـې شعرونه يې وپنځول چې له محتوا نه يې د ولس د دردونو او ناخوالو اواز اورېدل کېږي.

په جنګ کې زموږ دغه تريخ برخليک که د نړيوالو تاړاکونه وو او يا که زموږ خپلمېنځي او دا اوســـنۍ را تپل شـــوی جنګ، زموږ د شاعر شعر په کې لکه يوه پرېشانه او ټپي الوتونکي د بې رحميو په ګڼه ګونه کې وزرې رپولې، د اور، وســـپنو او وينو د ســـيلاب په منځ کې يې مزل کاوه او د هنرپالنې ترڅنګ يې خپل ټولنيز رول هم لوباوه. ددغې دورې شـــعرونو ته ښايي زموږ ښاغلي کره کتونکي تر جنګه وروسته مناسب نوم پيدا کړي، خو زه يې د ولس د ناخوالو، بدمرغيو، اعتراضونو او ناهيليو شعر ګڼم.

زمـــوږ د هېـــواد په معاصرو جنګونو کې که د خپلواکۍ او وطن نه د دفاع جنګونه وو او که

www.sikaraam.com

خپلمنځي او یا دا اوســنۍ تپل شــوی جنګ دی شــاعرانو ته یې یو نوی لیدلوری ورکړ، د محتــوا او مضمــون له مخې یې یوه نوې فضا ایجاده کړه او بېلابېلو خواو ته یې د شــاعرانو او لیکوالو پام واوښــت . دجنګ له ورځنیو پېښــو نه په تاثر د جنګ له تباهیو څخه د خلکو دخبرولو په موخه په هېواد کې دننه او تر هېواده بهر د شعر په ژبه د جنګ دکرغېړنو خواو هنري انځورګري پیل شوه او یوه ډله لیکوالو، شاعرانو په ادب کې د تصنع پر ځای ټولنیزو واقعیتونو او د ژوند انځورګرۍ ته پام واړاوه. په شعر کې د جنګ د ناخوالو پر بېلابېلو پېښو لســګونه شــعرونه ولیکل شول او که د چا په بنو کې د اوښــکو یوه څاڅکه هم ښکاره شوه شاعر هغه څاڅکه په خپل بیت کې راپورته کړه او نور ولس یې ترې خبر کړ.

پــه دغــه اثر کې چې د جنــګ د بدمرغیو او ناخوالو نه راپنځېدلي شــعرونه د لفظي او صنعتي ښــکلاو له پلوه نه دي ځېړل شــوي، دلته یوازې هغه غړونه را اخیستل شوي چې زیات درد او عاطفه لري او د خپل ولس ښه استازیتوب یې کړی. زموږ په دغه ویر او کړاو به د دنیا ډېرو خلکو ژړلي وي، خو زموږ د شــاعر غږ په کې داسې څرګند دی لکه دجنازې په شاوخوا چې د مړي د نږدې خپلوانو غږونه له ورایه ښکاري. خوشحال بابا وایي:

د خوشحال اواز په ټولو کې څرګند دی<br>
لکه غږ د ویرژلی په ګڼ ویر کې

همــدا راز کــه د جنګ د ناخوالو شــعرونه د ټولنیزوالي له پلوه پــه ژوره توګه وځېړل شي نو ګڼ موضوعات په کې لیدلای شــو، دا په دې چې زموږ شــاعران د دردونو په متن او د ټولنیزو پېښو په زړه کې اوسېږي، که څوک وغواړي د دوی د شعرونو ټولې ټولنیزې خواوې وڅېړي نو زیات وخت ورته پکار دی ځکه د هېواد د وتلي کیسه لیکوال ښاغلي سعدالدین شپون په وینا چې خپلې مور ته یې په یوه شعر کې لیکلي موږ خو یو غم ونه لیدو چې هېر یې کړو او یا مو پر یوه غم شاعري کړې وي، موږ په ملیونونو او لکونو ناخوالې ولیدلې:

یو نیم ملیون ځوانان مې په وطن کې شهیدان دي<br>
یو نیم شپږ شلې نه دي چې په ګوتو دې شمارلې<br>
یو نیم ملیون لس لکه دي پنځه لکه پرې باندې<br>
یو نیم ملیون غاټول که د بکوا پر دښته شنه شي<br>
دا دښت به سور چکن شي زرغونه رڼا به کاندي

ښاغلي شپون خپلې مور ته په هماغه کلیواله لهجه وایي چې زما دردونه شپږ شلې نه دي چې هېر شي. د جنګ د شعر موضوعات او د ناخوالو نه شکایتونه هم دومره کم نه دي چې

www.sikaraam.com

ټـول دې پـه يوه کتاب کې ځای شي. په دې اثر کې به يـوازې پر لاندې موضوعاتو ليکل شوي شعرونه په اجمالي او سر سري ډول تحليل کړم.

- تحميلي جنګ او افغانان
- انساني تلفات او ورانۍ
- مهاجرتونه او رواني تکليفونه
- ملي، فرهنګي شتمنيو او چاپېريال ته اوښتي زيانونه
- د ماشومانو متاثره کېدل او دښوونځيو سوځېدل
- په شعر کې د ورځنيو پېښو تصويرونه
- په شعر کې د جنګ اصطلاحات
- د جنګ د دوام په اړه اندېښنې
- له جنګه کرکه او د سولې هيلې

www.sikaraam.com

## تحمیلي جنګ او افغانان

لا یو شور راځینې لاړ نه وي بل راشي
مګر زه پیدا په ورځ د شر او شور یم
(خوشحال بابا)

د افغانستان جغرافیایي موقعیت ددې سبب شوی چې هر وخت پرې د زمانې فرعونان تاړاکونه وکړي او دا هېواد دې ته اړ کړي چې له ځانه دفاع وکړي، خلک یې ځانونه قرباني کـړي، معیوبین او معلولین شي، ښـارونه او کلي یې تبـاه شي او ډول ډول نورې ناخوالې وزغمي. د ښاغلي استاد الفت په وینا:

نه ارسطو نه اپلاتون کله راغلی دلته
له هرې خوا توره ایستلی سکندر راغلی

د اروابنـاد ګل پاچا الفت په وینا هېڅکله مو ارسـطو او اپلاتون ونه لید چې دې سـیمې تـه د علم او پوهې د خپراوي لپـاره راغلی وي، هر کله چې راځي نو زموږ د ولس د مینې، سـوکالۍ او ارامۍ دښـمن چنګیز، تیمور او نور یرغلګر به راځي او هغه هم له ویستلو تورو او قهرجنو سترګو سره، د اوسني عصر د بې کتابه یرغلګرو او مداخله ګرو د لاسوهنو، ورانیو او ظلمونو په لیدو ښاغلي نورالحبیب نثار څه ښه ویلي:

که له امو راغلی که له پنجاب راغلی
د انقلاب په نامه خانه خراب راغلی
زموږ د ژوند سیمه یې زیر وزبر کړه همه
یو له رواجه بهر بل بې کتاب راغلی

که د افغانسـتان لنډ تاریخ ته وګورو داسـې جنګونه په کې په ندرت سره موندلای شـو چـې افغانانـو پیل کړې وي، تل جنګونه د نړۍ نور زورواکـي پیل کوي او اجنډا یې هم تر

www.sikaraam.com

افغانســتان د باندې جوړېږي. د خوشحال بابا خبره یو شور مو لا له سره لاړ نه وي چې بل راشي، یو یرغلګر رانه تللی نه وي چې بل پر موږ یرغل کوي. جنګ د نړیوالو قدرتونو ترمنځ وي، خو افغانســتان د میدان او افغانان د جنګ د ســون د موادو په توګه کارول کېږي. د جنګ د غه لوبه که پایله یې هرڅوک ګټي خو سرونه به په میدان کې د افغانانو دلی وي. د ښــاغلي مطیع الله تراب خبره هغه ځوک چې دخپلو ماشومانو د ډوډۍ، کالیو او درملو لپاره پیســې نه لري او یوې مړۍ روزۍ ته حیران دي هغه څنګه کولای شي چې د دومره اوږدو جنګونو لپاره وسلې او مرمۍ پیدا کړي:

مونږه جنګ نه کوو، خو جنګ په موږ راوتپل شي
د پلار نیکه د شملې ننګ په موږ را وتپل شي
جنګ په غله جنګ په وسله اوږده لاسونه غواړي
جنګ پرمختللی اقتصاد جهاز او ټانکونه غواړي

د شــاعر په قول په دا تېرو څو کلونو کې زموږ خویندې د پردیو دوکانونو مخې ته ســوال کوي، ماشــومان مو پــه لارو او کوڅو کې هرچا ته د ســوال لمنه غوړولــې وي، په دې مَړه دیموکراســۍ کې هم مــوږ له لوږې مرو، نو موږ به څنګه جنګ غــواړو، جنګ خو په غله او په وســله کېږي او جنګ خو پرمختللی اقتصاد غواړي. زمــوږ د هېواد د دولتي مامورینو د معاش ۳۵ فیصده همدا اوس نورهېوادونه تمویلوي او پرمختیایي بودجه خو مو لا ســل په ســلو کې له نورو ځایونو راځي، نو لنډه دا هغه ولس او هېواد چې خپلو عسکرو او مامورینو ته پیســې نه شي ورکولی نو هغــه به د جنګ لپاره تجهیزات له کومــه کړي. د پورتنیو دوو شــاعرانو شــعرونه که څه هم د بیان د صنعت په ډېرو لوازمو نه دي ســینګار شوي، مګر د ټولنې د احساساتو، اعتراضونو او ګیلو انځورګري یې په ډېره ساده ژبه او ښکلي انداز کړې ده.

په تېرو درېیو لســیزو جګړو کې موږ ولیدل چې هر چاپه افغانســتان کې خپل مقاصد او خپلې ګټې درلودې، یوازې افغانان و چې ټول حقونه یې تر پښو لاندې شول او له دوه نیم میلیونو نه زیات په جګړو کې ووژل شول، په لکونو معلول شول، له پینځو میلیونو نه زیات بهرنیو ملکونو ته مهاجر شول او په لکونو داخلي مهاجرت ته اړ شول. د اور او وسپنو په دې سیلاب کې د افغانستان ټول بنسټونه تخریب شول، کلي یې وران شول او د تاوتریخوالي پېښــې ورځ تر بلې زیاتېږي. دجنګ ګټه که هر چا ته ورســېده او یا رســېږي خو د تاوان لوری ښکاره دی:

جنګ د غریب وي که د خان تاوان یې موږ ته رسي
کلی زموږ شي په کې وران تاوان یې موږ ته رسي

www.sikaraam.com

د اور او وسپنو سیلاب زموږ په سیمه تېر شي
ګټه ترې واخلي رقیبان تاوان یې موږ ته رسي

لکه څنګه چې پورته ذکر شوی چې دا جنګ پر دی جنګ دی او یوازې تاوان یې موږ ته رسېږي، همداسې د افغانستان د غمیزو په پیل کې خدایي خدمتګار باچاخان هم ویلي و چې دا جنګ زموږ نه دی. هغو رهبرانو چې څو کاله یې په خپلو کې جګړې وکړې او زیات شمېر بې ګناه انسانان یې شهیدان او معلول کړل هغوی هم اوس چیغې وهي چې دا جنګ زموږ نه و. نړیوال پوهېږي چې افغانان جنګ غوښتونکي نه دي او نه یې هم د نورو هېوادونو په کارونو کې مداخله کړې، خو بیا هم د نړۍ لوی طاقتونه دوی جنګ ته راکاږي، ددوی نه لښکرې جوړوي، وسلې ورکوي، د خپلو وسلو د کاروبار بازار ګرموي، په جنګ کې خپله ګټه ویني، خو سرونه په کې د پښتنو خاورې کېږي، اروابناد صاحب شاه صابر د یو پښتون سیاستوال او شاعر په توګه په دې راز خبر و چې پښتون یوازې د جنګ دګرمولو وسیله ده، د جنګ قومانده هم د بل په لاس کې ده او رهبري یې هم. هغه وایي:

څوک یې اشرو له بلي څوک ترې لښکر جوړوي
هر زورور د پښتنو لپاره شر جوړوي
د پښتنو ځمکه به څه فصلونه و ټوکوي
څوک په کې جنګ جوړوي څوک په کې سنګر جوړوي

ډېرو ځوانو شاعرانو هم ځای ځای په خپلو غزلونو کې همدې تپل شویو جګړو ته په اشاره پوښتنه کړې چې دا جنګ په موږ چا شروع کړی دی؟ ایا دا جنګ زموږ دی او که نه؟ دوی وینــي چــې په هېواد کې یې دخلکو چیغې او کریکې دي چې د ډزو او لوګیو له امله پورته کېــږي. د جګــړو لمبې او لوخــړې لیدل کېږي چې د باد په څېر هــره خوا په منډه دي او لاپســې خورېږي. د جنګ د لمبو په دې توپان کې شــاعر اوسني شاعر نه هم کله کله تور او ســپین ورک شي، یوازې دومره پوهېږي چې ولس یــې وژل کېږي، ژوبلېږي او بې کوره کېږي، نو دلته ده چې د سمبولونو او استعارو په ژبه پوښتنه کوي:

بیا د چا له خوا د چا په داد جګړه روانه ده
ډزي دي، لوګي دي، لکه باد جګړه روانه ده
دا پر کندهار او هلمند پایله د بمبار شوه چې
اوس مې پر کرار جلال اباد جګړه روانه ده

( د شعرونو ناچاپ اثر، ارشاد رغاند)

www.sikaraam.com

دجنګونو په لمبو کې سـوځېدلي شـاعران اکثره حیران دی چې ولــې د نړۍ ځواکمن قوتونه دیوه غریب او وروســته پاتې هېواد له غرونو، ســیندونو او هوا سره په جنګ دي، دا قــوم خــو د جنګ لپاره هېڅ هم نه لري او نه یې جنګ غوښــتی. ددوی په باور هغه څوک چې افغانان جنګ ته راکاږي، که نور هېڅ هم نه وي د افغاني میندو دعا او ښــېرو سره به خامخا مخامخ شي:

ناپوهه چې کېوتي دي له ما سره په جنګ
کېوتي دي د میندو له دعا سره په جنګ
دا ولې وي زموږه په دې خاوره هر سړی
له غرونو، له سیندونو له هوا سره په جنګ
ډېر خلک د غلیم پر ځای اخته دي دلته اوس
د خپلو تقاضاوو له بلا سره په جنګ
له سترګو د تمیز د تښتولو په غرض
څوک اچوي هنداري او رڼا سره په جنګ؟
ها مخامخ خو هسې هم د سر قاتل ګڼې
دا دوه چې سره ناست دي خوا تر خوا سره په جنګ
ملګریو په مردارو اوبو نه کېږي اودس
په خدای که مو کیسه کړله صفا سره په جنګ

دخپل عصر دنورو دردېدلو شــاعرانو په څېر مفکر شــاعر ښاغلی درویش دراني هم درک کــړي چــې موږ لکه چې همدې توپانونو زغملو ته پیــدا یو، یو جنګ مو لا هېر نه وي چې دنیا بل جنګ راباندې وتپي، له یوه ښــکیلاکګر سره مو ډېره خلاصه نه وي چې بل راشي، د یوه توپان ناخوالې مو هېرې نه وي چې بل توپان مو د غنمو وږي په تنکۍ ځوانۍ کې وریبي. دی دعا کوي چې کاش دا ځل مو غنم دمار سرونه وکړي چې دغاصبانو لاســونو ته ټک ورکړي:

وږي یې هسې هم غاصب همېشه وړي په زوره
کاشکې دا ځل زموږ غنم وکړي د مارسرونه

ښــاغلی شمس الدین شــمس هم دې موضوع ته په خپلو شعرونو کې پاملرنه کړې ، دی هم روان جنګ کې د افغانانو ښــکېلتیا یو تپل شوی جنګ ګڼي او وایي چې پخپله خوښه هېڅــوک هم د لمبو خواته نه ځــي. دده په اندافغانان په یوه دفاعي جګړه کې بوخت دي

www.sikaraam.com

او د زمانــې زورزیاتــی یې دې تــه مجبوروي چې انقلاب رامنځته کــړي او هم خپل انتقام واخلي:

زه په خپله خوښه نه ورځم لمبو ته
ترخې پېښې دي سیلاب ته مې راکاږي
په لمبو باندې له شوقه نه ورخېژم
ظلم زور دی انقلاب ته مې راکاږي
او یا هم :
زور زیاتی د زمانې د زورورو
پښتانه د انتقام خواته راکاږي

ددغــه نامعلوم جنــګ شپې ورځ تر بلې خورېږي او قرباني یې هــره ورځ تر بلې زیاتېږي. پرنــګ وتلی نه وي، چې روس راشي هغــه بیا وتلی نه وي چې ګاونډیان مو مداخلې شروع کــړي، امریکا راشي او پردې مظلوم ولس هرڅوک هره جنګي وســیله چې لري ازمایي. د هېواد یو وتلی شــاعر عبدالمالک بېکســیار همدې ناپایو جنګونو ته په اشاره وایي چې اخر افغانان به تر کومه په دغو جنګونو کې سوځي او له خپله قومه پوښتنه کوي چې ایا تر عمره عمره له جنګ سره جنګ کېږي او که نه؟ د وخت څپو سره دا جنګ به اخر څه پایلې ولري او که همداسې به پسې غځېږي:

د ژوند څپو سره په جنګ دوخت غورځنګ سره جنګ
جانانه کله شي تر عمره عمره جنګ سره جنګ
چاوی تاریخ دی ما خو بل څه په کې ونه لوستل
بس نن له روس، نن امریکې، نن له پرنګ سره جنګ

وایي ښه شعر هغه دی چې د خپل وخت پېښې په ځان کې خوندي کړي، شرر ساپی هم چې کله په خپل باغ کې د جنګ له لاسه د ګلانو رژېدل لیدلي، د هرې شهیدې پاڼې په ویر یې ژړلي او له درده یې چیغه کړې چې:

بیا په یوه ګل پسې لښکرې راوتلې وې
بیا یې په وحشي سروکې ښکرې راوتلې وې
بیا یې په ګلپاڼو د ټوپک چارجرې تشې کړې
بیا ډکې کېنې ډکې چارجرې راوتلې وې

www.sikaraam.com

دا معصوم لاسونه د ا په وینو لېمې نه وینئ؟
سترګې وخورئ وګورئ ګل، ګل جنازې نه وینئ؟
دا له شوره ډک سرونه ستړي شول که څنګه شو؟
دا په جنتې روحونو بلې لمبې نه وینئ؟

ټیټ مو دې سرونه ((خورکۍ)) څومره بدرنګه یو
شرم دی چې ووایو زیاتې ستړي له جنګه یو
ستا معصومو کړیکو چې لمبه نه کړو بې ننګه یو
ښکته راپریوتي ټول د شرم له ګړنګه یو

بیا مېوندي خاوره د ملالې پېغور ونیوه
بیا دا پښتني جذبه په غیره کې شور ونیوه

رغړي به ککري اوس به غچ وي انتقام به وي
شپه به وي، تیاره به وي، سهار به وي،ماښام به وي
اوس به دا باغي ککرۍ بیا له شوره ډکې شي
نه به چاته سر ټیټ وي او نه دا حترام به وي

دا لیونۍ خاوره به په مړو باندې ډکه شي
کلی او کوڅه به په سرګړو باندې ډکه شي
شنه به د تاریخ په دې سېنې شي د کینې زړې
هره یوه سینه به په دې زړو باندې ډکه شي

په پورته شــعر کې مو ولوستل چې شرر ساپې په استعاري او کنایي ژبه راته د خپل وطن د ورانېدلو کیســه کوله. دا کیســه په هنري ژبه وه، له لوڅو او شعاري خبرو نه په کې ډډه شوې، ده په ډېر هنري انداز د خپل وطن او خپل ولس دغه لویه ناخواله د تاریخ په سینه کې ثبت کړې او خپلو مخاطبینو ته یې په ګل پســې د ښکرورو لښکرو د راوتلو او دیوه باغ د رژېدلو په ویر کې ژړلي، مګر په دې وطن کې داســې افغانان هم وو چې د همدې ګل رژوونکو لښکرو سره مل شول او په خپل هېواد یې په شعوري او ناشعوري توګه لوبې وکړې. دغه ډول خلک څه له یرغل کوونکو سره ودرېدل او څه د هېواد د ســاتونکو او مدافعینو په ډلــه کې ولاړ وو، مګر هغه چې د دفاع چاره یې په غاړه واخیســته، معلومه ده چې دې کار ته مجبور شول، خو هغوی چې د نورو لپاره وجنګېدل دوی ښایي په دې نه پوهېدل چې

جنـــګ دبل دی، ګټــه به یې بل اخلي او تاوان به یې دده اولادونو ته رســېږي. په پای کې د جنګ له لاســه له داســې بدمرغیو سره مخ شول چې دوی یې خپله هم پیش بیني نه وه کړې. هغه د رحمان بابا خبره: کوهی مه کنه د بل سړي په لار کې – چېرې ستا به د کوهي پر غاړه لار شي. دوی که د خلکو کورونه ســوځولي وو نو خپل کورونه یې هم وســوځېدل، که د خلکو اولادونو یې یتیمان کړي وو نو خپل اولادونه یې هم تر یتیمانو بدتر شول، که د نورو کونډې یې د سوال کاسې ته کېنولې وې نو خپلې قدرمنې مېرمنې یې هم پر ګردجنو سړکونو د نورو په لوکسو موټرو پسې منډې ووهلې. دا که هرڅه وو، دلیل کې زموږ ناپوهي وه او که د نړۍ بې انصافي، خو پایله دا شوه چې دې جنګونو یو د بل دښمنان کړو او په یوه او بل یې ووژلو. د جنګ په لمبو کې لوی شوی شاعر نذیر احمد نذیر دجنګ د یوه پیاوړي قوماندان دحالت په لیدلو متاثره کېږي او دده د ژوند تصویر راته داسې بیانوي:

اوس د جنګ د لومړۍ کرښې رهبر نه یم
اوس د خپل دښمن د قبر مینجور یم
په جګړو باندې مین له جګړې موړ یم
دعیشو واکدار اوس هره شپه نهر یم

اوس مې ګوتې د ټوپک په ماشې نه دي
اوس مې لاس د لاروي په لور اوږده دي
اوس د لوند لرګي د اور تاوونه نه شته
اوس د واټ په غاړه ناست یمه سوالګر یم

اوس مې سترګې ددښمن څارنه نه کړي
اوس د سره صلیب لکړو ته محتاج یم
اوس نو شپه د مایوسیو راپسې ده
اوس د ورځې پای، ناکامه مازیګر یم

اوس مې واک کې د ښار ښکلي غالۍ نه شته
اوس د چا د لاس نښان او ډالۍ نه شته
اوس مې ښځې طلایي امیل پلورلی
اوس بې کوره او بې اوره در په در یم

اوس مې زړه له ټولو خلکو ځینې تور دی

www.sikaraam.com

اوس د چا په زړه کې ټکی رحم نه شته
اوس زما بچیان زما په خاطر وژني
اوس زه خپلو ماشومانو ته خطر یم

اوس ددوی جیبونه ډک دي له پیسو نه
خو زه یوې عادي روپۍ ته ماما وایم
لکه ماته به چې ویل مجبورو خلکو
اوس زه بل ته په دروغ او رښتیا وایم

ډېر افسوس دی! چې وروستی عقل ړومبی وای
زما به هم لکه د نورو خزانې وای
اوس به هر سپي او سړي ته محتاج نه وم
په اسمان به مې د ستورو خزانې وای.

شـــاعران په ځانګړي ډول هغه چې د اوســـنیو جنګونو بدمرغۍ یې په خپلو سترګو لیدلي نو د ټیکنالوژۍ په دې عصر کې چې نړۍ یې کلی ګرځولی او انسانان یې یو بل ته نږدې کړي جنګ نه کرکه ښـــکاره کوي. په خپلو شـــعرونو کې په انســـاني ژبه خلکو ته د مینې او محبت دعوت ورکوي او د انســـان نېکمرغي او ســـوکالۍ ته د نړۍ دهغو زورورو پام ور اړوي چـــې وخت ناوخته په دې نړیوال کلي کې جنګونه جـــوړوي. هغوی ته دا ور په یادوي چې دنیا اوسمهال د ټولو انسانانو شریک کلی دی، زموږ په دې شریک کلي کې شر مه جوړوئ. هر هغه څه چې د انســـان د بدبختۍ سبب ګرځي که هغه اټم بم وي او که توپ او الوتکې له هغوی نه د انســـاني ټولنې د ګډوډلو په خاطر کار مه اخلئ. دنیاوال سولې ته رابولي او غوښـــتنه ترې کوي چې دا د نازونو نړۍ باید بدرنګه نه کړي او انســـان بېرته د کاڼو دور ته ونه ګرځوي. د ښاغلي اکبر سیال همدغسې یو شعر به ولولو:

په دنیا حکم چلوونکو خلکو
د اټوم بم طاقت لرونکو خلکو
دنیا زمونږه یو شریک کلی دی
زموږ په کلي کې شر مه جوړوئ

دخپل حرص او د هوس په خاطر
ژوند له سنګینه سزا مه ورکوئ

دنوي ژوند د نوي فکر په ټال
د غلامۍ تصور مه زنګوئ

موږه خوبونو له تصوير جوړوو
زموږ د لاسه قلم مه غورځوئ
د رنګ او نور د ښکلا ډکه دنيا
لوګي لوګي فضا کې مه بدلوئ

دا د ګلونو ماشومانو زانګو
د سرو بارودو په ډېر مه دروئ
دا د نازونو اداګانو نړۍ
د بدرنګۍ په دوړو مه خړوئ

سفر په ګلو د لمبو چې کوي
داسې جازونو ته لار مه ورکوئ
د انساني عظمت نه ډکه دنيا
دغار او غر دور ته مه ستنوئ

د اټوم بم طاقت لرونکو خلکو
ځان ته په خپله خپل ژوند مه لنډوئ
دنيا زمونږه يو شريک کلی دی
زموږ په کلي کې شر مه جوړوئ.

دوی پــه خپل شــعر کې هغو هېوادونو ته چې جنګ پر مــوږ تحميلوي دا هم وايي چې د دنيا د ابادۍ دعوې مو بې بنســټه او دروغ دي، تر هغې چې زموږ کورونه ورانوئ تر هغې به دنيا هم نا ارامه وي او خلک به مو په خبرو باور نه کوي، تر هغې چې موږ ښــه ژوند ونه لرو، موږ بې کوره يو، موږ بې جامو او کاليو وږي تږي او فقيران يو، موږ ستاســې د جنګونو قربانيان يو او هره ورځ مرو نو ستاســې د ســولې، امن، ابادۍ او دموکراســۍ چيغې به هم ځای ونه نيسي:

پېښور او کابل دواړه دوه ياران دي
لکه دوه سترګې په يو مخ د جانان دي

د دنیا د ابادۍ دعوې دروغ دي
چې تر څو د پښتنو کورونه وران دي

"رحمت شاه سایل"

دوی نړیوالو ته په خپلو شعرونو کې په هنري ژبه پیغام ورکوي، که چېرې غواړئ چې دنیا ارامه شي نو دخپلو ماشومانو په څېر زموږ ماشومان هم د جنګونو له اوره لرې وساتئ، دوی هم ښوونځي ته ولېږئ او دوی ته هم یو سوکاله ژوند وغواړئ:

که امن مو په کار وي شرپسندو نړیوالو
زما د بچي شا ته هم بکسه ساتل په کار دي

که یو شاعر له دنیا نه په خپل هېواد کې د امن خیرات غواړي او وایي چې زما د ماشوم په شا هم بکسه وتړئ چې ښوونځي ته لاړشي نو بل شاعر مصطفی سالک ورته د خپل هېواد د ښایسته فطرت یوه ښکلې تابلو مخې ته ږدي. هغوی ته چې افغانان یوازې شرخوښوونکي ښکاري او په دې پلمه راباندې جنګونه تحمیلوي چې ګواکې افغانان په ځانګړي توګه پښتانه د نړۍ امن او سوکالۍ ته خطر دي، په مینه نه پوهېږي، شډل بډل او غرني خلک دي نو باید وځپل شي، سالک په ډېر رومانتیک انداز تر جنګه وړاندې حالت انځوروي او وایي:

سحر به ګلو غزونې وکړې
لمر به د چم په تندي وځلېده
لاهوتي تاج به د زرینو وړانګو
دهر حرم په تندي وځلېده

د ژوند نغمې به نڅېدلې په کې
زموږ په کلي کې به شور جوړ شو
چې د فطرت البم کې نه و موجود
ترې نه به داسې یو انځور جوړ شو

هلته به پیل شوه بې الفاظو ژبه
سترګو به سترګو ته پیغام ورکړ
په الطهور به لمبېده محبت

www.sikaraam.com

حیا به هر زلمي ته جام ورکړ

پېغلې به ووتې د فصل په خوا
په نرمو ګوتو یې ساګونه کتل
ځینو به بل څه، بل څه فکر کاوه
دچا لپاره یې ګلونه کتل

چا به پر بام ګلو کې لاس واهه
پرې نګهتونه د لالې وربېدل
کله ناکله به په تنګو کوڅو
پاس له اسمانه کشمالې اوربېدل

سترګو به سترګو سره جنګ کولو
هغه د امن زمانه وه هلته
دنظر میو به رنګونه کړل
دالطهورو میخانه وه هلته

هر مازیګر به د ګودر په طرف
یوه د زانو سلسله وه هلته
بازان به لوړو باندې لرې ناست و
خو دې حیا به فاصله وه هلته

په پاڼه پاڼه چې یې ډېر څه لیک و
اوبو به داسې سره ګلونه راوړل
یوه کشتۍ چې له کاغذ جوړه وه
هغې د عطرو بوتلونه راوړل

منګې به لرې ترې اوبو وړې وو
دوی به رنګینې خاطرې ویلې
همزولو نجونو به په مینه مینه
په داودي اواز ټپې ویلې

www.sikaraam.com

خلاص و مشرانو ته د زړه غوړونه
زموږ حجرې نه به یونان جوړ شو
د الهامي خبرو نور اورېده
له هر سړي به سخندان جوړ شو

دچم زلمو به ټنګ ټکور جوړ کړ
د بام په سر به سره لمبه بلېده
ادم به تار کې سره اوروونه کړل
د درخانۍ به لوپټه بلېده

اوس هم که لاړ شې هغه وران کلي ته
هوا په هغو لوپټو لګېږي
خو اوس د نجونو په سر نه دي هغه
د مزارونو په جنډو لګېږي

هغه ګودر هم شهید شوی دی اوس
په وینو سور هغه زرین مازیګر
وختونه ځي راځي خو هېڅ نه راځي
هغه رومان هغه رنګین مازیګر

د بارودي ښامار به څه ووایم
هم یې نغمې هم یې شباب خوړلی
د درخانۍ ادم کیسه پاتې ده
اور د ټپو سره رباب خوړلی

اوس مرغلرې نجونې ورکې ښکارې
دننګرهار په غاړه هار نه شته
هغه اسمان دی هغه ځمکه لري
خو همیشه په کې بهار نه شته.

د ښاغلي سالک پورتنی شعر د خیال، مطلب او مضمون ډېره ښکلې پشتیبانه لري ، د ا
شــعر چې پر افغانستان د روسانو د یرغل په وخت کې لیکل شوی، لومړی په کې په ډېرو

www.sikaraam.com

رومانتیکــو او شــاعرانو الفاظو تر جنګه وړاندې دیوې باثباتــه او مینه ناکې ټولنې عکاسي کیــږي، ورو ورو شــاعر پر هېواد د جنګ له لاســه روان ناورین ته راځــي او یرغلګرو ته په خطاب کې وایي چې ستاســې بدبختو له لاســه اوس د ادم خان رباب له ټپو سره یو ځای ســوی دی، د کلي مازیګرونه نه شته، ځکه چې چینې وچې شي، ګودرونه نه وي، مرغلرې نجونې ورکې شي نو د مازیګر به څه خوند وي.

دی خپــل ولس لــه دې هم خبروي چې ننګرهار اوس هماغه اســمان او هماغه ځمکه لري خو همیشه بهار پاتې نه دی، هغه میلې او خوندونه په کې نه شته، په کلیو کې به یې هماغه لمبه لمبه لوپټې وګورئ خو دا ځل به یې د ښــکلو نجونو پر اوږو نه بلکې د مزارونو په جنډو ووینئ.

په دې شــعر کې کارېدلي صفتونه او استعارې ښکلی تنوع لري، یو ځای دمینې، عشق، حماســې او کاغذي کشــتیو کیســې کوي په بل ځای کــې بیا د اورونو د توپــان، ورانیو او یرغلونــو حال راکوي.د تحمیلي جګړو همدغو ناخوالو او ویرونو ســالک دومره ویرژل کړی چې په یوه بل نظم کې ان خپلې محبوبې ته وایي چې نور نو د وطن د درد او غم کیسې راته مه سندرې کوه چې په زړه کې مې دداسې غمجنو سندرو د اورېدلو تاب نه دی پاتې، د زړه تارونه مې زور نه لري، د ژوند رباب به مې مات کړې، لیونی به مې کړې او ته به دې هم هسې خپلې نازکې شونډې وسیزې او بس:

جینۍ د خدای او د رسول ومنه
په دې خبرو باندې تیره کېږده
خپلې نازکې شونډې ولې سیزې
بس په سندرو باندې تیره کېږده

ته په ساندو کې سندرې لړې
زما د زړه تارونه زور نه لري
درخو د ژوند رباب به مات کړې زما
ته به خبره شې چې شور نه لري

ماته به نه وایې چې اور شو وطن
دګل په پاڼو افسانې سوي دي
ماته به نه وایې چې مړ ه شوه نرګس
هغه د سترګو میخانې سوي دي

مه وایه دا چې اوس د نجونو میره
ځي د همزولو په خازو پربوزي
چې اینې نه یې حیا کوله
اوس د ابلیس په دروازو پربوزي

جینۍ د خدای او د رسول ومنه
په دې خبرو باندې تېره کېږده
خپلې نازکې شونډې څه له سیزې
بس په سندرو باندې تیره کېږده

ته جادوګره یې منم شاعرې
ته په الفاظو کې رنګونه کرې
ځومره په ناز او په انداز باندې
حاسو زړونو کې اورونه کرې

ستا ارادې د تاترې نه لوړې
ستا به لاسونو ته اسمان راشي
خو دا زما په زړګي نه ځاییږي
چې په ښایست دې امتحان راشي

مور غریبان یو موږه هیڅ نه لرو
ته د وطن خوبونه څه له وینې
په کربلا کې ټوکېدلی ګل یې
بیا د ګلشن خوبونه څه له وینې

جینۍ د خدای او د رسول ومنه
په دې خبرو باندې تیره کېږده
خپلې نازکې شونډې څه له سیزې
بس په سندرو باندې تیره کېږده

د پرهر زړه رڼا ته ژوند تېروه
دا رنګینه نړۍ زمونږه نه ده

www.sikaraam.com

په ماشوم زړه باندې دې زور تېر کړه
دغه ښایسته ګوډۍ زمونږه نه ده
د رومي لالونه د خزان لوښو ته
ته همېشه هلته بهار غواړې
دخپلو اوښکو د غمو په بدل
دننګرهار لپاره هار غواړې

ستا په رښا ستا په ښکلا مې قسم
د هندوکش او د پامیر تاج یې
ته په سپین غر کې د بزرګې څوکې
د تاترې او د بنیر تاج یې

جینۍ د خدای او د رسول ومنه
په دې خبرو باندې تیره کېږده
خپلې نازکې شونډې څه له سیزې
بس په سندرو باندې تیره کېږده

بهار په خوب وینمه وبه خاندي
رنګین ګومان دی خو یقین ورک دی
سوال مې یوازې ځي په بره طرف
د پرښتو ځنې امین ورک دی

لاس مې تر عرشه پورې نه رسېږي
چې زه اجرونه ستا د ویر راوړم
جنتي خوب چې په دوزخ کې وینې
هغې ته ښکلی څه تعبیر راوړم
ستا یزداني هیلې چې نه شي پوره
دحورو چم کې دې توپان راشي
ستوري دې هم بیا نامراده اوسي
په دغه ځمکه دې اسمان راشي

جینۍ د خدای او د رسول ومنه

په دې خبرو باندې تیره کېږده
خپلې نازکې شوندې څه له سېزې
بس په سندرو باندې تیره کېږده.

ښاغلی طایر ځلاند چې د سالک د پورتنې شعر نه یوه لسیزه وروسته زمانه راته انځوروي، دنـوي کال د نـوي ورځې یو نوی انځور راته مخې ته ږدي، دی په خپل شـعر کې له ځانه پوښـتنه کوي او حیران دی وایي: دا د نوي کال د کوم موسم منظر دی، ځکه په نوي کال کـې خو به میلې وې، جشـنونه بـه وو، ټالونه به وو د بنګړیو شرنګا بـه وه او د ژنو اتڼونه به وو، خو اوس د ټال لړ شـلېدلی، لوپټه په وینو سره ده او شـنه بنګړي مات مات پراته دي. دی مورې ته یو داسې تصویر مخې ته غوړوي، چې موره ورځنیو پېښو ته ځیر کوي او د نوي جنګ د نویو ناخوالو له لاسه سر ټکوي.

دا دنوي کال دکوم موسم منظردی
چې غبار په بڼو بار دی
دګلونو شونډې چاودي
اننګو باندې خاپونه دلوګو دي
په لیمو کې لیکې جوړې دي داوښکو
دا نظرزما نظر دی
چې دنیا ورباندې وینم
که خوب وینم
دا دنوي کال دکوم موسم منظردی
چې دټال لړ دی شلیدلی
لوپټه په وینو سره ده
او
شنه بنګړي دچا دلاس مات مات پراته دي
داتڼ دژنو شور هم شو خاموشه
په جمات کې دبلال اذان نیمګړی
مناره رانړېدلی
دا سپرلی دی که خزان دی
دا ښاریه که بیابان دی
دا خاموش ولې اسمان دی ؟
چې یې مخ په نقاب پټ دی هم انسان دی

www.sikaraam.com

اوپه زمکه چې له تندې په سلګو دی هم انسان دی
دادنوي کال دکوم موسم منظر دی
دیوالونو سیوري ټول کړل
په سړک هم خاموشي ده
دچنچڼو شور ماشور دی
چې له خپلو جالو تښتي
ځمکه ګونګه شوه له غمه
له درد غږ کولی نه شي
کیسه څو ځل شوه بدله
کردارونه نوي نه شول
منظرونه نوي نه شول
موسمونه نوي نه شول
او کلونه نوي نه شول
یوه تیګه په خپل ځای باندې ولاړه
مخ یې پټ دی
او د ټال لړ دی شلیدلی
لوپټه په وینو سره ده
شنه بنګړي دچا دلاس مات مات پراته دي
دا بنګړي نه دي ارمان دی
چې پرې زړه دچا ودان و
او دا ټال چې اوس یې لړ دی را شکېدلی او زنګیږي
داحساس دشیبو سیند دی
لوپټه چې دوطن بیرغ به هم ترې جوړېدلو
اوپه ستړي مسافر به خورېدلو
په ګرمۍ کې به سایه وه
او په جنګ کې به جنډه وه
لوپټه نه وه زما کیفیتونه و تازه و
دا منظر خو کربلا زما دذات ده
احساسات مې چې شول خاورې
ارمانونه چې تالا شول
کیفیات چې په صلیب شول
اوس چې کاڼی نه شم څه شم

www.sikaraam.com

زه یوازې نه یم ټوله ښاریه ده
چې په ویره کې اخته ده.

ښــاغلی دروېش درانی دغو ځوانو شاعرانو ته وایي تاسو چې له څه شي نه فریاد کوئ دا بل څه نه دی د جګړې بلا ده، هغه وایي دا سمه ده چې جنګ پر موږ تحمیل شو، دجګړې بلا او وبا دهېواد ګوټ ګوټ ته ورســېده، د اور او وینو ســیلاب وبهېده، د هر سړي بدن بلا ټپونه واخیســتل، وطن ویجاړ شــو نو اوس په داسې حالاتو کې څه کول په کار دي، ایا موږ همداسې لاس تر زنې کېنو؟ ایا موږ دا ځواک نه لرو چې دا تیارې له خپل هېواده وباسو. جنګ خو داســې بلا ده چې نه ســترګې ، نه غوږ او نه ســپږمه لري، ټول بدن یې غاښونه غاښــونه دی او زموږ د بېوزله ولس په غوښــو یې هره ورځ ښــخوي. دی وایي د یوه داسې ظالم دښمن په مقابل کې فقط یوه لاره پاتې ده چې هغه د زړونو او فکرونو یو کول دي، لاســونه بایــد سره ورکړو چې دا بوټــي لونګ کړو، دا غرونه که لالونه غــواړو نو باید په موږ کې ورورګلوي، مینه او محبت وي. دروېش په ساده او شاعرانه ژبه لومړی زموږ ستونزې او نیمګړتیاوې راته یو یو شماري او بیا یې د حل لارې را په ګوته کوي:

سره زخمونه په مثال د سرو غالبوزو
په فضا کې د وطن دي را الوتي
د وګړو په بدن پورې دي نښتي
انسانان دي لېونو غوندې په منډه
هر طرف ته فریادونه دي ژړا ده
په وطن کې مو دجنګ داسې بلا ده
چې نه سترګه، نه یې غوږ، نه یې سپږمه شته
ټول بدن یې دی غاښونه او غاښونه
سر تر نوکه یې وجود دی ژامې ژامې
روغې ونې او ښاخونه خوري بې دریغه
د کورونو دېوالونه خوري بې دریغه
د وګړو اندامونه خوري بې دریغه
دا خوراک به ورکوو ترکومه وخته
دا بلا به زیاتې باسو له وطنه
دا وطن به یو ځل بیا ودانول وي
څېرې څېرې دیوالونه ګنډل غواړي
هم شړی او هم شالونه ګنډل غواړي

www.sikaraam.com

خو دا کار لري لالیه ډېرې ستونزې
دا په دا چې موږ له لاسه دي ورکړي
دومره سترګې، دومره پښې، دومره سرونه
چې حساب یې وهېچا ته معلوم نه دی
په دې ورځو کې به کار له سپما اخلو
اندامونه له دې قامه سره لږ دي
روغ بدن وهر سړي ته نه رسېږي
په یوه پوست کې به دوه تنه اوسېږو
په یوه خوله به څلور کوو خبرې
دا یو وخت دی، داسې وخت دی پر موږ باندې
چې تا دواړې پښې بایللي دي په جنګ کې
زه هم نه لرم په تن پورې لاسونه
په یوازې سر نه ته شې څه کولای
او نه زه د څه کولو وس لرمه
ځه چې دواړه یو وجود او یو بدن شو
ته زما په پښو روان شه خپل منزل ته
زه به ستا په لاس غلمینه ډوډۍ خورمه
زه به ستا په لاس سپېنسی او ستن را واخلم
څېرې څېرې دیوالونه به ګنډمه
دا مثال به ټول ولس ته یو مثال شي
ټول وګړي به نږدې شي و یو بل ته
ړوند به لاره د کاڼه په سترګو وینې
کوڼ به اوري د ړانده په غوږ سندره
په شریکه به وطن ودانول وي
کروندې به زیاتې نه پرېږدو بې کښته
اندامونه به یې کرو په کړه کړه
دا یو وخت دی، داسې وخت دی چې موږ وینو
د قمیص لستوڼي دوه وي خو لاس یو دی
دوی موچڼي انتظار وي یوې پښې ته
دا کمی پوره کول غواړي په ګډه
زیاتي نه کوو له دغه کاره ډډه
لا تر کومه به په وینو وي ککړه

www.sikaraam.com

دغنمو په بوی خپله فضا مينځو
سر تر پايه به وطن په رڼا مينځو.

د ښــاغلي درويــش دراني پورتنی نظم دا پيغام هم له ځانــه سره لېږدوي چې مور که هر ځومره ټوک ټوک يو خو دا وطن به زمونږ همدا ټوک ټوک اندامونه جوړوي، که سره يو ځای نــه شــو نو نيمګړي اندامونه به مو نه د ځان شي او نه د بــل. دی په کنايي ډول پر ولس دا پړه هم اچوي چې د ځينو بدبختيو لامل زمونږ خپلې بې اتفاقۍ هم دي، دې مسْــلې ته ښــاغلي پوهاند بهاوالدين مجروح هم په خپل يوه شــعر ( د وطن مور) کې اشاره کړې ده، په هغه شــعر کې وينو چې پر يوه مورد خپلو اولادونو له لاســه څه ډول لوبې کېږي، څو څو وارې خرڅېږي او پرديو ته ودېږي:

زمانه شوله اخيره
عجيبه خبرې اورم
د وطن مور ته يو چا داسې ويل
اې د وطن مورې!
پر ما ګرانې په زړه پورې
څه قربان دې له مېړو شه
د سپېرو شړو دښتو شه
خو لعنت دې په بچو شه
اې د وطن مورې!
پر ما ګرانې نن اختر دی بختور دی
دا کميس دې پرون تور و نن هم تور دی
خړ پرتوګ دې ځيرې ځيرې نوی نه شو
خو اختر دې مبارک شه ګرانې مورې!
اې د وطن مورې! ښه دی ښه دی چې پرتوګ دې خړ بخُن دی
ځيرې ځيرې د هېچا نه پکارېږي
نه خرڅېږي
ځکه ستا بچي ډېر زخته نارينه دي
خرڅوي د مور پرتوګ هم
اې د وطن مورې!
ستا بچي ځنګه بچي دي
انسان نه دي
دوی پخپله هم هېڅکله ځان ته نه وايي انسان يم

www.sikaraam.com

کله وايي زه مرغه يم
بيا پېښې کړي د مرغانو
کله وايي ځناور يم په ځلورو شي روان بيا
اې د وطن مورې!
ستا بچي خو انسان نه دي
را ته ووايه خپل راز اوس
تا راوړي دي د کمه د کم اصله د کم ذاته د کم نسله
اې د وطن مورې!
راته ووايه خپل راز اوس
ته چې پېغله ښايسته وې
څه فساد در باندې وشو د انګړ تر شا بېديا کې
ستا کم غل د لاري مل شو
يا د شپې په تروږمۍ کي څه بلا وه پر پالنګ در وختله
ستا بچي وايي ځناور يم خو پاچا د ځناورو
زه يم زمرى پر دې نړۍ تر ما اتل نسته
بل په کابل نسته بل په زابل نسته
دا په رښتيا چې ځناور دي
خو پاچا د ځناورو
بې کسانو بې وزلانو ته شين پړانګ وي
غوښې خوري د کونډو رنډو يتيمانو
ماتوي ورور او تربور خپل
چې يې زور ور باندې بر شي
نو ګيدړ شي چلوټې کړي
ځغلوي د کور چرګان هم
دا عجيبه ځناور دي
دا عجيبه ځناور دي
ځکه هيڅ ځناور داسې کانې نه کا
ځکه هيڅ ځناور داسې کانې نه کا
چې قوي وي خپل خپلوان خوري
خپل هم نوعه ناتوان خوري
بيا چې زور ور باندې بر شي ځوړ غوړونه لکه خر شي
ملا يې ماته ظلم او زور ته تسليمېږي

www.sikaraam.com

استبداد ته غاړه ژر ږدي
هم د ده د برکته استبداد را پیدا کېږي
ساتل کېږي هم بیداره وفاداره د قدرت درګاه ساتینه
د زړو جامو خاوند ته غاپي
اې د وطن مورې!
راته ووایه خپل راز اوس
انسانان خو داسې نه وي ... (ترپایه)

د هېواد ځوان شاعر سید شاه سقیم بیا له خدایه پوښتنه کوي چې خدایه پاکه ستا اشرف المخلوقــات چې ته یې تر ټولو لوړ ګڼې ولې له خپلې اصلي مســیر نــه بلې خوا ته اوړي، هغه دندې او مســولیتونه چې تا ور ســپارلي هغه ته مخه نه کوي. دی چې کله د جنګ له بدو پېښــو، ورانیو، وژنو او نورو بې بېلګې حادثو خبرېږي او یا یې په خپلو ســترګو ویني نو وایي:

زما د سترې ژوند واکداره! زمآ لویه ربه
هره سایه مې په دا نیمه شپه کې زړه رپوي
د شپې چوپتیا مې د قدم په ځرپ باڼه رپوي.
ستا انسانان لکه د ژمي یخ وهلي ماران
لکه په غوښو د هوسیو ماړه شوي لېوان
په درانه خوب ویده دي
ما مې ډک زړه او ځیرې ځیرې ګریوان ستا تر کوره
په پټه پټه په نیولیو قدمونو راووړ
دا دی سپېره تندی مې ستا په قدمو کې اېښی
د خیال په هره اینه کې مې ښکارېږې ربه!
ته لکه وینه په رګو کې مې بهېږې ربه !
په تا نازېږم ستا په پاک نامه تکیه کومه
تاته راغلی یم له تا ګیله کومه
دغه انسان چې خلیفه دي د خپل ذات ټاکلی
دغه انسان چې تا اشرف المخلوقات ټاکلی
دغه استازي دي بې حده ځورولی یمه
دې خلیفه دي ستا له دره ګرځولی یمه
ته خو یې وینې له تا څه پټه ده پاکه خدایه!
ما د جونګړې د نیم کښه دروازې په خوا کې

www.sikaraam.com

ستا د انسان له ویرې سپی ترلی.
په تا قسم زما د ژوند واکداره! لویه ربه !
که به د ورځې زه دا ستا د خلیفه له ویرې
په بې غمي ستا تر کاله پورې درتلای شم کله
ستا لېونی خلیفه ټوله ورځ قتلونه کوي
د چا سینه سوری کوي د چا مری غوځوي
د بورو مېندو چیغې نه اورې بچي یې وژني
تنکي ځوانان حلالوي په ناترسي یې وژني
دې لېوني دي وطن ټول په وینو ورنګاوو
دې لېوني د غم په ټال کې جهان وزنګاوو
ته خو یې وینې ربه ستا خلیفه ستا په کور کې
ستا بندګان څنګه په خپلو وینو ولمبول
دغه استازی دي په تار له زوم نه سر پرې کوي
ته خو یې وینې یو لښکر پېغلې یې کونډې کړلې
دغه وړوکی وژل شوی نیم وجودی ماشوم
د لېونی مورکۍ له غبرې به لیرې وروسته درشي
تاته به ژاړي چې دا ستا د خلیفه د لاسه
ګوره! خالقه دا مخلوق ته به دي شک پیدا شي
ستا په رحمت ، مهرباني او ستا په پاکه خدایي
که خلیفه دي چېرې داسې خپل سري ته پرېښود
د دې استازي مټ دي نیسه زوروره خدایه!
د ماتو شویو زوړونه خدایه د زړه سره خدایه!
کنې په زړونو کې به ستا د پاکې وېرې پر ځای
ستا د سرکشه خلیفه ډار غزوونې وکړي
بیا به تندي ستا تر قدمه پورې نه رسېږي.
ربه قربان دي شم ، قربان دي شم تر لویه خدایي
زه دي بنده یم زه بې وسه یمه نه پوهېږم
ګوره خفه راڅخه نه شې زه نو څه پوهېږم
د خیال په هره اینه کې مي ښکارېږې ربه!
ته لکه وینه په رګو کې مي بهېږې ربه!
ته تر شېرینې مورکۍ هم راته څو چنده ګران یې
خو له استازي مي دي کرکه کیږي.

www.sikaraam.com

## په شعر کې د انساني تلفاتو انځورونه

چېرته زخمونه، چېرته اوښکې، چېرته سرې سکروټې
بیا د گلونو په وطن کې دی خورې سکروټې
( درویش درانی)

سره له دې چې ټول ادیان، مذاهب او د نړۍ ټول قوانین د انسان کرامت او بشري حقونو تـه په درناوي ټینگار کوي. خو له بده مرغه د افغانســتان په پنځه دېرش کلنو ناخوالو کې ولیدل شول چې ولس د تشدد، کرکې، انسان وژنې او انساني کرامت تر پښو لاندې کولو په اور کې و سـوځېدل. زموږ په هېواد کې دا لړۍ لا هم روانه ده، هره ورځ د جنگ د ډول ډول ناخوالو او زړه بوږنوونکو پېښــو له امله بې گناه انســانان په ناحقه وژل کېږي، انساني کرامت یې تر پښــو لاندې کېږي او هېڅ داســې ورځ نه شته چې د یو انسان حق دې ترې په زوره وانه خیســتل شي. د جنگ او نا امنۍ له لاســه په ســلگونو نورې داسې پېښې هم رامنځته کېږي چې یادول یې د انسان روح او روان ناکراره کوي.

قران کریم د بې گناه انســان د قتل باره کې فرمایي: هرڅوک چې یو کس پرته د قتل یا فساد له ترسره کولو نه ووژني داسې ده لکه ټول انسانان یې چې وژلي وي او هرڅوک چې یو انســان له مرگه وژغوري داســې دی لکه ټول انســانان یې چې له مرگه ژغورلي وي. د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم مبارک حدیث هم دی چې: مثل المومنین فی توادهم و تراحمهم و تعاطفهم.

پر اسلامي احکامو سربېره د بشر دحقوقو نړیواله اعلامیه او د ډېرو نورو لویو علماو احکام او ارشــادات هم بل انســان ته د درناوي او د هغه د حقوقو د ســاتلو حکم کوي. ســعدي شیرازي وایي:

بنی ادم اعضای یکدیگر اند
که در افرینش ز یک جوهر اند
چو عضوی به درد اورد روزگار
دیگر عضو ها را نماند قرار
توکه زمحنت دیگران بی غمی
نشاید که نامت نهند ادمی

www.sikaraam.com

مولانا اقبال لاهوری هم ویلي:
نه افغانیم ونی ترک وتتاریم
چمن زادیم و از یک شاخساریم
تمیز رنگ و بو بر ما حرام است
که ما پرورده یک نوبهاریم

رحمان بابا فرمایی
کوهی مه کنه د بل سړي په لار کې
چېرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي
ادم زاد په مانا واړه یو صورت دی
څوک چې بل ازاروي هغه ازار شي

سره له دې چې ټول مذاهب او نړیوال قوانین د انســان حقوقو ته په درناوي امر کوي، مگر بیا هم په افغانستان کې ډېر بې گناه انسانان د جنگ په لمبو کې وسوزول شول. د ځینو شاعرانو شعرونه د همداسې کړاوونو او دردونو روایت کوي. خو دوی ددې درد د بیان لپاره بله ژبه جوړوي، دوی لکه د ســیاسي مظاهره چیانو شــعار نه ورکوي چې څوک مرده باد او څوک زنده باد. هغه احساس او خیال چې ورسره دی هغه ته هنري توري پیدا کوي او په عاطفي ډول مخاطب ته د خپلو بدمرغیو تصویرونه وړاندې کوي، ددغســې شــعرونو یوه بېلگه به ولولو:

دا کلی مه ورانوئ!
دا کلی مه ورانوئ!
گورئ چې هلته د شنو ولو د شنوسیورو لاندې
گورئ د شنې ویالې تر څنگه د جلگو دپاسه
یو کوچنی پروت دی
یو کوچنی ویده دی
او ، تر وړې لوپټې لاندې
په خوب وړو سترگو
د ناز په غېږه کې کوچني شینکي خوبونه و یني.
دا کلی مه وارنوئ!
دا کلی مه ورانوئ !
گورئ چې هلته لکه زرکې زموږ د کلي نجونې

www.sikaraam.com

گورئ چې هلته د بامو پر سر نورسې نجونې
کتار، کتار د لمر تر وړانگو خپل پيکي جوړوي
او په مينو ژبو
د پېغلتوب غوږ کې د ځوان هوس سندرې بولي
دا کلی مه وارنوئ!
دا کلي مه ورانوئ!
گورئ چې هلته د هغو سپېرو کوډلو ځينې
گورئ چې هلته ددې تورې تروږمې له غېږې
ساړه زگېروي جگېږي
سوزمن آواز راځي
او اميدوارې ميندې
د انتظار د بڼ د سرو گلونو لارې څاري
دا کلی مه ورانوئ!
دا کلي مه ورانوئ!

پــه پورتني شــعر کې شــاعر هڅه کړې د جنــگ د عاملينو په زړونو کې عاطفه را وينښــه کړي. هغوی نه غوښــتنه کوي چې شــين او سمســور کلی يې وران نه کړي، ځای پر ځای ورتــه د خپلو بېوســو خلکــو حالت انځوروي، تر يوې شــنې ونې لاندې د ويالــې پر غاړه يو کوچنی ماشــوم چې د ناز په خوب کوچني شــينکي خوبونه ويني، پــه يوه کوډله کې يوه اميندواره مېرمن او پر بامونو نورســې پيغلې ورښــيي. ددې شعر او داسې نورو ډېرو عاطفي شــعرونو شاعر ښاغلي اسـحق ننگيال چې د جنگ د غمېزې تر شل کلنۍ پورې په کابل کې اوســېده او د جنگ د وحشــت ښلا ښېل اړخونه يې په خپلو ســترگو ليدلي وو د هېواد د انســانانو، حيواناتو، مارغانو او نباتاتو هر درد يې احســاس کــړی او ددوی په غمونو يې اوښکې تويې کړي. دا داسې کلونه و چې ديوې او بلې ډلې په جنگونو کې افغانان بدمرغه شــول او د کورنۍ غړي يې د ړندو راکټونو خوراک شــول. په کابل کې د بېلابېلو وســلوالو ډلو په دغه جگړه کې داســې خونړۍ پېښــې رامنځته شــوې او دومره جنايتونه وشول چې لړۍ يې تر اوسه هم دوام لري او د افغانستان تاريخ به په شلمه پېړۍ کې ترسره شوي دا جنايتونه لکه د بشر پر حقوقو تېری، د دوه لکو بېوزلو افغانانو وژل، له اويا نه تر اتيا فيصده پورې دکابل د ښار ورانېدل، چور چپاول او ډېرې داسې ناخوالې هېرې نه کړي.

په افغانســتان کې شــعر له ۱۳۶۰ نه تر ۱۳۷۵ پورې ډېر ښــه ســفر وکړ ، که څه هم يو شــمېر خلکو په دې موده کې د شــعر په نامه موعظې او بيانيې وليکلې او د شــعر ذهني منځپانگې پر ځای يې د شــعر جوليزې منځپانگې ته زيات پام وکړ، خو ورو ورو بېرته شــعر

www.sikaraam.com

کې د شعارونو او گوندونو ته د ژمنتوب پر ځای دجنگ منفي خواو ته د شاعرانو پام واوښت. هغــو لیکوالــو چې یو وخت به یې دیــوې او بلې ډلې په گټه په شــور او زوږ ترانې ویلې او ادبیــات یې د خپلو ایډیالوژیو په خورولو کې کار اخیســته منځــلارۍ ته مخه کړه او یا هم ناپیيلي پاتې شــول. ورو ورو بیا دهمدغو شــاعرانو په شعرونو کې هم ولیدل شول چې د جنگ د ناخوالو په لیدلو د جنگ پر ضد لیکوالو په ډله کې درېدلي. دوی د شلمې پېړۍ ډول ډول خوندونه تجربه کړل او د وروستیو کورنیو جگړو او د خلکو د کړاوونو او بدمرغیو په لیدو یې خپله لاره معلومه کړه. د پښتو شعرونو له څېړنو معلومېږي چې د شاعرانو وروستۍ تجربې په شــعر کې له یوه او بل نه دفاع نه کوي بلکې د خپلو مظلومو خلکو او ســوزېدلو ښارونو په درد ژاړي.

که چېرې له شــپېتمو نه تر اویایمو کلونو پورې د پښــتو شعر د مزل جاج واخلو نو معلومه به شي چې د جنگ همغو بدمرغو کلونو د پښــتو شــعر مخه بلې خوا یانې د ورځنیو پېښــو انځورگرۍ او د زمانې د حادثاتو هنري کولو ته واړوله. زیاترو شاعرانو هڅه وکړه چې دجنگ لوڅــه او بــې روحه څېره د خپلو مخاطبینو مخې ته کېږدي او هغوی له خپلو کړنو وویروي. یو بل ازاد نظم به هم ولولو چې په څومره هنري ژبه په جنگ کې ښــکېلو خواو باندې غږ کوي:

ای ښکاري آشنا درته سلام کوم!\
پام کوه ماشې ته گوتې مه وروړه\
پرېږده چې دا ښکلې مرغې والوزي\
لاړې شي جوړې ،جوړې گلونه شي\
ښکلي شي،ښایسته شي امیلونه شي

واخلي په وزرونو کې تنکي بچي\
وموښي سینو کې گلالي بچي\
سپیني، سرې مښوکې زرکني بچي\
پام کوه ماشې له گوتې مه وروړه !\
ایځ ښکاري آشنا درته سلام کوم!

پرېږده چې دا شنو جلگو کې وځغلي\
پیغلې د هوسیود دامان په لور\
واړوي پیکي د شنه آسمان په لور\
وخاندي راتاوې شي مستي وکړي

www.sikaraam.com

ورغړي ،نخرې وکړي،خوښي وکړي
شپو د پيغلتوب ته خوشالي وکړي

پام کوه ماشې له ګوتې مه وروړه!
ائ ښکاري آشنا درته سلام کوم!

ګوره دا بې ژبې مرغان مه وله
نه يې چې کوم ووړ بچی بې موره شي
ته هم ګوره پلار يې او بچی لرې
پيغله لور ښايسته زوې ګلالی لرې
درد لرې، آرزو لرې، زړګی لرې

پام کوه ماشې له ګوتې مه وروړه!
ای ښکاري آشنا درته سلام کوم!
"اروانښاد اسحاق ننګيال"

يو شاعر پرته له دې بله کومه وسيله او وسله لري چې دجنګ غوښتونکو انساني عواطف او احساسات تازه کړي او د بې ازاره مرغيو له سينو نه يې د ټوپک ميل واړوي، د جنګ ناخوالې په خپلو شعرونو کې داسې ونغاړي چې پخپله لمن کې ښکلا،عاطفه،احساس او ژبنۍ خوږلني هم ولري او يو ټوپکوال دې ته حاضر کړي چې په سترګو کې يې اوښکې راشي او په زړه کې يې دومره عاطفه او مينه پيدا شي چې خپل ټوپک پر ځمکه کېږدي.
لکه پورته چې يادونه شوې دجنګ په تېرو درې نيمو لسيزو کې شاعرانو د انساني تلفاتو، مرګ ژوبلو او دردونو په ليدلو داسې شعرونه پنځولي چې د جنګ د ناخوالو د هنري تصويرونواو مضامينو ترڅنګ، پيغامونه او تخيل هم په کې موجونه وهي. دجنګ د غميزو په اړه ويل شويو شعرونو ته کره کتونکي په بېلابېلو نظرونو ګوري، ځکه زياتره کره کتونکي لا هم پر دې خبره يوه خوله نه دي چې ادب د ژوند لپاره که ادب د هنر لپاره، مګر داستاد محمد صديق پسرلي يوه خبره را نقلول اړين بولم چې وايي ( ښه شعر هغه دی چې لوستونکي ترلاس نيولي دځمکې پرمخ وګرځوي او دژوند لوړې ژورې يې سترګو ته ودروي لوستونکی او اوريدونکی له ځانه سره هسک ته بوځي او په نااشنا نړۍ کې يې وګرځوي).
هغو شاعرانو چې د جنګ غميزې يې په هنري ژبه انځور کړي شعرونه يې همدا کمال لري، لوستونکی له ځان سره د خپلې زمانې پر پېښو، کليو، پولو او پټيو ګرځوي، ديو عادي کليوال له حاله يې خبروي او د يوه سترې شپونکي د احساساتو ژباړه ورته کوي. د جنګ

www.sikaraam.com

پــر ضد او یا هم د ناخوالو د انځوروونکو شــاعرانو د ځینو شــعرونو محتوا دجنګ غمیزې دي، خو د شــعر نور اړین توکي تخیل، موســیقیت ، خوند، احســاس او پیغام هم له یاده نه باسي. ددوی شــعرونه دا کمال لري چې د اورېدونکو او لوســتونکو ویده تخییل راویښ کــړي او یوې ځانګــړې موضوع ته يې پام واړوي. د جنګ او مینې یو نوښــتګر او انځورګر شــاعر پیرمحمــدکاروان یو نظم به ولولو چې په ځومــره صمیمیت او صداقت راته د خپل کلي د چنــار د ماتېدلــو او د چنار په څانګو کې د معصومو مرغیــو د ځالو د ورانېدلو تابلو وړاندې کوي:

زه د برکلي د ګودر د غاړې
یو شین چنار وم چنار
هر مازیګر به راته سلونجونو
په سرو منګولو سلامونه کول
سحر وختي به مستانه پیغلوټو
زما پر ټیټوواو خورو څانګو اوبه شیندلې
زه به په ناز لکه خوب وړی زلمی
څه غلی غلی غوندې وبوږنیدم
له ساړه باد سره به هاخوا دې خوا
لکه د ټال زنګیدم
او د ګودر اوبو به
راته چمبه وهله
لکه ملاله پښتنه پیغله د ورونو په ورا
په شنه ګیډې ګیډې کمیس کې ګډیدم، ګډېدم
کله ناکله مې په غلي ماښام
له سپینو خولو نه د تودو مچکو خرپ اوریده
لکه غوږونه به مې
د څانګو څانګو په لاسونو کې نیولې پاڼې
ما به د دوه د بڼوګانو هر یو رپ اوریده
بیا به مې باد ته ښورول لاسونه
غلی شه خدای ته ګوره شور مه کوه
خدای زده چې ولې به د باد غمازګر
راسره رخه کیده
د دوو مینو ننداره يې په ما نه لوریده

www.sikaraam.com

لکه چې مست ښامار زنګيږي د چندڼ پر څانګو
داسې په خرپ به يې کړې ماتې رانه غبرګې څانګې
پاس به له ځالې نه جوړې بلبلې والوتلې
لاندې به هم غلې شوه
د تودو شونډو د مچکو خرپا
لکه غوړونه به مې
د څانګو څانګو په لاسونو کې نيولې پاڼې
بيا به مې باد ته ښورول لاسونه
سحر به لمر راوخوت
نجونو به بيا په سلامونو باندې ونمانځلم
لمر به چې څو نيزې له غره راجګ شو
د ګودر غاړې نه به وکوچيده
دمستو نجونو د منګيوکاروان
مهار د وړانګو يې په لاس کې و د لمر د څاروان
لمر به د وړانګو په تودولاسونو غوټه کړلې
زما د غبرګو ماتو څانګو له رګونو سره
خرپ د مچکو او سندرې د جوړې بلبلو
اخ خدايه بيا د چا ښکالو راغله؟
بيا مې په رګ رګ کې خورې شوې څړيکې
هغه دی بيا مين زلمی راغی
چې دا زما د ماتو څانګو خوا کې څه لټوي؟
هغه دی ټولې يې کړې
ټوټې د ماتو بنګړو
او مرغلرې د شکيدلي اميل
هغه دي غوټه يې کړې
د سره دسمال په پيڅکه
ښايي چې دا دسمال هم
چا ورته جوړ وي په وريښمينو ګوتو
ما به له زړه سره پټ پټ وخندل:
خدای ماته هم مين زړګې راکړی
چې د مْينو په راز ښه پوهيږم
زلمی به غلی، غلی

www.sikaraam.com

لکه ښکاري نه ترهيدلی غرڅه ماته راغی
اخ څه ښاسته و زلمی
اخ څه ظالم و زلمی
چې په تيره چاکو يې
زما په تاند او په غوښن ټتر کې
د خپل معشوق د نامه
شپږ نه اوه توري ژور وليکل
زما ټټر کې يې چاکو وښوييد
ښايي زما د ناز ښيرې وواهه
گوته يې هم شوه برسيرنه ژوبله
چې په تودو وينو يې
د خپل معشوق د نامه توري سره شول
په وينو سره توري يې
په مينه مينه ښکل کړل
زما په رگ، رگ کې
د خوارِه درد څرېکې خورې ورې شوې
خورې ورې څانگې مې
لکه د اور لمبې شوې
سيل د مارغانو رانه والوتلو
ښايي په دې پټو لمبو باندې يې پښې وريتې شوې
هغه مين زلمي زما د وجود
دوی ماتې غبرگې څانگې کورته يوړې
بيا به مې آن له شفقي مانبامه
تر سپيده داغ پورې نغمې اوريدې
د سريندې له نرې تاره تاره
دمست رباب له مستانه شاتاره
څه په خندا به مې په غيږ وريده
د شنه آسمان دسپينو ستورو له رڼو سترگو نه
د پلوشو د اوښکو داره داره
زما تر زړه به يې کړه نيغه تيره
د وړانگو سپينه لاره
پاس د ښايست پرښتو

راته نیولې وه رڼه هنداره
شینکی آسمان به مې د ځان سکه تصویر ګڼلو
او راڼه ستوري مې د خپلوځانګو
سپینې مرغۍ بللې
داسې زما د ژوندون
پیغلې شیبې تیریدې
لکه د پیغلو تکې سپینې لیچې
د شنوبخملو له لستڼونو راوتې تیریدې
داسې یو څو شپې وې د قدر شپې وې
چې ویښ به ناست وم تر سهاره پورې
چې تږوله شپه به مې ځارلې د مینو لارې
زما به پاڼه پاڼه غوږ غوږ وه
د هغې مستې سریندې نغمو ته
چې په لیندۍ کې یې یو څو تاره د څنوهم وو
له کاره ویستی ومه شرنګ د رباب
چې په سینه یې د درخو د لاس ځوندې زنګیدل
پرون چې بیا لکه د ناوې زلمی
د نجونو منځ کې ناست وم
ناڅاپه کړیکې شوې د وای مورې نارې خورې شوې
په ځان خبر هم نه وم ځانګې مې ارې ارې شوې
بنګړي زرې زرې شول
منګي کودي کودي شول
څڼې لمبه لمبه شوې
شالونه باد یوړول
پاس مې آسمان ته کتل
زما پر خوا و پر غړمبا راروان
لکه یو ستوری له مداره وتی
لکه یو غشی له پرهاره وتی
د اور ابلیس د ملایکو له کتاره وتی
پر جوماتونو پر حجرو پر ګودرونو پرې وت
ونورانچ وتسم د سر رپپرې وت
زه د ګودر په غاړه نه یم ولاړ

www.sikaraam.com

ما سل زلمي سل جينکۍ په غيږ کې ټينګ نيولي
زه دکنډو پر سر په لويه هديره کې ښخ يم
زما په هر تابوت کې
يو ګودر وينې ښخې
يو ګودر اوښکې ښخې
زما د هر تابوت په هره تخته
د عاشقانو معشوقونومونه
د ګور چينجو خوړلي
زما له څانګې جوړه شوې سرينده ده ماته
په تش ګوګل کې يې د غم توره پيشو ده ناسته
خوله يې په وينو سره ده
د ژوند له ښکليوماشومانو يې خوبونو وړوي
د کښت د پيغلو پر سينو نه شته د ږدونو ځونډې
زموږ دکلي د بامونو د سر
روږدې کوترې وږې
زما د څانګې له رباب نه د شکيدلي ځونډې
وچې مرۍ تيروي.
زه د بر کلي د ګودر د غاړې
يو شين چنار وم چنار
زه د ګودر په طبعه ښه پوهيږم
ګودر شاعر غواړي چنار غواړي
ګودر د سلو منګو
رنګين کتارغواړي
ګودر د غرونو، د ځنګلونو د پيغلوټو چينو
کاروان مهار غواړي.

د جنګ د ناخوالو په انځورولو کې که ښاغلی کاروان ديو مخکښ شاعر په توګه ومنو دا به مو زياتی نه وي کړی، ځکه دی يوې خوا شعر ته موزونه او مناسبه ژبه پيدا کوي او له بلې خوا تشـبيهات دومره ښتني کوي چې هر لوسـتونکی ترې په خپل انداز خوند اخلي. په پورته شعر کې مو وليدل چې په څومره هنري ژبه راته لومړی کليوالي ماحول، په يو سوله ييز چاپيريال کې باد ته د چنار اتڼونه، ټولنيز دودونه او معيارونه، د کليوالو نجونو معصومې هيلې لکه دخپل يار نه د بنګړيو غوښتل، خپل جانان ته د رنجو کڅوړه او دستمال جوړول

او بیــا په پــای کې د روانې غمیــزې د توپانونو له لاســه د چنار دغبرګو څانګــو ماتېدا، د معصومو هیلو قتلېدل او د اتڼ پر ځای د چنار له تنې نه کلیوالو ته د تابوتو تختې جوړېدل او بیا یې په غېږ کې د شهیدو بې ګناه انسانانو جنازې راته انځوروي. د ښاغلي کاروان په شعرونو کې موږ وینو چې د لنډو کیسو په څېر خو په استعاري ژبه یوه پېښه بله زېږوي او یا هم په ډرامه کې د موضوع پر بنســټ یوه پیښــه له بلې سره پیوند لري او په ډېره عاطفي توګه د هېواد د بربادیو د غمیزې پیغامونه راتلونکو نسلونو ته پرېږدي.

کلــه چې مــوږ د جنګ بدمرغۍ یــادوو نو نه یــوازې کلي او غرونه، بلکې د ښــارونو هغه انځورونه مو هم ســترګو ته درېږي چې د جنګ په لمبو کې ســوځېدل. ښــاغلی پیرمحمد کاروان چې کله په خپلو ښارونو بلې لمبې ګوري، خپل خلک په دې لمبو کې سوي لوي ویني نو د مرده باد او زنده باد پر ځای بې واره چیغې کوي چې:

راشه د رحمت بارانه ښار اخستی اور دی
ژوند لکه د کلي د چنار اخستی اور دی
راشئ زما اوښکې ورله یوسئ بلبلانو
سوزي درنه ښکلي لاله زار اخستی اور دی
نه یې د چا لاس لکه امېل د غاړې تاو شو
غاړه کې یې خپل د غاړې هار اخستی اور دی
لرې شه لمنه به دې وسوزي طبیبه
پرې یې ږده چې څه کیږي پرهار اخستی اور دی

د ښاغلي کاروان په غزلونو کې ډېر داسې شعرونه لیدلی شو چې د جنګ د غمیزو راڼه هنري انځورونه یې ګڼلای شــو، په لاندې بېلګو کې به ولولو چې د خپلو پېغلو او زلمیو د بې ګناه قتلېدلو په اړه راته یو عالم خبرې لري :

وطن داور په سیند کې لامبي زلمي جنګ خوړلي
دکابل جان دنجونو مړي هم نهنګ خوړلي

سور د روح په وینو د کاروان غزل
ته وا د کابل د نجونو مړی دی

د اور په سیند کې د وطن د لمبېدلو کیسه راته د کاروان د عصر یو شمېر نور شاعران هم کوي، د دوی په شــعرونو کې هم روان حالات ښــکاري، دوی هم خپل درد په لفظونو کې

www.sikaraam.com

رانغـــاړي او په نويو معناو او نويو ترکيبونـــو سره د خپل ولس غميزه خپلو هېوادوالو او نړۍ ته وړاندې کوي، د ډاکټر محمد اکبر اکبر او يو شمېر نورو شاعرانو په شعرونو کې د روانو حالاتو ناخوالې وينو، ښـــاغلی محمد اکبر اکبر چې خپل ولس د جګړو د غميزو له لاسه په تيارو کې ايسار پاتې ويني سپوږمۍ ته وايي چې کړنګ وهه چې دا تياره فضا روښانه شي او ستا د وړانګو په پلو پل واخلو چې يو ارامه او سوله ييز منزل ته ورسېږو :

کړنګ وهه چې وخوځي دا ټپ ولاړ وختونه مو
توئ شه چې وچېږي مسته وينه د رګونو مو
پېړ شو له زنځيره راته زنګ د زنځيرونو مو
مينه حلالېږي په چړو د هوسونو مو
ډکې شوې په سرو اورونو خولې د سرو اورونو مو
ونښتې سلګۍ غوټو رسو ته د دارونو مو
نو کړنګ وهه ای جامه!
کړنګ وهه ای جامه ډېوې مړې شوې او شپې ګورې شوې
حورې راته ډمې شوې او ډمې راته حورې شوې
ډېرې زامن زېږندې اغلې ميندې بورې شوې
مات راته ډالونه شول او پڅې راته تورې شوې
پېغلې د هېواد مو د يوې ټنګې مزدورې شوې
زړونه زموږ لوټ شول او سينې زموږه چورې شوې
ټولې شاړو وځښلې که ګورې وريځې ګورې شوې
نو کړنګ وهه ای جامه!
کړنګ وهه ای جامه چې سر پرې شوه د قلم تنه
کېناسته دګور خازو ته تانده د علم تنه
اوس مو د کوڅو چنو ته پرېوته د غم تنه
داړې د شيطان به درنه وخوري د حرم تنه
زخم درنه غواړي ددې زخم د مرهم تنه
هسې به خپل ځان مرګې له ورکړې ددې چم تنه
تا که په يو غړپ راژوندۍ نه کړله د دم تنه
نو کړنګ وهه ای جامه!
نو کړنګ وهه ای جامه چې د لېچو بنګړي شرنګ وهي
پېغله سندرغاړې د ژوندون مرګي ته چنګ وهي
هسې ګنې خدايزده چې به سر د چا په سنګ وهي

www.sikaraam.com

غله د پسرلو رانه اوس درمند د لونګ وهي
نو کړنګ وهه ای جامه!
کړنګ وهه چې بیا د قدمونو سپینې و نښتې
زړه کې د نیمزالو ارمانونو وینې ونښتې
خپلې تېرې تورې مو په خپلې وینې ونښتې
اخ زما شیرینې ته د چا په مینې ونښتې
نو کړنګ وهه ای جامه!
کړنګ وهه چې ستا له کړنګه پرانیزو د پل لارې
پل د برېښ په پل کېږدو او پرې کړو د مزل لارې
لمر په بام راوخېژي رڼې کړو د بورجل لارې
لوټ کړو د ژوندون په میړنیو د اجل لارې
یو سو د پامیر لیمه ته بیا د زړه د تل لارې
نو کړنګ وهه ای جامه!
کړنګ وهه چې دلته د زور ټولې تنې پریوځي
دغه نهیلو نیولې لاس له زنې پریوځي
سور د جبر څپر یې د زور له ستنې پریوځي
ګل خوړونکي کسی یې د ګل په غنې پریوځي
ګڼ د کرکې اور ته د ا جوپې ازغنې پریوځي
نو کړنګ وهه ای جامه!

د هېــواد یو بل وتلی شــاعر فاروق فردا بیــا دخپلې ټولنې په دردېــدو، د خپلو هېوادوالو دمهاجرت او دربدریو په لیدو د شعر په هنري ژبه پوښتنه کوي:

ولې زموږ له بڼ نه
دا ډلې ډلې مرغۍ آلوزي ځي
او بېرته نه را ګرځي؟
خدایزده چې چېرته او په کومو سوزوونکو مېرو
دهوسایۍ په هیله
د سوال دانې لټوي؟
د چا د ذهن د ټوپک په ډزو،
دا دچڼچڼو بچې
د بې بڼکو مېندو

www.sikaraam.com

مات وزرونو لاندې
چې لا د ژوند پر ښو او بدو هم ښه نه پوهېږي،
په ړنگو ځالو کې تروري ښکاري؟
ولې زموږ له بڼ نه
دسرو او شنو گلونو
هاگلابي عطرونه
آلوزي ځاځکي ځاځکي،
او وړي له ځانه سره،
زموږ دگلونو د هستیو معنی.
دا پر گلپاڼو باندې
راځي د چا له لاسه
دوچکالیو موسم؟
ولې زموږ له بڼ نه،
دا دکلونو ویالې وچې شولې
د چا د ذهن د ټوپک پر ډزو،
زموږ د ویالو د سرچینو د میندو
تیونه وسوځېدل؟

لکــه دمخــه مې هم یادونه وکړه، درد که د پښــتون د وجود په هر ځای وي ټول وجود یې ناکراره کړی وي، پښتانه که دلته په کابل کې له ناخوالو سره مخ کېږي او که په پېښور کې، که د ســوات غرونه لوټېږي او د اور د لمبو خوراک کېږي او که د نورســتان، کونړ او پکتیکا پښتون شاعر پرې دردېږي. د اکبر سیال یو شعر لولو چې کله په کابل او پېښور کې د خپل گل گل وطن لوټ کېدل او ورانېدل ویني نو په یو ښکلي شعر کې راته د خپل جانان جانان وطن د سوزېدلو کیسه څومره په سوز کې کوي، دښمن ته ښېرا کوي چې د افغان وطن د وجود اورونه دې پر دښمن پورې شي:

د شنو خالونو رَو گودر لوټ شو
هم مې کابل هم پیښور لوټ شو
د یرغلگرو زړونه یخ شو که نه
د ښاپیرو د وطن غر لوټ شو

زما جانان جانان وطنه ،افغان وطنه

www.sikaraam.com

ستا د وجود اورونه ستا په دښمن پورې شه

ستا ګلالي ګلالي ګل ګل څوانان په وينو ولمبيدل
ستا ګلغوټۍ تنکي تنکي ماشومان بې وخته ورژېدل
په ګلدرو دې اور وريږي له اسمان وطنه

ستا دوه نسلونه، ګلالي نسلونه لوی په باردو کې شول
د درد او مينې د وفا رنګونونه توی په بارودو کې شول
د هر ځيګر نه وينې څاڅي د خپګان وطنه

ای لر او بر په پښتنو مينو چغې مه اورئ که نه
د احمد شاه او خوشال خان زامنو چغې مې اورئ که نه
ستاسو د ننګ په خاوره جوړ دی چور تالان وطنه

ستا په دې تورو تورو غرونو کې به د ژوند ښکلا جوړوو
ستا په کوڅه کوڅه دشتونو کې به رنګ او رڼا جوړوو
ته مې وجود، ته مې جامې ،ته مې ګريوانه وطنه

زما جانان جانان وطنه ،افغان وطنه
ستا د وجود اورونه ستا په دښمن پورې شه

د وينو او اوښـــکو کيســـې له بده مرغه د ډېرو شـــاعرانو په شعرونو کې وينو چې د جنګ د ناخوالو له لاســـه سر ټکوي، خو د ځوانو شـــاعرانو په شعرونو کې بيا ددې درد تاثيرات زيات ليدل کېږي، لاندې به د يو څو تنو ځوانو شـــاعرانو شـــعرونه ولولو چې کله ناکله يې د ولس د دردونو او ناخوالو په ليدلو غزلو کې د وينو رنګ زيات شوی :

وينې يې څاڅي له ټپي ټپي وزر تېريږي
د چم چنچڼې چې هر وخت زمونږ پر سر تېريږي
چې هرې خواته د دې ړنګ کلي نه ووځمه
همدا قبرونه،دا جنډې مې تر نظر تېريږي
او يا هم:
د بم وهلي تنکي ورور ورک مړوندونه ګوري

www.sikaraam.com

لېوي ستورو ته يو څوک له يوې څنډې غونډی

نه پکې شرنګ و، نه سندرې د بنګړو پر ژبه
راته يې واچوه خالي ټېپي مړوند پراوړو
د ټوپک ډز ې د چاساندو غبږ کې ونيولې
له پورې کلي ورا رانغله ډولۍ وځنډيده
سر يې د اوښ د غاړې زنګ کوڅه کې کړنګ ونه کړ
ښايې رانغله په ايلبند کې کوچۍ وځنډيده

(څپو کې انځورونه، اجمل اند)

او يا هم :

يوازې د سپيڅلې مينې ترې دي ساحله
ټول عمر جنګ زپلې او بې وروره جينکۍ دي

(بختيار ساحل)

صديق الله بدر زموږ د هېواد روان حالات څومره ښه انځور کړي:

پلار مې په جګ اواز نور نه غړېږي
زما يو ورور و، رانه جنګ سره لاړ
د خپل زړګي شاړو کوڅو ته ناست يو
د مينې نوم د وينو رنګ سره لاړ

ادبپوهان په دې باور دي چې ديوې سـيمې حالات د هغې سـيمې د ژوند پر هره څانګه اغېـز کوي، کله چې په يوه هېواد کـې جنګ وي او يا امنيتي حالات په کې کړکېچن وي، انسـاني مـرګ ژوبلې روانې وي نو که شـاعر يا ليکوال يې وغواړي او کـه نه دغه کړکېچن حالـت او د جنګ بدمرغۍ د سـيمې ادب متاثـره کوي. لکه د مخه چې يادونه وشـوه، د افغانسـتان په دې تېرو پنځه دېرش کلنو جګړو کې چې څومره شاعري شوې ده د موضوع او محتوا له مخې تر رومانيزم په کې ريالېزم ډېر دی، که د شاعرانو شعرونه وڅېړو نو په سلو کې ٦٠ شـاعران به داسې وي چې ددوی په شـعرونو کې به پر افغان وطن د راغلو غمېزو يوه نه يوه برخه انځور شـوې وي. په تېرو جګړو کې نه يوازې دا چې افغانان په پراخه کچه ووژل شول، بلکې په لکونو معلول شول، په مليونونو بې کوره او مهاجر شول او تر دې زيات لا په ډول ډول رواني تکليفونو اخته شول. اوسمهال ترټولو دا دردوونکې خبره ده چې ددغو

www.sikaraam.com

مرګ ژوبلو تصویرونه هره ورځ په رسـنیو کې ښـودل کېږي چې دا پـه خپله ولس ته یو بل رواني تکلیف دی، که له زیاترو شاعرانو د جنګ د بدمرغیو د وروستنیو شعرونو د لیکلو لامل وپوښتې نو وایي به چې کوم تصویر یې په رسنیو کې ولید او ترې متاثره شو. شرر ساپي هم ښایي همداسې کوم تصویر لیدلی وي چې ویلي یې دي:

پروت دی یو ګلرنګ په تصویرونو کې
سور په وینو رنګ په تصویرونو کې

بیا د چا په کور ټکه پریوتې ده
شور دی او غورځنګ په تصویرونو کې

رایې کړه د جنګ نشه په سترګو کې
چا واړول بنګ په تصویرونو کې

هرې خوا لمبې دي او اورونه دي
هرڅه ښکاري ړنګ په تصویرونو کې

زړه کې مې د درد لاسونه مه وهئ
مه خپروئ جنګ په تصویرونو کې

دهېـواد لـه وتلي لیکـوال او کره کتونکي نورالحبیـب نثار نه مې یـوه ورځ په همدې اړه پوښتنه وکړه چې ولې اوسمهال زموږ په شعرونو کې دجنګ موضوعات ډېر دي . د هغه په وینا دچا چې کور اور واخلي او یا چا چې خپله اور اخیستی وي نو بیا یې رومانویت ته دومره پام نه وي، یوازې د درد او سوز له لاسه چیغې وهي. خو؛ ښه خبره داده چې دغه د سوز او درد چیغې شعاري نه وي او د هنر په جامه کې پسوللې وړاندې شي چې هغه هنري ارزښت یې پاتې شي. ښاغلي غفور لېوال د خپل قام دیوه ترجمان په توګه د کندهارۍ ملالې په نامه د وینې، دردونو او ورانیو د تصویرونو په لیدلو څورېږي، نور یې هېڅ هم له لاســه پوره نه دي یوازې کندهارۍ ملالې ته وایي چې خدای ته پناه یوسه بس همدا به مو نصیب وي، د ښــاغلي لېوال دا نظم دومره خوږه او هنري ژبه لري چې زه یې تشریح کولو ته حاجت نه وینم، د نظم هر بیت لوستونکو او اورېدونکو ته یو ځانګړی پیغام او مسیج لېږدوي:

کنداری ملالې دا به مو قسمت وي
په اوږو چې جنازې وړو ډولۍ نشته

www.sikaraam.com

سر په غلا گرځوو خدای نه امان غواړو
په هیندارو پټه شوې خولۍ نشته

کنداري ملالې تا چې خامک کړې
هغه شین ځادر په کټ د شهید خور دی
د لالا غاړه دې مه گنډه په سنډو
د هغه ځلمي بدن په لوگي تور دی

کنداري ملالې! گل معلم شهید شو
د مکتب په کتابونو لمبې تاو شوې
سیپارې د ماشومانو په لاسو کې
په دې پاڼو د گلونو لمبې تاو شوې

کنداري ملالې داسې ورځې راغلې
چې انسان له بل انسان څخه ډاریږي
د کاوبای او د شیخانو لیونتوب کې
یو افغان له بل افغان څخه ډاریږي

کنداري ملالې شین ارغند وچ شوی
د بابا صاحب میلې وحشت خوړلي
د خرقې په دروازه کې خلک سوځې
د انارو سرې غنچې وحشت خوړلي

کنداري ملالې هله چې بیا گرز شو
بیا به چیرې ماشومان په وینو سره وي
بیا به کونډه اجاڼۍ چیرته چغیږي
بیا به کوم ځای کې زخمي زلمي پراته وي

کنداري ملالې تور پړونی واخله
زموږ خویندې سیه پوشې دي له غمه
بس همدا به مو شامیت وي له ازله
چې مو وچې نه شوې سترگې هیڅ له نمه

www.sikaraam.com

کنداري ملالۍ ته خبره نه يې
چې موږ ژوند ته له اوله پيدا نه وو
موږ د مرګ لپاره خدای يو پيدا کړي
لا خبر په راتلو نه يو چې په تله يو

کنداري ملالۍ دا خبر رښتيا ده
چې په خپله مو مرګ کور ته راوستلی
موږ ته اور په خپلو خسو دی بل شوی
موږ په خپله خوله دی خپل بدن خوړلی

کنداري ملالۍ ټول تاريخ دروغ دی
دې وطن کې نه وياړونه نه اتل شته
دلته ټول تاريخ په سرو وينو ککړ دی
دلته جنګ شته دلته مرګ دلته اجل شته

کنداري ملالۍ خدای ته پلو يوسه
چې يې ولې موږ پر دې ځمکه پيدا کړو
دا وطن خو بس په وينو کې ټاپو ده
ځان په مرګ مګر له دې ځايه پناه کړو
کنداري ملالۍ چا ته ګيله وکړو
عقيدې ټول ملتونه جنتي کړل
بس يو موږ يې د دوزخ د تلو لايق کړو
زموږ ليوانو تې کفار د رمې سپي کړل

کنداري ملالۍ دا د خدای رضاء ده
چې کفار مو خپل کاله ته رابللي
موږ له خپلو مسلمانو ښخه ساتي
د دنيا ليوني دلته دي ښاغلي

کنداري ملالۍ اوښکې دې ارزانه
ستا د اوښکو زما د وينو قدر نشته
کندهار چې لکه زړه د پښتنو و

www.sikaraam.com

په دې ښار کې اوس د ژوند څه اثر نشته

کنداری ملالې خدای باندې دې سپارم
زه اوس دومره بیچاره یم لکه مړی
اوس مې مینه د ګلونو په هار نه ده
اوس مې غاړه کې دی پروت د وهم پړی

کنداری ملالې څه الله دې مل شه
خدای دې ساته له بمونو له غمونو
هغه وخت به بیا د مینې دیدن وکړو
ارغنداو چې شي بیا سور په انارونو.

په پورتني شـعر کې وینو چې په شـعر کې یـوه خاصه فضا ایجاده شـوې، چې د جنګ تاثیرات په کې له ورایه ښـکاري. یو خاص مضمون لري او دیوه خاص چاپېریال په اړه راته خبرې کوي، د خرقې دروازه کې د خلکو سـوځېدل، د بابا صاحب میلو ته له ډاره نه تلل، د کاوبای او د شـیخانو په لیونتوب کې د یوه انسـان له بل انسـان نه ویرېدل دا ټول هغه څه دي چې زموږ د ټولنې یو رښـتینی او دردوونکی تصویر زموږ ولس او راتلونکیو نسـلونو ته له ځان سره لېږدوي. د شعر دغه مضمون، خیال او خبرې ټولې د شاعر خپل کشفیات او عینـي تجربې دي چې له ټولنې سره یو ډول پیوند په کې لیدل کېږي. د ښـاغلي غفور لېوال په څېر د مخکښـو شاعرانو په شـعر کې د جنګ دناخوالو محتوا د نورو ډېر و ځوانو شاعرانو له غږونو سره هم بدرګه شوی چې هر یو یې د همده په څېر د خپلو سترګو لیدلی حال او تجربه راته په هنري ژبه وړاندې کوي او له جنګ نه د راپېښو بدمرغیو له ګېو خواو نه مـو خبروي. د طالب منګل (کندهاری موري) نظم کې دیـوه دردېدلي مور په اندامونو کـې د درد د خورېدلـو تصویر وینو، د ګل ماشـوم ایرې ایرې تصویرونه یې په سـترګو کې ښکاري، دیوې دردېدلې مور خوږ اواز په قبرونو کې ایسارېږي، زمانه یې سلګی بې حجابه کوي او داسې نور:

بیا معصومې آئینې شوې ماتې ، ماتې
بیا ایرې،ایرې د ګل ماشوم تصویر دی
پرېشانې مورې سترګې پټې نه کړې
ستا په سترګو کې د خپل ماشوم تصویر دی

www.sikaraam.com

درد دې بيا په اندامونو کې ايسار دی
خپل ماشوم دې په لاسونو کې ايسار دی
پرېشانه بې امکانه اللو شوه
خوږ اواز دې په قبرونو کې ايسار دی

زمانې درله سلګۍ کړه بې حجابه
په زخمونو کې حساب ساتلی نه شې
ته بوډۍ يې ستا په مخ کې رنګ بې خوبه
ته په سترګو کې درياب ساتلی نه شې

په ژړا،ژړا دې څوک توانې نه کړل
مه تاوېږه جنازې نه بېرته راشه
ته بوډۍ يې ته هيڅ غم زغملی نه شې
ته د کلي هدېرې نه بېرته راشه

خدای به واړه دا ساګانې کړي راټولې
ستا ښېرا که زمانې بدنامه کړي
ستا لمنې ته به ستوري ټول راغورځي
ستا دعا که زمانې بدنامه کړي

د طالب منګل په يو شمېر نورو شعرونو کې هم وينو چې کلي ته د حادثو د بېرته راستنېدو نه مو خبروي، د رنګونو په هديره د کلي د بدلېدو کيسه راته کوي، په تابوت کې را ايسار اندامونه راته ښيي او دداسې جنازو په وير ژاړي چې څېرې يې نه پېژندل کېږي. په افغانستان کې له بده مرغه ډېرې داسې پېښې ليدل شوي چې تر وژل کېدو وروسته د جنازو څېرې ور خرابې شوي. د طالب منګل يو بل نظم به ولولو چې څومره دردوونکي تصويرونه لري:

په څادر کې مو راټولې کړې ساګانې
د الله،الله په شور کې پناه کيږي
هدېرې مو په روحونو کې ايسارې
زنده ګې لاړه په سور کې پناه کيږي

www.sikaraam.com

له هندارو نه پردې راغورځېدلي
تصویرونو کې مو ناز د حادثو دی
په جذبو کې لوخې،لوخې سترګې ګرځو
نظرونو کې اغاز د حادثو دی

قدمونو ته رالاندې شولې سترګې
رڼاګانې په قبرونو کې پرتې دي
په ښکلا پسې مو لاس د کاڼو رسي
په وجود کې مو شلیدلي آیینې دي

په جامونو کې مو څښلي دي سکروټې
پستې ګوتې په پیالو کې وینې، وینې
په چینه کې مو زخمونه رابهر شول
رابهیږي په اوبو کې وینې،وینې

د سندرو پیغمبر سره ساه نه شته
د سازونو منارې راغورځیدلي
په ګډا،ګډا د ډمې سترګې ورکې
په تخچونو کې ډیوې راغورځیدلي

اوربدلي مې دي چې په نوره نړۍ کې د چا زوی اتلس کلنۍ ته ورســېږي نو د ځوانۍ په ویاړ یې جشــن نیسي، مګر د جنګ له لاســه د زموږ په هېواد کې د اولادونو ځوانېدل هم یوه بله ســتونزه وي، دلته چې د چا اولادونه د بلوغ مرحلې ته ورســېږي نو نه یوازې دکار او روزګار، واده او کــور غم یې وي، بلکې له مور او پلار سره یې دا اندېښــنه هم وي چې زوی به یې د چا د ګولۍ ښــکار شي، په کومه لیکه کې او د چا په ګټه به قرباني شي. یو ځوان شاعر ارشاد رغاند همدغه موضوع په ډېره عاطفي ښه شاعرانه کړې ده:

یا عسکر یا به طالب شي سر به وخوري
ددې کونډې خوارکی زوی هم زلمی شو

او یا د ښاغلي رغاند دا بیت چې:
پرون جګړه کې یو عسکر او یو طالب چې مړه شول

www.sikaraam.com

کلي کې لغوه شول، دوه ځایه د واده مراسم

عسـکر یا طالب کېدل، د عسـکر او طالب په وژل کېدو په کلي کې دوه ځایه د واده د مراسمو لغوه کېدل، دا ټول هغه څه دي چې د جنګ له لاسه دیوې تالا والا ، بې ثباته، نا امنه او مجبورې ټولنې تصویرونه راته وړاندې کوي. د ځوانو شـاعرانو په شـعرونو دغو ډول تصویرونو ته په پام ویلی شو چې شاعر دیوه لوري په مرګ هم ویاړنې نه وایي، یو لوری هم اتـل نـه بولي، د یوه لوري سـپکه او د بل درنه وایي، یوازې او یـوازې د یوې بېوزلې مور د زړه خبره راته کوي، ددوو کونډو د راتلونکي ژوند بېوسـۍ راته ښـیي او په ټولنه کې په یوه تپل شوي جنګ کې د دوو مقابلو ورونو په ویر اوښکې تویوي او دا وښکې تویول په دومره عاطفي ژبه دي چې زموږ په سترګو کې هم اوښکې راولي او د یوه حساس مخاطب په توګه راته پیغام راوړي چې د دوو نورو داسې ودونو د لغوه کېدلو مخه باید ونیسو.

ښاغلي اجمل اند چې د کورنیو جنګونو ډېرې بدې پېښې یې په خپلو سترګو لیدلي او که مبالغه ونه کړم د شـعرونو زیاته برخه یې هم همدې روانو ناخوالو ته لیکل شوي دي، دیوه بل افغان ځوان تصویر داسې د هنر او عاطفې په جامه پسوللی:

غبږ له دې بیا ځولۍ ، ځولۍ درباب ترنګه!راغلم
لکه افغان زلمی همدا ساعت له جنګه راغلم
خولې خولې ستومانه روح مې په ټپو دمه کړه
پردې مزدور غوندې له بیل او له کولنګه راغلم

احسان الله الینګاری بیا وایي:

خیال مې هوا کې لکه باز هسې هوا ګاموي
د ټوپک خوله کې د ښکاري ځان ته باولۍ لټوم
نیازبینې سترګې د جانان مې غریبي وخوړې
ښایسته ځواني کله پنجاب، کله پنډۍ لټوم.

پر انسـاني تلفاتـو او قربانیو سربېره یوه بلـه ناخواله چې ډېر افغانان یـې وکړول هغه د جنګ له لاسه بې کورۍ او مهاجرتونه وو. کله چې د مهاجرتونو د دوران شعرونه لولو له ګڼو ناهیلیو ډک اوازونه په کې اورو. د افغان مهاجرینو په شـعرونو کې ګڼې هغه سـتونزې وینو چې دوی د مهاجرت په دوران کې ورسره مخ شـوي. یوه خبره چې د یادونې وړ ده هغه دا چې افغانانو ډېرو هېوادونو ته هجرت وکړ، چې زیات افغانان په پاکستان کې مهاجر شول،

www.sikaraam.com

هغه افغانان چې په پاکستان کې مهاجر شول، زیاتره یې په لره پښتونخوا کې اوسېدل چې پــه خپله شــاعری کې یې د چاپېریال نه په تاثر د جنــګ موضوعات بیان کړل، خو ځینې بیــا په کــې د تنظیمي ډلو او واکمنو تر تاثیر لاندې راغلل خو د مهاجرینو په شــعرونو کې داســې شعرونه هم وینو چې یوازې او یوازې د جنګ له بدمرغیو او د مهاجرت له کړاوونو او محتاجیو نه په کې شکایت شوی.

پر دې سربېره هغه افغانان چې ایران یا نورو هېوادونو ته مهاجر شول د هغوی د شعر ژبه او ســبک بیا د هماغو کوربه هېوادونو دمعنوي او لفظي ځانګړنو تر اغېز لاندې راغی چې ورو ورو بیا هېواد ته له بېرته ســتنېدو سره په افغانســتان کې دننه هم یو شمېر شاعرانو د هماغو هېوادونو په ســټایل شعرونه ولیکل. ددغسې شعرونو بېلګې ډېرې لرو چې د ایراني شــاعرانو تر اغېز لاندې لیکل شــوي، خو توپیر یې دادی دلته هغه استعارې او تشبیهات کارول شــوي چــې جنګ پر ضد د خلکــو په زړونو کې عاطفه راویښــوي، بله دا چې که یو افغان شاعر په پردي وطن کې شعر لیکلي، که د خپلې لیلی یادونه کوي نو د لیلی ترڅنګ بــه یــې ارو مرو یوه کنډواله هم ښــکاري، د ټانګ او یا راکټ یو تصویــر به هم په کې وي، یو بمبارد شوی کلی به هم په کې یاد شوی وي. د ځوانیمرګي حسیبه شهید یو شعر به وګورو چې د جنګ په لمبو کې د لوي شوي نسل یوروڼ او هنري تصویر راته وړاندې کوي، د زده کړو د ســتونزو، له ماینونو ډکو لارو، په پردیو هېوادونو کې د افغاني غرور د پایمال کېدلو، مهاجرت او ګڼو نورو ستونزو نه شکایتونه لري:

سمسور فریاد، وینه ، ماتم مې د هیواد نښه ده
زه په جګړې کې زیږېدلې یمه

د زیږېدو نیټه مې
کټ مټ ددې کلي د جنګ په شانې
راته معلومه نه ده
د ښوونځي لاره مې
په لوګو ومونډله
اولومړنۍ زده کړې مې
د راکټونو ددرزا په بدرګه کړې دي

تر منځني ښوونځي
مې د ماینونو تر منځ لار وهلې
او لوړې زده کړې مې

www.sikaraam.com

د بل اسمان ترسیورې لاندې
پردو کوڅو کې کړې

ما بې کورۍ کې تجربه کړې ده
بېوطني مې فلسفه ده د ژوند
ما د کړاو او له دردونو څخه زده کړه کړې
تنها ژړا مې تجربه ده د ژوند

زما تاریخ هم ټول په وینو سور دی
زما کاري تجربې
ټولې ترلې له جګړو سره دي

ماته ژړا، لکه خندا داسې ده
زه مې د اوښکو په باران کې لویه
له ما نه مه غواړئ چې ښه اوسمه
د تش په نوم ملي غرور سندرې
هسې وایم

مورنۍ ژبه مې د ځان دښمنه
پردیو ژبو سره کار لرمه
خپل دین مذهب مې اوس
په خپله وژني
د بل مذهب سره روزګارلرمه
زما احساس هم اوس پردی احساس دی
دغم مضمون کی دوکتورا لرمه
زما نورحال بیا په ګمنامې پټې
له یوې ورکې پلورل شوې نجلۍ
او یوې بې وسه ځوریدلې مورنه
یتیم خانې سره نږدې
او د کډوالو کمپ کې
له یوې کونډې واخلئ

www.sikaraam.com

زما اوس داسی پیغمبر پکار دی
چی سرتر پایه مې شهرت بدل کړي
له مرور ځان سره ما پخلا کړي
زما د ټول ژوند واقعیت بدل کړي
ماته ډیوه د معرفت بله کړي
زما د کرکې ذهنیت بدل کړي
ما له نړۍسره په لار سمه کړي
زما د وینی بیه لږ لوړه کړي
زما له نوم د وحشت ټکي پاک کړي
زما له سترګو اوښکې بل ځای یوسي
او ماته وښیي چې
ژوند کی رڼا څنګه وي
ژوند کی ښکلا څنګه وي
ژوند کې خندا څنګه وي؟

په پورتني نظم او په دې کتاب کې د نورو راغلیو شعرونو پر محتوا که خبرې وکړو، نو ښایي یو نظم رانه یو کتاب خبرې وغواړي، خو هغه څه چې په عمومي توګه یې ویلای شو، هغه دا دی چې د جنګ د ناخوالو موضوعات د پښتو شعر کلاسیکو قالبونو او نویو معاصرو قالبونو دواړو ته ننوتي دي. که د یو شاعر ټول غزل دجنګ ناخوالې ونه لري نو یو یا دوه بیته خو به یې خامخا همدغه ځانګړتیا لري. دیوې بلې پښتنې شاعرې حمیدې پکتیانۍ په یوه نظم کې بیا د افغانانو د مسافرتونو ستونزې وینو چې څنګه یوه پښتنه د خپل خاوند راتللو ته ورځې شپې شماري. که څه هم افغانانو له پخوا نه یوه او بل هېواد ته مسافرتونه کول، خو اوسمهال دروان جنګ له لاسه ډېری افغانان له خپلو کلیو نه دښکیلو جګړه مارو غاړو له لاسه یا له کورنۍ سره یو ځای مهاجرت ته اړ کېږي او یا هم یوازې وطن همدې کلیوالي او محلي ستونزو ته پرېږدي او نورو وطنونو ته مخه کړي:

ستا په نامه زه ګرانه ناسته یمه
تورې کمڅۍ سپینوم ستا لپاره
منم چې عمر دې سفر کې تېر شو
سختې شپې دې په ځان وزغملې
زه دلته هره شپه سپوږمۍ پوښتمه
له سپینو ستورو سره خبرې کړمه

www.sikaraam.com

د باد څپو سره په جنگ یم هر وخت
خو ستا خبرې راته څوک نه کو ي
ټپې سندرې راته څوک نه کوي
اوس چې مرغان دا ستا له لورې راځي
ماته بلا پوښتنې مخې ته شي
وایم چې کاش!
ستا هم وزر وای داسې
له تورو غرونو راوښتلای شولای
لکه شاهین ستا هم سفر وای داسې
اوس چې کارغه د کور پر بام کېني
کاغ کاغ شروع کړي په زېړي مازدیگر
زه پرې دا ستا د راتلو فال ونیسم
او بې اختیاره دعا وکړم درته:
مساپري دې ډېره وکړه
منگول دې ډکه شه چې ژر راشې مېنه.

پــه پورتنــي شــعر کې وینو چــې یوه افغانه مېرمــن څومره له نهیلیو ډک عمــر تېروي، که جنگ جگړې نه وای نو ایا په نورو هېوادونو کې زموږ د مســافرو تعداد به همدومره زیات و؟ ډېرځله خو داســې هم وشي چې افغانان له خپله کوره د مسافرۍ په تمه ووځي، چېرته په لاره کې د جگړو د گولیو ښــکار شي او یا په کوم ماین برابر شي او ټوټې ټوټې شي، یا هم کله ناکله په نورو هېوادونو کې همدغه مســافر پــه خپل هېواد کې د جگړو د بدمرغیو او د خپلې کورنۍ او وطنوالو د غربت د غمونو او اندېښنو له لاسه په رواني تکلیفونو اخته شي، په کلونو کلونو ورته په کور کې خپل خپلوان انتظار باسي خو هغه بیا ددې نه وي چې بېرته هېواد ته ستون شي. ښاغلي پیرمحمد کاروان د همدغسې مسافرو د خپلوانو اواز کومه ورځ په ازادۍ راډیو کې اورېدلی و چې بیا یې د ورکو مســافرو په نامه یو ښــکلی ازاد شعر ورته ولیکه. د پښتو ژبې یو بل مینه ناک شاعر بازمحمد عابد چې ډېر وخت یې په مسافرۍ کې تېرېږي او دې ناخوالې یې پر شعرونو زیاته اغېزه کړې ده، په خپل یو نظم کې خپلې مور ته د مجبورۍ او مسافرۍ د ورځو له لاسه فریاد کوي، خپل حال ورته وایي او غوښتنه ترې کوي چې په ماشومانو یې خیال وساتي:

مورې دعا کوه یوازې یمه
مسافرۍ مې زنده گې وخوړه

www.sikaraam.com

له تانه لرې له بچو نه لرې
دې تنهایۍ مې زنده ګي وخوړه
اوس هم چې تا ته څو خبرې لیکم
مورجانې! سخت تبې نیولی یمه
له کومې ورځې چې له کوره راتلم
له هغې وخت تبې نیولی یمه
د کوټې چت راته بلا ښکاره شي
د پردیسۍ کوټه کې ګوښې یمه
چای او بوره مې دواړه خلاص دي مورې
بس د نیستۍ کوټه کې ګوښې یمه
زما ملګري چې اختر ته تللي
هغوی تر اوسه لا راغلي نه دي
هغوی خانان دي ډېرې شپې تیروي
هغوی زما غوندې داغلي نه دي
اوس خو هوا ښه ده د منې سر دی
د ژمې شپو ته فکر وړی یمه
بیا به پناه د چا درګاه ته وروړم
هغو شپېبو ته فکر وړی یمه
د بیګانه وو په څیر ژوند تیروم
دې وطنوالوته پردی ښکاریږم
هر څوک د شک په نظر ګوري راته
هر کابلي ته پیښوری  ښکاریږم
مورې! له تا لرې له کوره لرې
زما بچو باندې ډېر پام کوه
منم هغوی به بې سرې کوي خو
ته ورسره خیر دی ناکام کوه
د رویا لاس دې لږ راوغځوه
سترې اروا ته مې سکون راکړه
لکه د مړي ساه ختلی یمه
ماته ارام ماته ژوندون راکړه

جــلال امــر خېل د خپل يوه نظم په تاثر په فيس بوک کــې ډېره عجيبه خبره ليکلې وه، د هغــه پــه وينا که زړه پيمانه وبولو چې پيمانه ډکــه شي شراب ورنه لاندې توېږي ، که زړه پياله وبولو که ډکه شي اوبه ورنه لاندې توېږي ، که زړه تنور وبولو چې لمبې يې زياتې شي ديوالونه له ځان سره توروي، يانې کله چې د انســان زړه وســوزي نو خامخا به يې په شــعر کې هم لمبې ښکاري، شاعر که هرڅومره هڅه کوي چې له دې لمبو نه په څنګ تېر شي خو تاو به يې دده د هنر ديوالونه هم توروي. لکه پورته چې مو په پښــتو شــعر کې د روانو ناخوالو د ګڼو اړخونو او موضوعاتو په اړه شــعرونه ولوســتل، تر څنګ يې په پښتو شعر کې اوس يوه بله موضوع هم کله کله د همدې جنګ د ناخوالو له لاسه سترګو ته کېږي چې په هغه کې په انســان او انسانيت نقد دی، د جنګ په لمبو کې د انسانانو د مرګ ژوبلو او بې کوريو فکرونو شاعران دې حال ته راوستي چې ان له خپله ژونده يې زړه تور دی، د ځان په موجوديت تاسف کوي او د انسانيت په نوم هم انتقاد کوي، دجلال امرخېل يو نظم به ولولو چې په اوســنيو مرګونو حالاتو او د انسان پر وحشت پکې په ډېر شاعرانه انداز منطقي نقد شوی دی او پر همدې شعر د ښاغلي بارکوال مياخېل د فيس بوک تبصره به هم را واخلم چې په وينا يې په دې نظم کې سمندر يو ډول د ضمير او وجدان د سمبول په توګه کارول شوی دی چې خپل ضمير که يو انسان له ناسمو ګامونو اخيستلو را ونه ګرځوي نو بيا به په ټولنه کې وحشت خپور کړي او د ټولنې نظم او سکون به له خطر سره مخ شي.

سمندره زه دې ولې راواپس کړم ؟
ما خو ځان و درسپارلی ډوبيدو ته
ما په تا کړی له ځان نه ډېر باور و
ما وې ته به مې پرې نه ږدې ستنيدو ته

سمندره زه دې ولې راواپس کړم ؟
دې له غم او درده ډک جهان ته بيرته
دې ناکامې ، دې ګمنامې زندګۍ ته
دې د قتل او قتال ميدان ته بيرته

سمندره زه دې ولې راواپس کړم
بيا دې ولې کړه دنيا په ما برباده
بيا دې ولې ځان زما په وينو سور کړ ؟
لويشت لويشت ځمکه دې کړه ډکه له فرياده

www.sikaraam.com

سمندره ستا وتلي دي له یاده ؟
چې زه اور وم ، زه ګناه وم زه آفت وم
زه هوس وم ، زه عذاب وم ، زه وحشت وم
چې نه ځمکه نه فضا وه له ما ښاده

ما د ورور سینه څیرلې وه که نه وه ؟
زه د هر دور قابیل ومه که نه وم ؟
فرښتو ته مې هم نیت و خراب شوی
دا دنیا په ما ناولې وه که نه وه ؟

سمندره زه دې ولې راواپس کړم ؟
زه دې ولې په تورغره باندې تاوان کړم؟
ستا څپو ته د کشتۍ ډوبول ګران و؟
چې دې بیرته زه اخته په رنځ د ځان کړم

سمندره ! سمندره ! زوروروه !
زوروره ! د زړګي زور دې اوبه شه
شور دې مست شه چې دې نور هم لیونی کړي
او چړې دې د څپو خښې پر زړه شه

چې واپس دې کړم له شوره مې په تنګ وې؟
اوس نو ګوره چې کاڼه دې شي غوړونه
اوس نو اوره ، کړنګهار د میزایلو
د بمونو ، اتومونو اوازونه

هغه اور چې ما په ځمکه و بل کړی
اوس یې ستا لمن ته هم لمبې رسیږي
یو قیامت خو تا په خپله راواپس کړ
بل قیامت به خدایزده بیا کله جوړیږي

سمندره ! زه دې ولې راواپس کړم

www.sikaraam.com

اوس نو ته هم لکه زه راسره سوځه
تا هم ما غوندې په خپله په ځان کړي
په خپل حال دې اوس له زړه راسره سوځه

## ملي شتمنيو او چاپېريال ته اوښتي زيانونه

دکابل پېغلې مې په غاړه وړي د اوښکو امېل
دپاريس پيغلو ته غمي له بدخشانه رسي
(کاروان)

لکه په پيل کې چې مو ورته اشــاره کړې وه ، له نورو ورانيو سره سره درې نيمې لســيزې جنــګ د افغانانو د نورو معنوي ميراثونو ترڅنــګ ددوی اقتصادي منابع، ملي او فرهنګي شتمنۍ او چاپيرياڵ هم زيانمن کړی. د بدخشان او پنجشېر دغرونو لالونه او زمرود، د کونړ ، نورســتان او پکتيا چارتراش، نايابه مارغان، حيوانات او نورې داســې ملي شتمنۍ او اثار مو لوټ او تالان شــول چې درد يې د هېڅ افغان لپاره د زغم او تحمل وړ نه دی. د هېواد فرهنګي او ملي شتمنۍ نه په غرونو کې په امن کې پاتې شوې او نه هم په ښارونو کې. هغه ملي او فرهنګي شــتمنۍ چې له جنګونو څخه په ښــارونو کې خوندي پاتې وه اکثره برخه يې يا خو لوټ او تالان شــوه، يا وســوځول شوه او يا هم تر بېلابېلو دردوونکو ناتارونو لاندې راغله. څرنګه چې زموږ هېواد له فرهنګي پلوه دومره غريب او بې شتو نه و، مګر جنګ د اوس په شان ددې سبب شو چې ډېر څه ته مو زيان ورسېږي. شاعر چې د نورو عامو خلکو په پرتله لږ څه حســاس وي نو چې په هرې يوې فرهنګي شــتمنۍ به مو د اور لمبې خورې شوې نو د شاعرانو له زړونو به هم ورسره سمې لمبې پورته کېدې، ښايي ښاغلي اجمل اند همداسې کومه ناخواله ليدلې وي چې ان په خوب کې يې هم ورسره سودا ده:

خوب کې وينم چې کتار اسونه راشي
په بمونو باندې بار اسونه راشي
په ليمو کې يې تصوير د وير ښکارېږي
پېښور ته له مزار اسونه راشي

او يا هم :
چې چا يې بوټې، چا يې کاڼې چا مارغان ولوټل
زموږه ژوند هم د تالا والا سپين غر په څير دی

www.sikaraam.com

او یا د ښاغلي کاروان دا بیت چې:
مارغان دې راشي زموږ لپو کې دې ځالې وکړي
غر مو نښتر نه لري کلی مو چېنار نه لري

که د ځوانو شــاعرانو شــعرونه په ځیر وکتل شي داسې ټولګه به ونه مومئ چې د نښتر او چنار ویر په کې نه وي شوی. د څېړیو په کډه بارولو د غرونو خلکو نه وي ژړلي او د ګورګرو په ورکېدو نجونو له سوزه ټپې نه وي کړې، د احسان الله الینګاري یو څو بیتونه به ولولو:

نښترې مو په زړه کې د سپتار خبرې غواړي
کوترې پورې غره کې د چینار خبرې غواړي

د وچو ویالو کلي کې د شنو مرغانو ویر دی
وزرې په چینو کې د ابشار خبرې غواړي

څېړیو کډې بار کړې له دې ښاره څخه درومي
ګورګورې اوس له موږه د بل ښار خبرې غواړي

یو بل ځوان شــاعر رښــتین ځلانــد بیا خدای تــه زارۍ کوي چې غرونه یــې د څېړیو له سیوري خالي نه کړي. دده په وینا که د همدغو ببرسرو لیونیو سیوري نه وي نو ترېږ مرغۍ به چېرته دمه کوي، د غره نه راکوزېدونکی شــپون به د کومې نړېدلې ونې ډډې ته شپېلۍ غږوي:

خدایه شینکی لرې په غره کې د څېړیو سیوری
زموږ د چم د ببرسرو لېونیو سیوری

تنکی چنار ومه زلمی نه وم لا مات یې کړمه
راباندې راغی یو ناڅاپه د مرغیو سیوری

کوم ښایســت او تازګي چې زموږ غرونو ته شــنو ګڼو ځنګلونو، د نښــترو او څېړیو ونو، د ګورګرو ســیورو ورکړی و، له بــده مرغه دې ناولي جنګ ترې هغه هم واخیســت. اوس مو غرونه او ځنګلونه د مارغانو هغه شــور او زوږ نه لري، دجنګ بدمرغو څپو او د بارودو لوګیو

www.sikaraam.com

يــې بڼــې بدلې کړي. هر کال ژمی په زرگونو لارۍ د پکتيا له غرونو نه بارېږي چې ښــايي کلونه وروســـته د ســـپېرو غونډيو په څېر پرته له خاورو او تېږو نور هېڅ هم ونه لري. تر پکتيا ور هاخوا په کونړ او نورســـتان کې مو نښـــتر او سپېدار په ډېره بې رحمانه توگه د ټوپکوالو او قاچاقــبرو لــه خوا اره کېـــږي او کله کله خو لا ورته اور هم واچــول شي چې بيا په اوونيو اوونيو د اورلمبې د دنگو دنگو غرونو په ډډو ښکاري. د هېواد د ځنگلونو په تالا کېدلو، بې رحمانــه ريبلــو، د غرونو د ماتېدلو او رڼو چينو د وچېدلو په تاثر مې يو وخت ځنگل ته يوه مرثيه ليکلې وه:

بس د کلي غوندې ته هم بې پردې شوې
خدای خبر چې د چا سترگې در پسې شوې
لکه پېغله دې شين شال له سره پرېوت
لکه مور دې غېږ کې قتلې زمزمې شوې
ستا د ونو سترگې هم شوې نا ارامې
مخامخ يې له ابشاره کوځی پرې شوې
چې زما تر تخيله به راتللې
مړې دې واړه سندريزې شنې ويالې شوې

اوس چې کله ستا د زړه کوڅه کې تېر شم
په کې نه اورم خرپا د وچو پاڼو
ښکلوي مې نه اوږې ځانگې د گلو
گام په گام اورم هجرت د خړو کاڼو

نه هوا کې شور ماشور وي د مرغانو
نه په لارو کې شيشنا د مست اسانو
شاوخوا ته کشهاری د پښو نه شته
هيرې شوي غرنۍ له لارويانو

ها چينه چې د غره سر نه ښويېدله
په بيروچو په لاجوردو به شوه تېره
هغه اوس ديو مين کب هديره ده
شنه ليمه يې له تنزرو نه شوه هېره

د مرغیو په مریو پسې ګرځي
شین ځنګل اوس د لېوانو پاچاهي ده
بې احساسه سپي په خپله رمه ګډ دي
چارچاپېره د دېوانو پاچاهي ده

له شنو پاڼو نه یې شنه نغمه ورکېږي
دغوټیو سرې موسکاوې تروربږي
ځنګل مري د حادثو له اضطرابه
لکه کلی د سبا غم ته ځوربږي

د ریدۍ او د نرګسو وچکالۍ کې
اوس د ذهن مرغۍ کومې خوا ته یوسم
سپېدار له ژونده پربوته ځنګل کې
د غنمو تازه وږی چاته یو سم .

ښاغلي فاروق فردا هم چې د ځنګل په لمبه کېدلو او د چنارونو د جنازو په لیدلو ځوربدلی په خپل یو ښکلي ازاد شعر کې د ځنګل دجنازې کیسه راته کوي:

دا راڅول شوي لوګي
غواړي زموږ دکلیوالو د ځنګل جنازه چېرې یوسي؟
د تورو وربځو شاته
هلته چې ستوري د سپوږمۍ کاله کې،
نور د ځنګل د شینکو ونو د شنو پاڼو شنه بویونه آورېدلای نشي
آسمان نو چاته غوږوي لمنه؟
دا لمرلیدای شئ که نه
پخپلو سپینو وړانګو،
دکومې مینې پسې ساندې بولي؟
توتکۍ زېرې د سپرلي را کوي
خو لا په شونډو کې یې
مات شوي ندي د سکوت مهرونه.

(د سپوږۍ مجموعه دچاپ کال ۱۳۷۰)

لنډه دا چې د جنګ له لاسه زموږ د ملي شتمنیو، چاپیریال او ملي میراثونو په برخه کې

www.sikaraam.com

هم پر موږ رنګ رنګ ناخوالې راغلي چې د ښــاغلي اســمعیل یون په لاندې شعرونو کې به يې تصوير وګورو:

یو عشق مې لوبولو د سندرو په وزرونو
کوم چا رانه شهید کړلود زغرو په وزرونو
شمله شمله لوګی شو د غره غېږې ځنې پورته
څه اور دی لګېدلی د نښترو په وزرونو
یو دېو د قاف د غره په ځنګلونو کې مېشته دی
دژوند ډولۍ مې وړي د سوداګرو په وزرونو
د ښار د پېغلو خال وړي او د غاړوامېلونه
یو دوه ماران راوړي جادوګرو په وزرونو
څه لو دی د ګلاب ګلاب سرونو په وطن کې
یو اور خو خدایه بل کړې د لوګرو په وزرونو
پرون رمه له غره نه راغله کلي ته یوازې
څه سره وینه پرته وه د ګور ګورو په وزرونو.

د جنګ ناخوالې که له یوه پلوه زموږ شعرپه وینو ولاړه نو له بلې خوا يې يوه ګټه هم وکړه هغه دا وه چې پښتو شعر له بې محتوايۍ خلاص شو، اوس د شعر لپاره ډېر مظامین دي، زموږ کانې، زموږ غرونه، ځنګلونه هرڅه شاعر ته مظامین دي، ځکه هر يو يې دومره ګوزارونه خوړلي او چيغې چيغي دي که شاعر کلونه کلونه هم پرې شعر وليکي ليکل کېدای شي، د ښاغلي اسمعیل یون یو بل شعر به هم ولولو چې د بې رحمه رهبرانو له خوا زموږ د فرهنګي شتمنیو، ملي شتمنیو او غرونو د شهېدېدلو حکایت راته کوي:

د زړونو زور مو دلبرانو لوټ که
لکه وطن چې رهبرانو لوټ که
د مینې ستورى مې غاټول نه دی
ځکه زړګی مې پرې راټول نه دی
غرونه شهید دي، دښتې بورې ناستې
ورته امېل د ګلو شپول نه دی
څپې څپې دریابه غلی درومه
د ژوند ماڼو مې سندر بول نه دی
ستونی زېښي د ښار د هرې پاڼې
له میو ډک يې لا کنډول نه دی.

www.sikaraam.com

ښاغلي جلال امرخېل بيا فکر کوي چې زمانه ترې د رڼا راوړلو په بهانه دا هرڅه وړي، ډېوې يې وژني او ځنګلونه يې ريبي:

زمانه ؛ په بهانه د رنګ او نور
غواړي ووژني ډېوه د رنګ او نور
په ځنګل مې اور ، په سيند ګډه وبا
په اوږه مې جنازه د رنګ او نور

www.sikaraam.com

## د ماشومانو متاثره کېدل او دښوونځيو سوځېدل

دمکتب زنگ يې مات شوی په گولو سوری سوری دی
د افغان بچو ښوونځي دی، د افغان بچو ښوونځی دی
(بابرزی)

ماشومان او تنکي زلميان د جنگ د خاموشه قربانيانو په توگه د افغانستان په روانه غميزه کې تر نورو وگړو زيات زيانمن شوي. د نړيوالو اروا پوهانو د تحقيقاتو له مخې هغه ماشومان چې د جنگ په چاپېريال کې لويېږي، دجنگ نه متاثره کېږي او کله کله خو ان همدغه د جنگ تاوتريخوالی خپلو نورو هم ډولو ته هم ورلېږدوي. د ملگرو ملتونو د رپوټونو له مخې چې هر کال خپرېږي، افغان ماشومان او تنکي زلميان د نړۍ تر هر بل هېواد دجنگ له امله له ډېرو ستونزو او کړاوونو سره مخ دي. د جنگ له امله راپېښ خراب اقتصادي حالت، بې کوري، له زده کړې محرومېدل او د بې کورۍ له امله په مخدره موادو روږدېدل او سختو کارونو ته ودرېدل هغه څه دي چې د ماشومانو او تنکيو زلميانو ارام ژوند يې له گواښ سره مخ کړی. ښايي پر کوم خام سړک دکوم بېوزله ماشوم حالت يې ليدلی وي چې د ښاغلي ولي محمدکنډيوال د شعر چينه خوټېدلې او ويلي يې دي:

ټوله ورځ لمر ته د سړک کندو کې خاورې شيندي
د را روان کهول پېغلې خدای خبر که سپينې راشي
او يا هم د ښاغلي بختيار ساحل دا شعر چې وايي:
نوره نړۍ د ماشومانو زړونه لاس کې ساتي
زموږ واړه خو يا اوبه او يا سابه خرڅوي

د ماشومتوب دوره هغه خوږه او د مستيو ډکه دوره ده چه بايد د ښوونځي په ټولگيو او د لوبو به ميدانونو کی تيره شي . خو له بده مرغه د افغانستان د زياترو ماشومانو ژوند په سختو گرميو او دوړو کې او يا هم په تاند عمر د پرديو په مزدورۍ کې تېرېږي. يا به اوبه خرڅوي يا به سوال کوي او يا به هم د ژوند له نورو ستونزو سره مخ وي. ددې ماشومانو ډېری هغه کسان دی چې يا يې د کور سرپرست نه شته، يا يې دکور مشر معيوب او معلول

www.sikaraam.com

دی او یــا هم دوی یتیمان دي. په داســې حالت کې نو مجبورېږي چې یا خو پر ســړکونو خاورې وشیندي، یا مزدوري وکړي، یا نورو ته د سوال لاس وغځوي او یا هم دموټر مخې ته ولاړ وي ژاولې یا اوبه وپلوري، د ډاکټر بشیر احمد پرهر د یو غزل بیت دی چې:

ستا پېغلتوب شو بڼو ځکه جام د اوښکو ونیو
دوبي کې تل اوبه پلوري د جلال اباد ماشومان

او یا هم د ښاغلي عزت الله ځواب د ا فغانستان نومي نظم دا بیتونه:
زما د ښار واړه واړه ماشومان
په لار روان خلک له پښو نه نیسي
قوماندانان په لنډکروزر کې ګرځی
خو یتیمان خلک له پښو نه نیسي

سوالګر ډېر شوي دي ډوډۍ غواړي
که نه نو مرګ غواړي زیندی غواړي
مشران ډالرو باندې نه مړېږي
خواران یوه یوه روپۍ غواړی

د رســنیو او نړیوالــو تحقیقي ادارو د راپورونو له مخې پــه تیرو پنځه دېرش کلنو جنګونو کې د وژل شویو او معلول شویو افغانانو اکثریت ځوانان تشکیلوي چې اوس یې اولادونه د کورنیو سرپرستي پر غاړه لري. ددوی چې د جنګ د بدمرغیو له امله اجتماعي او اقتصادي ژوند تباه شوی دی له رواني پلوه مړاوي، غمجن او خاموشه وي. همدغه کسان بیا د ځینو محرومیتونــو له کبله دجګړې په یوه قوه بدلېــږي او هغه څه تکراروي چې دوی ورسره مخ شوي دي. د جنګ په چاپیریال کې رالویېدونکي ماشومان هم چې کله د تنکي زلمیتوب مرحلې ته ورســېږي نو مجبور دي خپلو کورنیو ته د ډوډۍ پیدا کولو لپاره هر ډول ستونزو ته اوږه ورکړي، پردیو هېوادونو ته په تنکي عمر د مزدورۍ لپاره ورشي او یا هم دجګړې په لیکو کې شامل شي.
له بله پلوه روان جنګ د اقتصادي فقر ترڅنګ د ماشومانو په مرګ ، معیوبیت او معلولیت کې هم لویه ونډه لري، کله چې موږ په لارو او کوڅو کې تېرېږو له داســې ماشــومانو سره مخ کېږو چې د جنګونو له امله یې یا د بدن غړي له لاسه ورکړي او یاهم له رواني تکلیفونو سره مخ شــوي. په تیرو پنځه دېرش کلنو جنګونو کې له هوا او ځمکې نه زموږ پر معصومو ماشــومانو او لویانو اور و اورول شــو او دوی یې د ژوند له خوږو نه بې برخې کړل. د نړۍ په

www.sikaraam.com

هېوادونو کې تر اوسه داسې پېښه نه ده لیدل شوې چې د ماشومانو ښوونځي دې سوځول شوي وي، په ډېرو هېوادونو کې خو ان ددوی شعار دی چې یو ماشوم هم باید د زده کړې له نعمت نه محروم پاتې نه شي، خو له بده مرغه زموږ په هېواد کې هره ورځ ښوونځي یا خو ســوځول کېږي او یا هم په بمونو الوځول کېږي، د ښوونځي ماشومان د نامعلومو کسانو له خوا مسمومېږي، تیزاب یې په مخونو شېندل کېږي او د زده کړې په جرم له ډول ډول نورو تکلیفونو او ګواښونو سره مخ کېږي. د افغانستان روانې غمیزې او د جنګ دوام ددې زمینه برابره کړه چې پر ښـــوونځیو او روزنیزو بنسټونو مســـتقیم او غیر مستقیم ګوزارونه وشي. د افغانســـتان د نورو ملي شتمنیو او ودانیو ترڅنګ ښوونځیو ته هم دومره زیانونه واړول شول چې ان ویلای شو له هېڅ بلې برخې سره د پرتلې وړ نه دی. دلته یوه ستونزه دا هم ده چې ښـــوونځي عامه شـــتمني نه بلکې د دولت ملکیت بلل کېږي همدا یې ښایي لامل وي چې یو شمېر خلک د ښوونځیو پر ضد جګړه کوي او پر سیزنې او ړنګونې یې لاس پورې کوي. د ښـــوونځیو په سوځولو او ړنګولو او د ښوونځیو د زده کوونکو په ځورولو، د هغوی پر مخونو د تیزابو په شـــیندلو او یا هم ددوی د مســـمولو تر شا ښایي یو شمېر ناوړه توطیه ګر لاسونه هـــم موجود وي. همدا اوس هغه ښـــوونځي چې په کلیوالي او اطرافي ســـیمو کې موجود دي، زیات شـــمېر یې یا ړنګېږي، ســـوځول کېږي او په ډېره بې رحمانه توګه له منځه وړل کېږي. د افغانســـتان د راتلونکي نســـل ددښمنانو یوه موخه ښایي دا هم وي چې ښوونځي ختـــم کړي، ټولنه نالوســـتې پاتې کړي او په دې ډول د جنـــګ د دوام لپاره خام مواد زیات شي. دوی په دې باور دي چې نالوســـتي ځوانان د عقیدې تر احساســـاتو لاندې هر ډول قربانۍ ته حاضرېږي.

راځئ د شرر ســـاپي په یوه نظم کې به د ښـــوونځیو دســـوځېدلو تصویر وګورو چې ماشوم زده کوونکی په څومره عاطفي انداز وایي چې مور جانې زه به دا لمبې په خپلو اوښکو مړې کړمه خو خپلې زده کړې ته به دوام ورکړم :

مورجانې بیایې راته و سو ښوونځی
مورجانې بیایې راته وسوښونځی
مورجانې هرڅه لولپه پراته وو
نه مې قلم ،نه سیپاره او نه چوکې ښکاریده
تشې لمبې وې هرڅه هره خواایره پراته وو
زما همزولې غریو نیولې وي ادکې مورې
دښونځې مخې ته راغلې وې ادکې مورې
هغه تخته چې یې پرسر وه بسم الله لیکلې
نه مې پرې نوم دخپل خالق نه مې تخته پاتې وه

www.sikaraam.com

نه هغه تاخت وو چې به ما پکې سيپاره ايښوده
نه مې کتاب پاتې وو نه مې سېپاره پا تې وه
هغه ښونځی لکه دتکې سپينې واورې غوندې
اوس ديوالونه يې ادې تورې بلا غوندې وو
زموږپه دې بيوسه اوښکويې اورنه مړ کيده
هرچاژړلې مورې هرڅوك وارخطاغوندې وو
مورجانې! دانا ځوان به څوك ووچې ښونځی يې وسو؟!
اخ مورې ! څنګه دې ليمې له اوښکوډکې شولې
تانه کتاب، تانه قلم ،تانه ښونځی پا تې شوو
ليمې مې ګرانې په همدې له اوښکوډکې شولې
مورې! دهغه رب په نوم باندې قسم يادوم
چې دې نا ځوانه مې ټولګې کې په تخته سوی دی
نه يې کتاب نه يي قلم نه يي چوکۍ پريښې
ښونځی يې نه دی سوی مورې دې مې زړه سوی د ی
همت مې نه با يلم مورجانې اوښکې مه څڅوه
زه به مې خپلې کتا بچې بيرته راټولې کړمه
دغه نا ځوان به دوجدان په اور کې لولپه کړم
زه به مې ټولې ارادې بيرته راټولې کړمه
مورجانې! دانا ځوان زموږه بېوسې نه ګورې
څومره بيوسه يو! او موږ څومره همت کړدی !
مورې! زه ايبله پښې ښونځې ته ځم الله يا دوم !
مورې! داڅوك دی ؟دايې څنګه بغاوت کړی دی؟!
زه به د خپل ښونځي په تورودېوالونوبا ندې
په خپلواوښکو اوپه وينو با ندې وليکمه
خاوند ه کوردهغووران کړي
چې مې کتا ب ښونځی سيزي ما ژړوينه

زموږ په هېواد کې دجنګ يوه بدمرغي دا هم وه چې ولس خپلې عامه شــتمنۍ خپل نه ګڼي، د خپلې پولې، پټي، باغ او نورو شــتمنيو په څېر ترې محافظت نه کوي. چېرته چې عامه شتمني ورانېږي، سوځول کېږي، بم ورته ايښودل کېږي او يا هم چور او چپاول کېږي د کلي خلک، مشران او کشران ټول غلي ناســت وي او په ړنو سترګو ورته ګوري، دوی فکر کوي چې دا دولتي مال و که پاتې شــو او که وران شــو ددوی يې پرې څه. د افغانســتان

دولت باید دخلکو د عامه پوهاوي له لارې خلک په دې وپوهوي چې معارف دخلکو دی او خلک یې باید خپل مال وبولي، نه یوازې ښــوونځي بلکې ټولې عامه شتمنۍ خپل ملکیت وګڼي او د خپل مال او ناموس په څېر یې ســاتنه وکړي. لکه د مخه چې مو وویل د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې دا مهال جګړې روانې دي خو داسې بېلګې به لږې ولرو چې د دولت مخالفــې ډلې او یا نور مخ پټې وســلوال دې هلته د ســړکونو، پلونــو او پلچکونو او یا نورو ډول ډول عامه شتمنیو پر ورانولو لاس پورې کړي. د رسنیو د راپورونو پر اساس افغانستان یوازینــی هېــواد دی چې لا هم پلونه، ســړکونه، روغتونونه او ښــوونځي پکــې ورانېږي او سوځول کېږي. د خرابو سړکونو له امله دکلیوالي سیمو ناروغان او امیدوارې ښځې کله کله ان تر روغتونه نه رسېږي او په لاره کې ساه ورکوي، غله او دانه راته په وخت نه رسېږي او که رســېږي هم قیمت یې دومره زیاتېږي چې د ولس ملا یې تر بار لاندې کوږ شي، ماشومان مو له ښــوونځیو محرومېږي، پر ګلالیو مخونو یې تېزاب شــېندل کېږي، ښــوونځي یې په کنډوالو بدلېږي او ډېرې داسې نورې ناخوالې چې د ټولو عامل همدا بدمرغه جنګ دی. د ښاغلي بابرزي خبره هغه ماشومان چې مینې او نازونې ته اړتیا لري، پر سرونو لاس کشولو ته اړتیا لري ولې باید ددې هېواد دښمنان دمینې ورکولو پر ځای هغوی پر خپلو ښوونځیو، پر خپلو کتابونو او د خپل مکتب د زنګ په ماتېدلو او په ګولیو سوری سوری کولو وژړوي:

ددې شنه اسمان دلاندې خدایه بیا ولې لوګی دی
سرې لمبې ترې پورته کېږي د افغان بچو ښوونځی دی
دمکتب زنګ یې مات شوی په ګولیو سوری سوری دی
دافغان بچو ښوونځی دی، د افغان بچو ښوونځی دی

ما شومان وایي سلګو کې مورې ته چا نه دي خندلي
په سرو مو لاس راکاږی مورې هر چا یو ژړولي
څوک د اور جامو کې راشي، کتابونه رانه واخلي
بس ددې وطن کمی دی، بس ددې وطن کمی دی

د مکتب زنګ یې مات شوی په ګولیو سوری سوری دی
د افغان بچو ښوونځی دی، د افغان بچو ښوونځی دی

مور به چاته دعا وکړي، مور به چاته اوښکې توی کړي
دخپل پلار په شمله خاندې چې نا اهله بچیان لوی کړي
ناپوهي توره بلا شي، د مور غېږ د زده کړې ځای دی

www.sikaraam.com

هم زانگو د زده کړې ځای دی، هم زانگو د زده کړې ځای دی

د مکتب زنگ يې مات شوی په گوليو سوری سوری دی
د افغان بچو ښوونځی دی، د افغان بچو ښوونځی دی

چې مکتب کوم ځای کې نه وي هغه کور کلی بدرنگ دی
دمعارف رڼا مې وژني د افغان ناپايه جنگ دی
بابرزی ورته حيران دی، په قلم مې ځوان شرمېږي
خو ټوپک ته مېړنی دی، خو ټوپک ته مېړنی دی

د مکتب زنگ يې مات شوی په گوليو سوری سوری دی
د افغان بچو ښوونځی دی، د افغان بچو ښوونځی دی

www.sikaraam.com

## په شعر کې د ورځنیو پېښو انځورونه

دا که وي دامن یا د جنګ پیغام
نوم يې چې خبر وي سړی وډار شي
ټول وجود که بایلي نو څه باک نه وي
زړه ته چې خطر وي سړی وډار شي
(بختیار ساحل)

د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱ مې نېټې تر حادثې وروسته له کومې راهیسې چې نړیوال ځواکونه افغانستان ته راغلي، په افغانستان کې روانو ناخوالو نوې بڼه ومونده، هره ورځ یوه حادثــه، هره ورځ یو ځای کې بمبار، لس وژل شــوي، پنځــه ژوبل دي، درې ځایه چاودنې شــوي ، دوه ځایه ډله ییز انتحاري بریدونه شــوي ... او داســې نور ې ډول ډول پېښــې. اوس په افغانســتان کې دخلکو غوږونو کې هر درز چاودنه ښــکاري، اوس که څوک دروازه هــم پــه زوره بنده کړي نو بل به وايي هله چاودنه وشــوه، که چېرتــه د ګازو ډبه هم وچوي نــو پــه خبرونو کې به ویل کېږي چې دیوې درنې چاودنې غږ واورېدل شــو او تر هغې چې حال معلومېږي ټولې کورنۍ به په تشــویش وي یوې او بلې خواته به ټیلفونونه پیل کړي، تــر هغې چې اصلي خبره معلومېږي د ټولو ســاه به مرۍ تــه راغلې وي. تر ټولو مهمه لا دا چې ددې بدمرغه جنګ له لاســه اوس په روغتونونو، جوماتونو، میله ځایونو، ښارونو ودونو او او ان جرګــو مرکــو کې هم خلک ځان مصون نه احساســوي او په اســانه دغو ځایونو ته نه ځي. د عامو خلکو ورځنۍ ژوند خو يې دومره نا ارامه کړی چې خلک خپل ماشــومان د سودا اخیستلو لپاره ښار ته هم نه شي بیولای، دچا چې کوچنیان په ښوونځیو کې دي هره غرمه به کورته ټیلفون کوي چې روغ رمټ کورته رسېدلي او که نه، سهار چې څوک له کوره وځــي نو ټولــه کورنۍ به دعاګانې کوي چې بېرته په خیر راشي او ماښــام چې بېرته کورته ورسېږي د کورنۍ غړي به يې شکرونه باسي چې شکر له ښاره او له خپلې دندې روغ رمټ کورته ورســېد. زما یوه ملګري عطاالله عاصم راته کیســه کوله چې یوه ورځ دیو دفتر څنګ ته درز شــوی و، د امنیت مسْــوولینو په وارخطایۍ چیغې کړې وې چې Safe -Room Safe Room یانې هغه خوندي خونې ته ځان ورسوئ چې د امنیتي حادثاتو په وخت کې د دفتر مامورین په کې راټولېږي، د هغه په وینا څو دقیقې وروسته معلومه شوه چې د دفتر ترڅنګ

www.sikaraam.com

ګاونـډي خپـل کور جوړوو او يو ديوال يې غورځولی و. له دې ټولو خبرو نه معلومېږي چې د افغانستان خلک اوس هره ورځ ديوې پېښې په تمه وي او هر ساعت په دې تشويش کې دي چې دوی به د کومې بدې پېښې ښکار کېږي. دغو حالاتو، اندېښنو، خبرونو او د رسنيو چټک غبرګون د شـاعرانو پر روحياتو او فکرونو هم تر ډېره حده غلبه کړې ده. که هره ورځ نــه وي نــو اوونۍ کې خو به خامخا يو شـعر په ويبپاڼو او يا فيس بوک کې د روانو پېښــو ، بمبـارد او يـا چاودنو په اړه ليکل کېږي. که څه هــم د ځينو کره کتونکو په وينا زياتره دغه شـعرونه دجنګ د لوڅ بيان او واقعيت په شکل ليکل شوې وي، لفظي او صنعتي خواوې يې کمزوري وي، خو بيا هم دلته راته د ښـاغلي سيدشـاه سعود يوه خبره رايادېږي چې د اردو ژبې د دوو شـاعرانو په اړه يې راته کړې وه، د هغه په وينا د اردو ژبې يو مشـــهور شـاعر مير تقي مير ته چا ويلي وو چې د لکنوو شـاعران ډېر په صنعتونو بوخت دي او شـعر کې ډيرې لفظي او تکنيکي ماناوې را پيدا کوي مګر تاسو ډيلي وال يې نه کاروئ. هغه ځواب ورکړی و چې د چا په کور اور ولګېږی نو هغه بيا چيغې وهي ګرامر ته يې نه ګوري او نه يې صنعتونو او تکنيکونو ته پام وي.

ډېر ځله د روانو پېښــو په اړه د شـاعرانو شعرونه د پېښــې تصويرونه خوندي کوي، هېڅ داسې يوه پېښه به نه وي چې شاعر يې له څنګه چوپه خوله تېر شوي وي، ان کله کله خو پېښــې شـاعران دومره متاثره کړي چې بيا يې د شعر هغه هنري رسالت ته هم پام نه دی کړی. د هېواد وتلی شاعر ښاغلي حاجي پيرمحمد کاروان راته ددې اثر د ليکلو پر وخت يوه خاطره وويل چې غواړم کټ مټ يې تاسو ته نقل کړم: د کندهار په پنجوايي ولسوالۍ کې يو امريکايی عسکر له خپلې هډې نيمه شپه راووت او په څو کورونو کې ننوت، پر بې ګناه ښـځو او ماشومانو يې د ګوليو ناتار جوړ کړ چې په نتيجه کې يې شپاړس بې ګناه افغانان شـهيدان شول. سـهار مې د همدې پېښــې ديوه قرباني ځوان يو تصوير په فيسبوک کې وليد چې وينې او اوښــکې يې ګډې وډې پر مخ روانې وې او يو لوی درد يې په ســترګو کې ښکارېده. ددې تصوير په ليدلو مې ځان قابو نه کړای شو، يو شعر مې وليکه، زه ښه پوهېږم چې هغه شــعر به مې ظالم ته کنځلې وي، هنري به نه وي، مګر ما څه کړې وای، زړه مې ډېر درد وکړ او په هغه حالت کې نو ما خپلې ژړا او غوســې ته هنري رنګ نه شــو ورکولای. د ښـاغلي پيرمحمد کاروان په خبره کله کله شـاعرانو د پېښــو تر تاثير لاندې يوازې هڅه کړې چې د جنګ له لاســه فرياد، شکايت او خپل پيغام په موزونو الفاظو نورو ته ورسوي او په دې ډول د خپل زړه براس وباسي، مګر د جنګ ناخوالو ته په ليکلو شــويو شــعرونو کې زياتره داسې شعرونه هم موندل کېږي چې د دغو ورځنيو پېښو او روانو تصويرونو راښه هنري انځورونه دي. د ورځنيو پېښو يو انځور به د شاه سعود په نظم کې وګورو:

له محرم نه ډکې لارې کوڅې
له کربلا تر مدینې تللي دي
زموږه دوه اویا کلنه ابۍ
راډیو ته ناسته مرثیې ته ژاړي
د ابۍ ویر او مرثیه د حسین
لکه سکروټو له چې ګوتې وروړې
ابۍ مې تل په محرم کې ژاړي
خو نن یې ټول کلی په سر اخیستی
نن د حسین او د عباس ترمنځه
هغه بې وسه خلک هم یادوي
چې پېښور کې په بمونو مړه شول
علي اصغر یې هم په زړه کې پروت دی
او بریالی هم هېرولی نه شي
هغه د برکلي ماشوم بریالی
چې سر یې پروت و او تنه یې نه وه
شمر یزید او د هغه پوځونه
بي بي زینب او د هغې شهیدان
زما ابۍ او پېښور او عراق
زه هم لګیا یم مرثیه اورمه.

که شــاه ســعود راته د پېښــور د چاودنو مرثیه غږوي، دلته په کابل غني هاشــمي هم د شــعر پــه هنري ژبه د یوې چاودنــې انځور په فیس بوک کې خپور کــړی و چې ډېر خلک یې ودردول، دا پېښــه ماته د خیبر د ګلونود رژېدلو هغه تصویر هم را یادوي چې څو ورځې مخکې د یوټیوب له لارې خپور شــو، په تصویر کې ښــودل کېــږي چې د ځانمرګي په یوه پېښــه کې یو دوکاندار وژل شــوی، دوکاندار یو طوطي درلود چې هره ورځ به د دوکاندار له مشــتریانو سره غږېده او هغوی ته به یې شــپیلي وهل، خو تر حادثې وروســته چې کله دوکانــدار ژوند له لاســه ورکوي طوطي دومــره خپه کېږي چې نه ډوډۍ خــوري او نه اوبه څښــي، نه له چا سره خبرې کوي او نه شــپیلي وهي، د دوکاندار یو مشــتري په ویډیو کې وایي چې تر دې حادثې وروســته هر څه بدل شــوي، ټول ښــار خپه دی، طوطي هم خپه دی او موږ هم خپه یو. ددې پېښــې د عیني شــاهدانو په وینا اوس چې کله طوطي ســور رنګ ویني نو په پنجره کې په ترپکو وي او تر هغې ځان وهي چې سور رنګ یې هېر شوی وي:

www.sikaraam.com

پرون د ښار په چوک کې
د هغو خوارو مزودرانو منځ کې
یوه چاودنه وشوه
چې د ماښې د خاوندانو غږ ته
په انتظار ولاړ وو

ځو شېبې وروسته ولاړم
ما د پاخه عمر مزدور ولیدو
چې د سرو وینو ډنډ کې
سا یې وتلې وه راټول پروت و خو...
خپلي زړې چپلکې
په وینو سرې چپلکې
ټینګې نیولې د سینې پورې وې.

جنګ، چاودنې، ځانمرګي پیښې، بمبارد او داسې نورې پېښې چې د انسان روح او روان ته صدمه رســوي اوسمهال دومره زیاتې شوي چې عام خلک څه کوې ان ژورنالیستان هم په خوب کې ځوروي. نه یوازې ژورنالیستان ترې کرکه لري، بلکې ولس زړه هم ترې دومره شــین دی چې کله د ټلویزیــون په پرده د تازه خبر لیکه اعلان وګــوري نو زړه یې له ویرې رپېږي، چې اوس به یې کوم یو دوست او یا خپل خپلوان په پېښه کې قرباني شوی وي. په یوه ټلویزیون کې مې ولیدل چې کله یو ژورنالیست دیوې پېښې د راپور ورکولو لپاره سیمې ته ورشي، ګڼ مړي او زخمیان وګوري نو له ډېره غمه بېهوښــه شي. ښــاغلی نوراجان بهیر چې د شــاعری تر څنګ یو تکړه ژورنالیســت هم دی، د همداسې یوې پېښې تصویر زموږ مخې ته ږدي. دی وینې چې تر بمباره وروسته دکلي په هر کور کې یو ټپي یا شهید پروت وي چې دا ا کثره ملکي کســان وي. د پېښــو د اندېښنو له لاسه په خوب کې هم د مړو او ټپیانو په شمېر بوخت وي او سرې وینې یې سترګې ارام ته نه پرېږدي:

بېګا بیا د څو چورلکو کنهار ؤ
بیګا بیا تورې بلاوې غړمبېدلې
بېګا ډېرو میندو سترګې پټې نه کړې
سوې چیغې له زانګو پورته کېدلې

شین سهار ؤ، ما لا چای غړپ کړی نه ؤ

www.sikaraam.com

يوه بد خبر مې وسکوندل غوږونه
له دې خپله ژورنالېزمه مې زړه تور دی
هره ورځ وايم د مړينې اعلانونه

له څو میله مزله وروسته مې پیدا کړ
د وړو خړو غونډيو ترڅنګ کور دی
په نوم کور دی، خو جونګړه ترې ښایسته ده
په خانانو کې، د يو ملنګ انځور دی

د رېتاړې زېړ پټکي پېڅه يې خوله کې
بوډا چاودې پښې په سره مزي ګنډلي
د بوډۍ پر سر ټکری هم داسې څيرې
لکه سپيو چې وي څو ځايه داړلي

پر صوفه د يوه ځوان جنازه ايښې
ترې چاپېره تور پړوني ښځې ژاړي
پر سلګۍ سلګۍ وجود يې زلزله ده
ها يوه، چې لا هم خبر له خدايه غواړي

لږ ورتېر د ځړېدلې پردې شاته
يو بل ځوان سپنه سورۍ پر تخته ایښی
آخ، ترڅنګ يې يو معصوم ګلاب ماشوم هم
لکه زېړه ګلغوټۍ پر تخته ايښی

د ځوان تورې ږيرې سره څاڅکي نيولي
لا هم څاڅي د ماشوم له سترګو وينې
ستا له نومه خو درنه ځمکه لړزيږي
های آفسوس د نړيوال بشريت مينې

چې په ورځ هم بلا نه شي يادولی
په هوا چې د مرغۍ له پر ويريږي
دا دی سوځي په باروتو، خو پاچا مو

www.sikaraam.com

لا هم چوپه خوله، په خپل یو سر ویرېږي
اې دا څه وینم! دا بله کربلا ده
په دې بل کور کې درې نورې جنازې دي
له لسګونو وچو ستونو کریغې خیژي
که د سپېل وېشتلو زاڼو قلقلې دي

پلار په خپل لاس د لك کړي توت رېښو ته
په اوبو کې ورکوي د پرهر وینې
یو ګېډۍ مالوچ یې لاس کې دي، خو بیا هم
ځای ځای ښکاري د ملا پر ټټر وینې

پر کوټه د لګېدلو ګولو نښې
پکې پروت لړند ماشوم، شونډې چېچلي
د کټ سر ته یې ملا کړوپه بوډۍ ناسته
له الله سره یې ژبه تالو نښلي

بوډۍ سپین سر د خړ کټ پر بازو کېښود
په مات مات اواز یې زوی او لمسی یاد کړ
دُر دُر اوښکې یې په ګونځې مخ شوې ماتې
په پردې اور کې یې خپل نغری یاد کړ

د لمسي په وینو سور ځان یې ورټول کړ
لاس یې رېږدي، پښې یې رېږدي شوه روانه
د صوفې تر کونج لا نه وه رسېدلې
پښه نېولې بوډۍ درو کې شوه روانه
د ځوی غم، د لمسي غم خو یې لا څه چې
ځوانې نږور یې پر سېنه ګولۍ خوړلي
په خپل لاس جوړ کړی شال پرې غوړېدلی
ترې چاپېره ښځې پنډې دي د کلي

ځوړ شو، هلئ ها ماشومه ترېنه واخلئ!
د ماشومې سپینه خوله په وینو سره شوه

www.sikaraam.com

له بېګا راهيسې يې تی رودلی نه دی
په پرهر پرهر سېنه د مور خوره شوه

دا په داسې يوه کور د غم کېسه ده
چې د ژوند حال يې بدتر دی له سوالګرو
ژوند يې هم دا دی په سرو بارودو واخېست
د خنځير په غوښو مستو بلواګرو

چې چاپېر وي ترې، يو متر ديوالونه
څو کوټې يې نه کړکۍ لري، نه ورونه
چې د تتې ډېوه ګۍ رڼا ته ناست وي
آيا شته دلته بمونه ريالونه؟!

ناست يم، لولم د باګرام په اعلاميه کې
د مشهورو ترهګرو خطابونه
هم د سترګو حال او سرو وينو کې لت پت
د سور خولو او تور سرو تصويرونه

د ملك داسې ژورنالېزم دې اور واخلي
چې خبرونه وي، د مړينې اعلانونه

د ښـاغلي بهير د يو بل همزولي شـاعر او ژورناليست جعفر هاند په يو نظم کې هم همدا وېـره وينو، که ښـاغلی بهير راته پر کليـو او باندو، غرونو او ځنګلونو د ړندو بمباريو کيسـه کوي، ښاغلی هاند بيا د يو ځانمرګي بريد پېښې ته د شعر رنګ ورکړی:

لا مې د تېر ځانمرګي بريد کيسه په ذهن کې وه
لا مې په وينو کې لت پت انسانان هېر نه وو
لا مې د تېرو بمباريو کيسه هېره نه وه
لا مې هغه ټوکر ټوکر ماشومان هېر نه وو

لا مې په غوږ کې د چاودنې اواز هاغسې و
لا مې په خوب کې په مرميو سوري مړي ليدل
لا مې په غوږ کې د روغتون د امبولانس غږ و

www.sikaraam.com

لا مې په خوب کې د انسان پرې شوي غړي لیدل
چې نن بیا درز وشو نن بیا یوه چاودنه وشوه
چې نن مو بیا ښار کې ټغر د غم خور اور شو خدایه
چې نن مو بیا بلا کورونو کې ماتم جوړ شو
چې نن مو بیا ښار کې خبر د غم خپور شو خدایه

نن به نو بیا کابل نړۍ کې بس د سر خبر وي
شل وژل شوي، ځېنې ورک دي او نور ګڼ زخمیان دي
بیا به د ښار میندې ویښته او ګریوانونه شلوي
بیا خو په برید کې وژل شوي بې ګناه ملکیان دي

نن به نو بیا په راډیو کې زما راپور خپرېږي
زه به بیا ټولو هېوادوالو ته ماتم خپروم
د وژل شوو ژوبل شوو ټول ارقام به وایم
زه به نن بیا هسې خبر، تصویر د غم خپروم

بیا به نو ډېرې شپې په وېښه تېرومه خدایه
بیا به نو ډېرې شپې خوبونه له ما ورک وي هسې
بیا به تر ډېره د خپل ښار دا ویر او درد ژاړمه
بیا به تر ډېره ما نه خپل دردونه هېر وي هسې

زه ژورنالست یمه همدغه زما کار او ژوند دی
بس چې چاودنه وي انسان مري زما کار ډېر وي
بس هسې خدای راته د ژوند په نوم یو څه راکړي
کنه دا ژوند خو په الله دلته په نشت شمېر وي

د ښاغلي اجمل اند په یو نظم [ خبرونه ] کې هم همداسې درد لیدل کېږي، چې د جګړو ناخوالو ان ژورنالیستان هم له خپله کاره زړه تورن کړې دي، دوی فکر کوي چې خپل ولس ته هره ورځ د خبرونو په نامه د درد او غم کیسه کوي، د شهیدانو او زخمیانو مرثیه ورته وایي او بالاخره د خلکو روح او روان نا ارمه کوي:

هر ورځ چې زه سهار له کوره و ځم

www.sikaraam.com

د کابل کوڅې وي دوړې او گردونه
په هر گام کې حادثې راپورته کېږي
واړه ښار وي خبرونه ، خبرونه
حیران پاتې سړکونه او واټونه
په هر گام د دنگو غاړو تیندکونه
ماښېجن ، غمجن ، غمجن یې سهارونه
سترې ، سترې او بې خونده ماښامونه

لمر لوټلې وي له ټول ښاره رنگونه
بېلې لارې ، بېل فکرونه ، بېل سرونه
له پېکیو نه لویدلې سره گلونه
تار په تار پراته کوڅو کې وربلونه

هر ورځ وي په دې ښار کې باد رالوتی
هره ورځ له دنگو نجونو لوپټې وړي
هر ورځ ښار کې یو څو بدرنگه گرځې
ځنځیرو کې قامتونه اوشملې وړي

هره ورځ په پورې غره کې جنگ روان وي
هر سهار په کې پرېوزي قامتونه
هر ماښام کې تالا کېږي وربلونه
هر ورځ له غره نه نوې خبرونه

هر ورځ چې د خپل کارځای ته رسېږم
د کار میز مې سر تر پایه خبرونه
تېلفون کې د وژنو پیغامونه
کمپیوټر کې مې له ورایه خبرونه

هره پاڼه کې تازه ، تازه چاودنې
هره پاڼه کې اعدام سر غوڅونې
هره کرښه کې وژنې تښتونې
هر یو توری زورونې ، لوټونې

www.sikaraam.com

هر ورځ چې زه سهار له کوروځم
د کابل کوڅې وي دوړې او ګردونه
په هر ګام کې مې لوټېږي ښایستونه
واړه ښار وي خبرونه ، خبرونه

هر ساعت را رسېدلي خبرونه
هر ساعت همدا ترینګلي خبرونه
هره ورځ همدا مښلي خبرونه
چې په اور وی سوزیدلي خبرونه

یو بل شـاعر ارمان هم له همدې غمه سرګردانه دی، د هغه په وینا مور یې ورته وایي چې ښــار ته مه ځه د خلکو ســترګې درپســې دي خدای مه کړه په ځان مرګي پېښــې برابر نه شــي. په افغانســتان کې اوسمهال یو شی معمول شــوی هغه دا چې د امنیتي ارګانونو له خوا ځینو موسساتو او نورو، لوړ پوړو ادارو او یا هم ځینو سیاسي کسانو ته کله کله احوال ورســېږي چې ښــار ته ځانمرګي ننوتي، یا نور چاودېدونکي توکي ننوتي، دا خبر بیا په یوه نه یوه طریقه رسنیو او د رسنیو له لارې عامو خلکو ته هم ته ورسېږي، د ځینو هېواد دوسته خلکو په وینا اوســمهال د رســنیو ډېروالي هم ولس له ستونزو سره مخ کړی، په افغانستان کې دېرش ، پنځه دېرش ټلویزیونونه، تر ســلو پورته راډیــو ګانې او همدومره ورځپاڼې ټول د خبرونــو د خپرولــو په وخت کې یوه خوله نه وي، یو چینل به یو څه وایي او بل به بل څه، بله دا چې وخت نا وخته به داســې دردوونکي تصویرونه خپروي چې د انســان زړه له ژونده تــور کــړي. هغه میندې چې پــه کورونو کې ټلویزیونو او راډیوګانو نه ښــار ته د ځانمرګو د داخلېــدو او یا نورو چاودنو یا عملیاتو د ترسره کولــو وړاندوینې واوري نو بیا دخپلو اولادونو له غمه خوب او ارام نه لري، دحادثاتو بوی یې هره لحظه پر دماغو لګېږي او هر یو د خپلو خواخوږو د مړینې او ټپي کېدنې انتظار باسي. په دې میندو کې لږ داســې وي چې خپل کور ته د خپلو اولادونو روغ ستنېدل احساسوي. ځینې ځینې خو بیا خپلو اولادونو ته وایي چې:

ډېرې سترګې درپسې دي ښار ته مه ځه
دځانمرګو اوازې دي ښار ته مه ځه

دغه د ځانمرګو اوازو او پېښو ډېرې میندې له اندېښنو سره مخ کړې دي، ډېری وخت خو

www.sikaraam.com

لا مور چې کله ښار ته ځو خپلو میندو ته د پېښو په اړه دروغ هم وایو، سبب یې دا وي چې ددوی نــازک زړونه د حالاتو دا غمونــه ونه خوري، د هجرت الله اختیار په یوه ازاد نظم کې لولو چې د مورجانې زړه یې له همداسې اندېښنو نه ډک دی، کله چې دی له ښاره کور ته ځي نو د مور اولني پوښــتنه همدا وي چې ښــار کې خیریت و؟ کله چې دی ورته د یوه با امنه او خوشحاله ښار تصویر ورکوي نو مور یې لاسونه ګرېوان ته یوسي، اسمان ته سترګې پورته کړي او شــکرونه وباسي، مګر هغه غریبه په دې خبره نه وي چې په ښــار کې نن بیا قیامت تېر شوي وي، راځي دا شعر به ولولو:

زه مې اکثر مور ته درواغ وایمه!
زه چې ماښام ماښام کاله ته ستون شم
مور مې یو شکر خدای ته وباسي او ښکل مې کړي په دواړو مخو
وايي: په خير خو راغلې؟
زه ورته وايمه چې هو مورجانې
هر يو ماښام رانه د ښار د حال پوښتنه کوي
وايي: په ښار کې خو خيريت و؟ زويه!
زه ورته موسک شم، ورته وايمه چې خير خيرت و
مور مې په دې هم د خدای شکر وکړي، شکر وکړي
خو،
زما خفه زړه خپلو دروغو باندې سخت خوشحال شي.
زه وايم مور ته مې د ښار غمونه ولې راوړم؟
زه مې مورجانه د راډيو او ټلويزيون مخې ته
شوي ځانمرګي نه خبره نه کړم.
د هغه بم په اړه هم ورته څه ونه وايم
هغه سراج العمارت بڼ کې چې ونيول شو
د کندهار د پنجوايي د قتل عام له پېښې
زما مور نه خبرېږي
شکر دی، مور کور کې راډيو او ټلويزون نه لرو
زه کور کې نه ويم چې ځانمرګي ښار کې
ونيول شول
او يا چې نن په انګور باغ کې وه چاودنه شوې
دومره کسان مړه ول او دومره زخميان شوي په کې
زه مې اکثر مور ته درواغ وايمه

www.sikaraam.com

ځکه مورجانه مې په زړه باندې نازکه ده، وېرېږي پر ما
هغه که ښار کې له چاودنو او وژنو نه خبره شوله
نو،
بیا به ما کله د مرګونو دې لوی ښار ته پرېږدي.
بیا به ما کله وظیفې ته پرېږدي، کار ته پرېږدي.

ښاغلي ومان نیازي بیا په خپل یوه ازاد نظم کې مخامخ د ځانمرګي نوم نه اخلي، دده په نظم کې دهغه واټ تصویر وینو چې شاعر پرې لومړی دحادثې په وخت کې او بیا تر جنګه وروسته پېښ شوی، دی په ډېر هنري انداز د دې سیمې دواړه شکلونه زموږ مخې ته ږدي، دده په دې شـــعري تابلو کې لیدل کېږي چې تر یوې حادثې وروســـته د مرغیو او پاختکو جنـــازې ته هم څـــوک نه حاضرېږي، کټ مټ یې په هنري انداز زمـــوږ د ټولنې یو واقعیت وړانـــدې کړی چې په ځینو کلیـــو او بانډو کې د جنګ لوري د جنګ د قربانیانو جنارې ته هم کله کله څوک نه پرېږدي، یوه خبره چې دلته یې یادونه اړینه بولم هغه دا چې د خیال عنـــصر به هنري اثار له غیر هنري نه بېلوي مګر د جنګ د واقعیتونو هنري کولو ته تجربې ډېرې اړینې دي چې موږ د ښـــاغلي ومان په شـــعر کې یوه تجربه وینو چې د خیال په زور شـــعر شـــوې، ښـــاغلی ومان د حادثې په ورځ تابلو نه باسي بلکې تر حادثې وروسته پر هغه پېښـــې فکر کوي، همغه صحنه په ذهن کې مجسموي او بیا یې د خپل شعر په زور تلپاتې کوي. په ټولو هغو هېوادونو کې چې جنګ یې شاته پرېښی، هغه کیسې یا شعرونه چې تر جنګه وروســـته لیکل شوي دي تر هغو کیســـو او شعرونو تلپاتې وي چې د جنګ په حالت کې لیکل شوې وي، د ښاغلي ومان د تجربو د انتقال همداسې یوه بېلګه به وګورو چې له هنري ټکنیکونو هم برخمنه ده :

د دېوال له پرهرونو وینې څاڅي
تور بخونه دروازه ټپه ړنده ده
څڅېدلې یې څرمن، خړه جامه ده
چا لیکلې پرې له پاسه کلیمه ده
خو زما یاده، هغه ورځ
هغه ټکنده غرمه ده
چې مرغیو او پاختکو
جنازه د شهیدانو
د ویرژلي واټ ونه کړه
او هېڅ ژبه دوی له ویرې
د سبا خیرات ونه کړه

زما ياده هغه ورځ ده
چې تعفن ددغې سيمې
پر بربنډو اندامونو
وو يواځې
مخ په قبله باندې ولاړ
پر جنازه باندې ولاړ.

د ښــاغلي علم گل سحر په يو شــعر کې هم لولو چې دخپل يوه ملگري د ليک په ځواب کې زړه د شعر په ژبه تشوي او د خپل چاپيريال يو دردوونکي تصوير وړاندې کوي. په دې شعر کې ليدل کېږي چې شاعر د ډېرو غمونو حکايت کوي خو بيا هم وايي چې دا کم دي زه حيران يم چې اول کوم غم درته وژاړم، د ښوونځي د سوزولو کيسه درته اول وکړم، که پر واده د بمبارد، د ځان وژنې د پېښې حال اول درکړم او که د بې گناه ملکي کسانو پر کور د شپنيو عملياتو او په هغه کې د ښځو او ماشومانو د مرگ ژوبلې:

غمونه زښته ډېر دي
اول نو کوم يو درته ووايمه
وطن مې اور کې سوځي
زړونو کې کرکې شنې دي
اوه، هغه دی بيا يې مکتب وسوځاوه
زموږه خپلو خلکو
وايي مکتب کې درس د کفر وايي
اه هغه دی بيا تورې چورلکې راغلې
هغه دی بيا له کلي دود پورته شو
بيا په واده باندې بمبارد شوی دی
بيا يوه ناوې د واده جامو کې گور ته درومي
وايي چې بيا ځانمرگی بريد شوی دی
يو بهرنی ټپي دی
زموږ پنځه ويشت شهيدان شول په کې
خلکو له سره شروع کړی جنگ د خپل ځان پر ضد
زموږه خلکو بيا تصميم نيولی
چې تر هغو د يوه بل خبره هېڅ وانه وري
څو يې لندن او واشنگټن دواړه نيولي نه وي

www.sikaraam.com

مرګ هره ورځ ماته په مخه راځي
غمونه زښته ډېر دي
زه به نو کوم یو درته ووایمه
خو زه هم ورته یوازې نه یم
مورې اراده د ژوند کولو لرو
مورې زړه کې مینه لرو
مورې غواړو وکرو په زړو کې مینه
موږه له خپل وطنه کرکې باسو.

د روانــو حالاتو انځورګر شــاعر نذیــر احمد نذیر یو له هغو کســانو څخه دی چې همدې ورځینو ســتونزو او ناخوالو ته یې لســګونه شــعرونه لیکلي، ډله ییز قبر، قوماندان، د پنځو شپو ماشوم زړه له درز چاودلی او یو شمېر ډېر نور شعرونه لري چې د ټولو راوړل به ممکن نه وي دی. له ده نه مې یوه ورځ په فیسبوک کې وپوښتل چې ولې مو شعرونه ټول ناخوالې دي، ښــاغلي نذیر ډېــر پر ځای ځواب راکړ، د هغه په قول هغه شــاعر چې عمر یې له یوه داسې بدبخته جنګ سره برابر وي، په ژوند کې یې خوشحاله ورځ نه وي لیدلې نو هغه پرته له دې غمجنو پېښو نور څه لري چې شعر یې کړي. د هغه په قول د ډله ییز قبر د پیدا کولو یو خبر مې په رســنیو کې ولید، ورسره سم مې په ذهن کې هغه انسانان سترګو ته ودرېدل چې لاس تړلي د خپل مرګ په انتظار ولاړ وو. د هغوی ماشــومان او مېرمنې مې سترګو ته ودرېدلې چې څنګه به تر اوسه هم د خپل ورک شوي خاوند او پلار لاره څاري، هره ورځ به یې کوچني ماشومان په دې تمه وي چې پلار به یې له دندې یا ښاره بېرته راستنېږي او د لوبو شیان او خوراکي توکي به یې په لاس کې نیولي وي، خو خبر نه دي چې هغه بدمرغه انســانان په ډېر بې رحمانه ډول ژوندي په خاورو کې ښخ شوي دي. ښاغلی نذیر په خپل یوه شــعر [ګل عالمه] کې خپل ولس ته تر بمبارده وروســته دیوې کورنۍ تصویر مخې ته ږدي، د کورنۍ د ماشــومانو د مور چیغې کټ مټ هماغسې را اخلي ته به وایې همدا اوس حادثه تېره شوې ده. د پنځو شپو ماشوم زړه له درز چاودلی شعر به یې ولولو چې په څومره رومانتیک انداز کیسه د ماشومانو نجونو له لوبو او نانځکو نه پیل کوي، د ماشومانو هلکانو د لوبو یو تصویر راته وړاندې کوي بیا نو ورو ورو د همدې ماشــومانو شــهیدېدلو او د کلي د مېرمنو د زړه اوازونه راته په شعر کې انځوروي:

څو ماشومې نجونې بوختې دي په لوبو
د نانځکو ودول دی او خوښي ده
ساندې نه پېژنی مړي په کې نه شته

www.sikaraam.com

د خنداوو اورېدل دي او خوښي ده

لږ ترې لرې څو تنکی هلکان بوخت دي
د باچا او د غله لوبه پیل شوې
جنګ روان دی، خو د خلکو وژل نه شته
د ربښتینو له خوا سوبه پیل شوې

یوه مور لګیا ده تی په خوله کې ورکړي
نوی زېږی ماشوم درد پسې اخیستی
روغتون نشته، مور یې هم ده بې سواده
بې سترغلي کسی ګرد پسې اخیستی

یو څو وري دی شوخ ماشوم دي ایله کړي
بغ او بوغ دی، دی له میږو نه تاویږي
د خاورېنې کلا مخ ته دوه سپي غاپي
ملنګ خیر غواړي خو نه اورېدل کیږي

د اتلسو کلونو ښکلې پیغله
د نیا سر کې وهي ګوتې، زړه یې تنګ شو
تیر کال دغه شپې بمبار وو شهید کړی
چې ورياد ورته همزولی (( ګل ملنګ)) شو

یوه بله مور د ځوانې نږور تر څنګه
ده روانه چې د زوی بیرغ یې زوړ دی
کال پوره شو شین بیرغ به پرې دریږي
دا بیرغ چې چا د زړه په وینو جوړ دی

کلی ټول له نارینه وو خالي شوی
څوک یې جنګ ته تللي څوک یی مساپر دي
لنډه دا چې ډېر یې مړه دي او نور ډېر یې
دي بدمرغه چې په دې کلی کې ستر دي

www.sikaraam.com

دادي بیا د الوتکو غږ راتېښت شو
دا دي بیا د بم اواز په ځمکه خور شو
دا دي بیا له خاورین کلی دوړې خیژي
دادي بیا د چا په مېنه کې بل اور شو

❧

د سپېرو جنډو نانځکې سپېرې نه شوې
رنګینه شوې د انسان په وینو سرې شوې
یوه مور د زوی پاشلي غړي غواړي
دادي بیا د وی او اخ الله نارې شوې

❧

د پنځو شپو ماشوم زړه له درز چاودلی
د پنځو شپو زچه مور چرې خوړلي
د پنځو شپو میاشت ښکاریږي ماذیګر شو
پنځو غړو د هر کور چرې خوړلي

❧

نړیوال ځواکونه ځمکې ته راتېښت شول
دادي اوس نو کور په کور باندې خواره شول
مړه واړه دي، ږیرور ورپکې نشته
یوه سرتیري ته یې خپل واړه په زړه شول

❧

اونۍ وروسته دادي کور ته روانیږي
ځان سره وایې بیا نه راځم قسم دی
روغ ماشوم وي، خو زموږ له وېرې ومري
ما په ضد د تروریسټ اېښی قدم دی.

یو شــمېر شــعر پوهان په دې باور دي چې روانو حالاتو که له یوه پلوه پر شــعر دا اغېزه کړې چې د شــعر ژبه یې عاطفي کړې او یوازې د درد د بیان وســیله یې ګرځولې نو له بله پلوه یې شــعر له بې مضمونۍ نه هم ژغورلی، په یو شــمېر پخوانیو شعرونو کې وینو چې د پــسرلي یادونــه فقط یوه بهاریه وي، د مرګ او ژوند خبرې یوازې د لذت اخیســتلو او یا له مرګ څخه د ویرې په خاطر شعر کېږي، خو اوسني شعرونه د پسرلي تشه داسې یادونه نه کوي چې پسرلی راغی، باغونه، شــنه شول، غرونو راغونو ګلونه وټوکول. دلته اوس پسرلی

www.sikaraam.com

د ژوند ربښــتينې تصويرونه له ځانه سره راوړي. د سعيد زابلي په يو غزل کې پسرلی له يوه نوي مضمون سره راته معرفي کېږي چې دا ډول مضمون په پخواني شعر کې نه لرو. دی د پسرلي په يادولو د افغانســتان د روانو حالاتو يو ډېر ښه تصوير د تاريخ حافظې ته سپاري، وايي:

مور ته سپرلي تازه جنګونه راوړي
په دې توپير راته بهار معلوم دی

او يا :

چې موسم يې د جنګونو پيلامه وي
دې وطن کې پسرلی هم بې ايمان دی

د لرې پښتونخوا د وتلي نقاد او شاعر ښاغلي فيصل فاران پام هم پر اوسني پښتو شعر د جنګ تاثيراتو ته اوښتی، ده د ښاغلي سعيد زابلي د شعري ټولګې "ستورو ته ناست يم له سېټاره سره" سريزه کې دغه ډول غزلونو ته بيانيه غزل ويلی او په وينا يې دا ډول شعرونه د نن وخت الميه د شعور له غبرګې نه د شعر جولۍ ته سپاري چې دا جوهر په پخوانيو شعرونو کې يا نه ليدل کېږي او يا خو کم دی. په پورتني بيت کې مور ته د سپرلي له راتګ سره د تازه جنګونو کيسه کېږي، دا ځکه چې پسرلی هوا ښه وي، غرونو کې واورې ويلې کېږي، لــه ګاونډيــو هېوادونو نه د جنګياليو د تګ راتګ کار اســانه شي او د جنګ دواړه لوري په يوه او بل نامه خپل عمليات اعلانوي. دلته نو شــاعر د موسمونو د بدن پېښه هم له جنګ سره تړي او په هنري ډول د خپل ولس د بدمرغيو له حاله مو خبروي. د ښــاغلي زابلي په شــعرونو کې نور هم داسې مواد شته چې د ورځيني ژوند پېښې او انځورونه په کې ليدلی شو، دی په يو ځای ډېره نوې خبره کوي:

دا زنده ګي به زنده ګي وشمېرو
چې شي ماښام نو خپل سري وشمېرو
چې بې بمباره تر خپل کوره راشي
دغه واده به بيا ښادي وشمېرو
سعيده وروسته له چاودنې څخه
تشې خولۍ، څپلۍ، کالي وشمېرو.

د رحــمان بابا پــه وينا په غزل کې خو يو بيــت وي انتخاب- تر دې وړانــدې ما فکر کاوه چــې غــزل د مضامينو د تنوع لــه مخې يو نيم بيت د جنګ د ناخوالــو په اړه ولري مګر د

www.sikaraam.com

ډېرو شـاعرانو په شعرونو کې مې ولیدل چې د غزل محتوا یې ټوله همدا جنګ او د جنګ بدمرغۍ دي، ښـایي له همدې پوښتنې سره به چېرته مخ شوی وي چې ښاغلي زابلي په یو غزل کې ویلي:

سعیده تا هم له دې خپل ماحوله رنګ اخیستی
څه عجیبه ده مرګ او ژوند دې په شعرو کې ښکاري

د جنـګ د روانـو غمیزو یـوه بله لویه ناخوالـه دا وه چې زموږ ځینـې دیني او کلتوري ارزښـتونه یې هم زیانمن کړل، په جوماتونو کې چاودنې، په ګڼړیو کې د بمونو ایښـودل، دشـپې د خلکو کورونو ته ننوتل، سر پرې کول، په اور د ژوندیو انسـانانو سوځول، په بمبار کـې د ټـول کلي په ډله ییـزه توګه وژل دا ټول هغه څه دي چې د افغانسـتان په پخواني تاریخ کې بېسـاري دي، شـاعر چې په ټولنه کې ژوند کوي دداسـې خـبرو په اورېدو یې روحیات متاثره کېږي، نو مجبور دی چې د خپل ولس د پوهاوي په خاطر د ګل او بلبل پر ځای یا د خال او رنجو پرځای دې موضوع ته لومړیتوب ورکړي او ووایي:

بیا د درنې چاودنې غږ له سپین جوماته راغی
خدایه قرآن دی پاڼې پاڼې په مینار ځړېږي

او یا هم د جلال خپلواک دا بیتونه:
نه توپ نه تیارې شته او نه زغرې په جومات کې
باداره بیا نو څه کوي لښکرې په جومات کې
دا کونډې یتیمانې دا زموږ د پښتنو دي
هر چېرته چې قطار وینې سوالګرې په جومات کې
اې خدایه داسې وخت د وروروليۍ به کله راشي؟
چې یو ځای وي (پیکپې) او (رېنجرې) په جومات کې
چې دا زموږ ولس وي او دا یو تر بل وژل وي
جلاله په خدای وابه ورې سندرې په جومات کې

د جنګونو یوه بله بدمرغي دا وه چې کور، کلی، حجره، جومات یو هم په امن کې پاتې نه شـول او په یوه کې هم انسـانان ځان مصون نه احساسوي، داسې پټې خبرې پیدا شوي چــې په جومات کې بمونه ږدي، په حجره کې ځانمرګی کوي، په کلي او کور ډزې کوي، په خوړ او پټې کې نامعلومه کسـان راوځي او بې ګناه انسانان وژني، دا ټول هغه دي چې زموږ ولس ورسره مخ دی او ددوی په شعر کې هم ځان ښیي. د وژنو او ویرونو دا لړۍ یوازې په بره پښـتونخوا کې نه ده روانه بلکې لره پښـتونخوا یې هم په خپله غېږه کې نغاړلې ده،

www.sikaraam.com

د عثــمان علي عثمان په یو غــزل کې به وګورو چې په لره پښــتونخوا کې د خپلو حجرو او جوماتونو څه ډول تصویر مو مخې ته ږدي:

زما د کور کلي جومات او د حجرو قاتله
پټ مخ څرګند به دې شي یه د پښتنو قاتله
ستا د بارودو د لوګو نه لاندې لمر نه وتو
دا ځل ګرمۍ کې هېڅ پوی نه شوم په ګرمو قاتله
زما توی شوې وینه هم چاته بدل نه پرېږدي
ستا توري مړ کړم خو ستا تورې زنګ وهو قاتله
دا خو زما د پښتون شکل نه دی بل بل څه دی
هغه خو نه دی داسې تا چې ځنګ ښودو قاتله
زما او ستا ترمنځ تضاد و خو بس دومره قدرې
تا اوروو قاتله ما به مړ کوو قاتله
په شین سپرلي کې بنګړیوالې زموږ چم ته راځي
په شین سپرلي کې شي هغه د شنو بنګړو قاتله

د عثــمان علی عثــمان په څېر یو بل دردېدلی شــاعر ممتاز اورکزی هــم د خپل کلي او جومات په ورانولو ویر کوي، په بمونو د زیارتونو د الوزولو کیســه راته کوي، په خپل ښارکې د وینو د فوارو تصویرونه راښــيي او چیغې وهي چې نور مې ســترګې د جنګ د ناخوالو له لیدلو ســتړې شــوي دي، اخر تر څو به وي هره خوا جنګ جنګ جنګ، دی په خپل شــعر کې د ډیورنډ د کرښــې دواړو غاړو ته راپېښې شــوې ټولې هغه پېښې شاعرانه کوي چې د جنګ د پدیدې نه زېږېدلي دي، لکه د ګل غوندې ماشومانو په سینه کې د بمونو ټومبل، د جرګو د مشرانو وژل، د انسانانو د مریو پرې کېدل او زندۍ کېدل، په ډله ییز ډول د بې ګناه ځوانانو وژل کېدل او لسګونه نورې داسې واقعې په موزونو الفاظو د شعر په جامه کې نغاړي او خپلو مخاطبینو ته یې وړاندې کوي:

د وینو فوارې دي هرخوا جنګ جنګ جنګ دی
زمونږ زړونه ارې دي هر خوا جنګ جنګ جنګ دی
پردي خلک راغلي دي خپلوان را ځخه وژني
تور سرې او سپین ږیري او ځوانان را ځخه وژني
جرګې به راته څوک کوي مشران راځخه وژني
د ګل په سینه بم تړي کمکیان را ځخه وژني

www.sikaraam.com

نادودې مسخرې دي هرخواجنګ جنګ دی
زمونږ زړونه ارې دي هر خوا جنګ جنګ جنګ دی
دا څوک دي په بمونو یې تباه کړل زیارتونه ؟
بابا عبدالرحمان له پښتنو نه کړي سوالونه
څوک شته چې د ټوپک والا نه ونیسي لاسونه ؟
محفوظ نه دي ، د خاورو لاندې هم زمونږ هډونه
د چا په ا شارې دي هره خواجنګ جنګ جنګ دی
زمونږ زړونه ارې دي هره خوا جنګ جنګ جنګ دی
یو خوا توره لونګۍ او بل خوا سپینه شان مانۍ ده
په مینځ کې یې راګېره دا زمونږه دنیاګۍ ده
چې تاو رانه چاپیره د زنځیر هره کړۍ ده
دنیا چاوی ښایسته ده ، د بارودو یوه ډېرۍ ده
په شونډو مو نعرې دي هرخواجنګ جنګ جنګ دی
زمونږ زړونه ارې دي هر خوا جنګ جنګ جنګ دی
دا څه ظلم یې ولیده عالم راته ژړیږي
زما په لاس کې ګوره دا قلم راته ژړیږي
هر ګل راته ژړیږي او شبنم راته ژړیږي
زما غم یې چې ولیدلو غم راته ژړیږي
مرۍ دي ، غرغرې دي هرخواجنګ جنګ جنګ دی
زمونږ زړونه ارې دي هر خوا جنګ جنګ جنګ دی
چې نن زمونږه داسې دی سبا به وي لا څنګه ؟
تور تم کې رالوی شوي یو ر ڼا به وي لا څنګه ؟
طالب به وي لا څنګه او ملا به وي لا څنګه ؟
اشنا ! بلا دې واخلمه بلا به وي لا څنګه
هم دغه څو څهرې دي هر خوا جنګ جنګ جنګ دی
زمونږ زړونه ارې دي هر خوا جنګ جنګ جنګ دی
تور خمه تانه پورې او راپورې دي جنګونه
پردو راته سوغات کې نن راوړي دي مرګونه
له څېرمې لیونې یو رانه هیردي خپل نومونه
توپیر نه شو کولی،کوم ازغي دي کوم ګلونه
نسکورې منارې دي هرخوا جنګ جنګ جنګ دی
زمونږ زړونه ارې دي هر خوا جنګ جنګ جنګ دی

www.sikaraam.com

## په شعر کې جنګي اصطلاحات

د زړګي بم مې ستا د سترګو په ريموټ تړلی
يو سترګک ووهه زما د شهادت لپاره
(محمدعليم بسمل)

افغانسـتان پـه تېرو پنځه دېرشـو کلونو کې د بحرانونو او پېښـو ځمکـه وه، له سر نه تر پښـو دا خـاوره په ګوليو، چاودنـو او ټپونو کې پټـه وه. نړيوالو په کې ډول ډول وسـلې د تش لاسـه ولس پر ضد اسـتعمال کړې او د وسـلو ديوه لابرتوار په توګه يې ددې وطن له کليو او ښـارونو نه کار واخيسـته. دا چې ددغو جنګي وسـايلو او وسـيلو نومونه او يادونه هره ورځ په ولس کې کېږي، نو پښـتو شـعر ته يې هم لاره پيدا کړې. په ډېرو اوسنيو پښتو شعرونو کې د ځانمرګي، ريموټ کنټرول بم، بې پيلوټه الوتکو، ټانګونو، راکټ، کلاشنکوف، کلاکوف، تـوپ، پسرلني عملياتو، نظامي توپانونو او غورځنګونو، د بدرعملياتو او نورو ډېرو وسـايلو، عملياتـو او نظامي تجهيزاتو نومونه وينو، خو هغه څـه چې په نظمونو او غزلو کې ډېر يادېږي هغه ځانمرګي، استشـهادي، انتحاري بريدونه دي. لامل به يې ښـايي دا وي چې دغه حملې ډېرې ويروونکي دي، په دې وروسـتيو کې د ډله ييزو ځانمرګو حملو پېښو د افغانسـتان د خلکو ذهن ته ټکان ورکړ، شـاعران او ليکوال يې دومره متاثره کړل چې په ليکنو او شعرونو کې يې دې مسايلو ته پوره پام واوښت:

هـــر يــــو تــوری د غــزل زمـــا خپل زړه خـــوري
زه ځـــانــمرګــی يــمــه خـپل زړګــي ته بــم ړدم

(غني هاشمي)

د ښـاغلي پيرمحمد کاروان [چنار خبرې کوي] مجموعه يو له هغو شعري ټولګو څخه ده چې دجنګ د ناخوالو ډول ډول هنري انځورونه په کې ليدلی شـو، د چنار خبرې کوي او ورپسې د ښاپېرۍ د ورغوي شعرونه زياتره دجنګ موضوعاتو ته ځانګړي شوي، پر هېواد او هېوادوالو د راپېښـو حادثو او بدمرغيو په دې انځورګريو کې کله کله ښاغلي کاروان دومره ژور تللی چې د شعر زياته برخه يې د همدغو جنګي وسايلو او تجهيزاتو نومونو احاطه کړې،

www.sikaraam.com

په لاندې شــعر کې به وګورو چې د ځومره جنګی وسایلو نومونه یې شعر ته ور ننوتي او ده ځومره شاعرانه کړې دي:

زموږ ژوند لکه نجلۍ زموږ د کلي
چې د جنګ په ورځ پيدا شي
او د جنګ په شپه شي پېغله
د ښایست په ایینه کې
اول موسکه شي، بیا کټ کټ په خندا شي
چې نلۍ یې شي رجړومه
دسل ډزې ماشينګڼې
سلايي يې ماته ستن د کلاکوف شي
د خنجر په څوکه خال پر زنه کېږدي
له ناچاودي بم نه وباسي
نري نري تارونه
په کې وپېي مرۍ او مرغلرې
په ځونډیو کې یې پټې کړي هنداري
ترينه جوړ کا امیلونه او هارونه

په پورتني شــعر کې موږ د څو جنګي وسایلو نومونه لکه سل ډزی ماشینګڼې، کله کوف او ناچــاودی بــم نومونه وینو چې ښــاغلي کاروان شــاعرانه کړي او د خپــل ولس د ژوند ښــه تفسیر یې کړی. ښایي ځینو لوســتونکو به لیدلي وي، چې زموږ پر کلیو دومره بمونه اورېدلي چې وروسته بیا خلکو لویو مرمیو له پوچکو او سرګلولو نه د خپلو بامبوټیو او برنډو په ښکلي کولو کې کار اخيستی. لکه څنګه چې د ښاغلي کاروان په شعر کې لیدل کېږي ښــایي ډېر ي داســې نجونې وي چې د مرمیو له پوچکو نه یې ځانته رنجړومې جوړې کړې وي او نارنجک بمونه خو ما په خپلو ســترګو لیدلي چې خلک یې اوس د نسوارو د دبلي په توګه استعمالوي. د ښاغلي پیرمحمد کاروان دې شعر راته په شلمې پېړۍ کې د افغانستان د یــوه کلي او د هغــه کلي د ولس انځور وړاندې کړی دی. د هېواد دوتلي کیســه لیکوال ښــاغلي سعدالدین شــپون په شعرونو کې هم دافغانســتان د دوه دوه نیمو لسیزوپيښې او تراژیدۍ وینو او په ځانګړي ډول هغه اصطلاحات او نومونه چې د روســانو له یرغل سره یو ځای افغانســتان ته راغلي دي، د ښاغلي شپون په شــعرونو کې بیا له نورو شاعرانو سره لږ څه توپیر شــته هغه دا چې دی د جنګ له ناخوالو شکایت ته هم حماسي شکل ورکوي. د ښــاغلي پیرمحمد کاروان په وینا: د ښــکلایوه معنی هم د هر څه په ځای او مناسبه کارونه ده . د شپون د شاعرۍ د تخیل کمال په دې کې دی چې حماسه په تغزل کې نغاړي او د

www.sikaraam.com

هنر یوه ښکلې تابلو ترې جوړیږي، لاندې بېلګه وګورئ چې د شوبلو (ټانګونو) نوم په شعر کې څنګه او په څه شاعرانه انداز خوندي کوي:

ستا دسترګو شوبلې راغلې
د زړه کلي ورانوي
کړې وروځې نرې ملا دې
پښتانه روسانوي

یا دا بیتونه:
نیمه شپه کې راغله تورې سترګې سره لاسونه
تورې غوړې څڼې لکه سوي درمندونه

ټیک یې په تیاره کې ړکیده لکه برېښنا
شرنګ یې د بنګړیو لکه کړچنده ټانکونه

په پورته شعر کې وینو چې موضوعاتو، کلماتو او د جنګي وسایلو نومونو ته ځومره مناسبه زمینه سازي شوې ده. ډېر شډل کلمات او تصویرونه په داسې ځای کې راوړل شوي چې ښکلي ښکاري .د غوړو څڼو لپاره سوي درمندونه که له یوې خوا نادره تشبیه ده،نو له بلې خوا د جنګ هغه شېبې انځوروي چې د انسانانو تر څنګ فصلونه او درمندونه همد جګړې آژدها تر ستوني تیرول . ټانکونه ظاهراً ځومره ویرووونکي، ورانووونکي او غیر شاعرانه ښکاري خو دا چې دبنګړو د شرنګ ملګری شوي دي، همدا کړچنده ټانکونه ښه لګیږي او لوستونکي دتغزل تر څنګد جنګ له ژوبلو او لولپه شېبو نه هم بې خبره نه پاتې کیږي .

په تېرو لســو کلونو کې بیا په شــعر کې د ټانګونو او شوبلو خبرې نه کېږي، ځکه د جنګ بڼې او شکل توپیر موندلی دی، اوس که کوم ځانګړي عملیات نه وي، نو د ټانګونو کتارونه چې پخوا به خلکو ورته قوه ویله نه لیدل کېږي، هغسې درځن درځن الوتکې هم په اسمان نه ښکاري، اوس که بمبار هم کېږي نو د بې پیلوټه او «بی ۵۲ » په وسیله کېږي. ددې دور په شــعر کې ناڅاپي او چریکې حملې دي، حادثــې دي، ځانمرګې دي، د سرونو پرېکول دي، د ژوندي انســانانو او ښارونو ســوځول دي، د شپې عملیات، ډله ییز بریدونه او داسې نور... د ښــاغلي جیلاني جلان یو ازاد نظم به ولولو چې په اوسني وخت کې د افغانستان دیوه ښار یو دردوونکی تصویر مو مخې ته ودروي.

www.sikaraam.com

د ښار هېنداره کې مو اوړي تصويرونه عجيبه عجيبه
د شپې تصوير په لمبو زيږ د ورځې سور په وينو
او د ښار ځمکه توره سوې کنډوله کنډوله
پکې غبار د ويرې ،وهم او وحشت تاويږي
د ښار وګړي ته وا مړي له قبرو راوتي
الوتی رنګ، سپيره مخونه
او د ډار تبه د هرچا په وجود ښخه ده
ته وا چې خدای پرې خوره کړې د قيامت ورځ ده

د ښار هېنداره کې مو اوړي تصويرونه عجيبه عجيبه
هلته دښار په يوه لوی واټ کې تصوير د يوې چاودنې ښکاري
د واټ په ګردو ديوالونو ښخې
ددغه ښار د انسانانو غوښې
دنارينه وو، ښځينه وو او معصومو ماشومانو غوښې
او هرې خواته چې ته مخ اړوې
درد، وير او سلګۍ وريږي
دښار محيط باندې د سره قتل ږلۍ وريږي

د ښار هېنداره کې مو اوړي تصويرونه عجيبه عجيبه
کله نه کله پکې يو نيم تت تصويرد ژوندانه د ښکلاګانو راشي
خو هغه دومره تت وي
چې ان د زړه په سترګو هم نه ښکاري
لکه د يوې شيبې خوب راشي په شيبه کې لاړ شي

د ښار هېنداره کې مو اوړي تصويرونه عجيبه عجيبه
خو يو مغرور تصوير، شانداره تصوير
ددې هېندارې پر مخ ډېر د هغه چا راځي چې
دانسانانو د سرونو په غونډۍ ولاړ دی
اوس يې هم توره لاس کې سره نيولې
د خپل وحشت دخپل بدرنګ هوس په زور
ددغه ښار دانسانانو وينې
لکه روا شراب په سر اړوي

www.sikaraam.com

د ښار هېنداره کې مو اوړي تصويرونه عجيبه عجيبه
ټول تصويرونه د غميزو، بدمرغيو د دردنو پکې
ټول تصويرونه يو پيغام ورکوي
د ناهيلۍ په ايرو خړ پيغام د ښار لپاره.

نه پوهېږم چا راته دا خبره کړې وه چې د جنګ د بدمرغيو په اړه ويل شـويو شـعرونو کې يوازې پيغام او د پېښـې ګزارش لېږدول کېږي، دغه شـعرونه يوازې محتوا ته پاملرنه کوي او د ژبې تکنيکونه، جوړښـت او شـعريت ته دومره پاملرنه نه کېږي. مګر د ښاغلي جيلاني جلان پورتنى شـعر او د ځينو نورو شـاعرانو شعرونه ښـيي چې يوازې د پيغام لېږدولو او د پېښـې د ګزارش ورکولو ادعا سـمه نه ده. د جيلاني جلان په شـعر کې تصويرونه، کليواله ژبـه، پيغـام او اسـتعارې ټول هغه څه دي چې د يو ښـه شـعرټول لازم مواد پـوره کوي او شـعريت يې په ازبات رسوي. دغه شـعر خپلو مخاطبينو ته دا ثابتوي چې د جنګ سببونه په وارخطايۍ نه دي بيان شـوي، په شعر کې شعار نه شته چې تور او سپين سره بېل کړي يـوازې هغه دردونه او دردوونکي تصويرونه دي چې هره ورځ ورسره افغان ولس مخ کېږي. ددغسې هنري شعرونو په ليدو کله کله خو ماته دا فکر پيدا شي چې ادبيات به مو که خير وي تر جنګه وروسـته وده وکړي، ځکه زما د معلوماتو له مخې د نړۍ يو شـمېر لوړ اثار تر جنګونو وروسـته ليکل شوي دي. اوس چې په فيس بوک او ويبپاڼو کې کوم شعرونه ليدل کېږي په زياترو کې دجنګ موضوعات په ډېره هنري توګه شـاعرانه شوې وي، له دې کاره داسـې پايله هم اخيسـتل کېداى شي چې جنګ که زموږ ژوند ګډ وډ کړى دى، نو له بلې خوا يې پښتو شعر له بې موضوعۍ نه راويستلى، شاعر چې هره خوا مخ اړوي له يوې پېښې او حادثـې سره مخ کېـږي او که چېرته په خپل هنر برلاسـې وي نو بيا کولاى شي همدې پېښـو ته هنري رنګ ورکړي او ټولنې ته يې وړاندې کړي. د مجيد قرار دوه بيتونه به ولولو چې مينه او غميزه يې سره غاړه غړۍ کړې ده، که يوه خوا راته په کنايي ژبه د خپل جانان د ښايست زور راښيي نو له بلې خوا خپله مينه هم هغه انتحاري کس ته ورته بولي چې په يوه ځل بټنې کيګاړلو خپل ټول ژوند تماموي:

دخپلې مينې مې جانان ته اظهار نه و کړى
اوس په دې پوى شومه چې دا مې ښه کار نه و کړى
زه څه خبر وم چې په تا پسې کتل څه مانا
که زه خبر واى ما به دا انتحار نه و کړى

(مجيد قرار)

لکـه دمخـه چې مې يادونه وکړه د انتحار او ځانمرګو موضوع په اوسـنيو شـعرونو کې تر

www.sikaraam.com

نورو مســایلو زیات لیدل کېږي، ښــایي لامل یې دا وي چې یا خو له ځانمرګو خلک سخت ویرېــدلي او یــا هم دغه کار ورته یو نوی کار ښــکاري او ددوی په افکارو او تخیلاتو یې هم تاثیر کړی. په غزلو کې داســې ډېر بیتونه لیدلی شو چې د ځانمرګو تصویرونه د تاریخ په حافظــه کې خوندي کوي او په شــعر کې د نویو اصطلاحاتو له پلــوه نوې زیاتونې کېږي. لاندې بیتونه ولولئ:

غیږدګلبدنوخوشرره انتحاردی
څنګه به نوروغ له انتحاره سړی راشی

د دې ولس لاس خدای خبرکومې بلا څټلی؟
څوک یې ځانمرګي کې مری، څوک یې دبمبارنذرانه

(ارشاد رغاند)

ډېرې سترګې درپسې دي ښار ته مه ځه
دځانمرګو اوازې دي ښار ته مه ځه

(بسم الله ارمان)

راشه لږ مې زړه تر خپل انکاره وروسته وګوره
حال ددغه ښار تر انتحاره وروسته وګوره

(شمسزی)

دا هم د ځانمرګي اراده غواړي
عشق په هره لار خطر کړلی دی

(مصطفی سالک)

پــه پورته بیتونو کې مــو ولیدل چې په ارادي او غیر ارادي ډول د شــاعرانو په بیتونو کې ځانمرګی یاد شــوی او په یوه نه یو ډول له یو څه سره تشــبیه کې راوســتل شوی، اوس که شاعران تشبیهاتو او استعارو ته هم مخ اړوي، نو کله کله به په کې همدا د جنګي وسیلو او وسایلو نومونه اخیستل کېږي، د صفی الله باران په یوه لنډکي ازاد شعر کې به ولولو چې د جانان جدایي د ټوپک له مرمۍ سره تشــبیه کوي، خپلې مینې ته وایي دټوپک د مرمۍ په څېر تېز او لرې لاړې، دومره لرې چې بېرته راتګ دې ممکن نه دی:

ګلې دا څه دې وکړل!!!؟

www.sikaraam.com

مانه په سهوه دومره لرې لاړې
لکه مرمۍ چې په يوه ماشه رابنکلو باندې
له ټوپک لاړه شي بيا نه رادرومي.

دمحمدالله کمال دا بيتونه وګورئ چې څومره جنګ ځپلي دي، د جنګ ناخوالو يې ذهن دومره اغېزمن کړی او په سترګو يې داسې توره تياره راغلې چې اوس توره بلبله هم هوا کې ورته الوتکه ښکاري او بيا د هغې له ليدو سره سلګونه ويرې او انديښنې يې زړه کې پيدا کېږي:

څه بې پروا او څه زړه توري چې له ناز ښکارېږي
د کلي ښکلي نن په بل ډول انداز ښکارېږي

کوم جادوګر مې خدای خبر په سترګو څه کړي دي
توره بلبله هم هوا کې راته جاز ښکارېږي

دا يو منل شوی اصل دی چې د شاعر پر ذهن دچاپيريال تاوده او ساړه اغېز لري، د افغانستان د ځوان نسل شاعري په جنګي حالاتو کې وده کړې ده، دجنګ پېښې، د حالاتو تصويرونو او بيا ډېره مهمه خبره داده چې دی وينې قاتل او مقتول يې دواړه خپل دي، دواړه ديوې کليمې ورونه دي، ددواړو عقيده يوه ده، دواړه ځان په حقه ګڼي خو د پرديو له خوا له يو بله ناخبر ساتل شوي دي،

که لر غورځېږي که بر غورځېږي
بم مو د زړونو په سر غورځېږي

(نصرت الهام )

www.sikaraam.com

## سوله په شعر کې

موديې موديې ويده وې په ټپې ټپې مړوند
را ويښ شه اوس د شنو بنګړيو شرنګه ځوانيمرګه
(شرر ساپی)

سوله لوی نعمت او الهي امر دی، چې په شتون کې يې د انسانانو عزت،سوکالي او ارامي خوندي وي . د اســلام مبارک دين چې ټول بشريت ته د ســولې او ښــو اخلاقو لارښــوونه کــوي، تل يــې خپلو پيروانو ته امر کړی چې خپلې ســياسي او ټولنيزې غوښــتنې په يوه داسې چوکاټ کې مطرح کړي چې ټولنيز نظام ګډوډ نه شي او د انسانانو ترمنځه ستونزې را ولاړې نه کړئ. د اســلام د مقدس دين د ارشــاداتو فلسفه داده چې انسانان بايد په يوه ارامه او ســوکاله ټولنه کې ژوند وکړي ځکه ســوله ديوې ټولنې تر ټولو مهم او لوی ضرورت دی.

د افغانســتان په څېر جنګ ځپلې ټولنې چې د جګړو له لاســه يې څو کاله پرله پســې ورانی ، د ابادیو تباهی او د انســانانو بېســارې مرګ ژوبلې ليدلي تر ټولو زيات ســولې او ټيــکاو ته اړتيا لري. زموږ د وطن او وطنوالو غوندې نــورو نړيوالو هم د جنګونو ناتار ليدلی دی، پــر هغــوی هم جنګ ځمکه سره تبی ګرځولې وه او فريادونو يې د اســمان تر شــنې ګومبــزې لاندې زړه غوځوونکې ازانګې کړې دي، خو يو شــی چې زموږ د هېواد له حالاتو سره توپيــر لــري هغه داده هر کله چې دې جنګ ځپلو ملتونــو له خپلې اوږې نه د جګړې درونــد بار غورځولی نو امن ته ورغاړې وتي دي. هغه تېروتنې يې جوړې کړې چې د جنګ په شــېبو کې ترې شــوې وې، دخپلو هېوادونو ورانې ويجاړې يې يوه په بله پســې داســې ابادې کړې چې د ورانی نښــه هم په کې پاتې نه شــوه، دوی په نيمه ګيډه خو په پياوړې هوډ ســختو کارونو ته مــلاوې وتړلې، پياوړی هوډ او اخلاص هغــه د چا خبره تور کمر کې لاره باسي او د غرونو د رحمتونو اوبه تر وچو للمو رسوي، د نړۍ ډېرو جنګ ځپلو ملتونو دا هوښــياري کړې چې له خپلو تېروتنو يې عبرت اخيســتی، ځانونه او ذهنونه يې جوړ کړي او له نوي سره د ژوند په ډګر کې په پښــو ودرېدلي دي چې زموږ اســيايي هېواد جاپان يې ژوندی مثال دی.

زموږد هېواد خلک مسلمانان دي او اسلام مسلمانانو ته حکم کوي چې په خپلو منځونو

www.sikaraam.com

کې اخوت او ورورګلوۍ کې ژوند وکړي. په پښتو اوسنيو شعرونو کې هغه څه چې په دې وروستيو کې زيات ليدلی شو هغه دسولې او سوکالۍ غوښتنه ده. پښتنو شاعرانو درک کړي چې د افغانستان خلک په تېرو پنځه دېرشو کلونو کې ډېر دردونه او کړاوونه وليدل او ددې کړاوونو لامل همدا و چې يو او بل مو نه شول زغملی. همدا اوس هم په هېواد کې وسلوالې جګړې روانې دي، د وسلو د ډېروالي او د ډول ډول جنګي وسلو او وسايلو په استعمالولو هره ورځ لسګونه بې ګناه وګړي شهيدانېږي، چې دا ولس نور دداسې ناخوالو د زغملو تاب نه لري. په اوسنيو شعرونو کې له هېواد سره مينه تر ټولو سياسي پولو پراخه ده، ګډ دين او ګډ رنځ هغه مشترک توکي دي چې دځوانو شاعرانو په شعرونو کې سر راښکاره کوي. زياتره اوسني پښتو شعرونه که وځېړل شي نو درې سرچينې به لري: مينه، نفسيات او د هېواد ناخوالې. د پښتنو شاعرانو له نظره سوله يوازې د ددو متخاصمو ډلو له خوا د جګړې بنديز ته نه وايي، بلکې په پښتو شعر کې له سولې نه لوی او پراخ مفهوم اخيستل کېږي چې د انسانانو له فردي اخلاقو را نيولې تر ټولنيزو او سياسي چلندونو ټول په ځان کې رانغاړي. ددې شعرونو په مصداق سوله يانې په ژوند کې د فردي او ټولنيز ژوند اصلي رنګ او يوې مطلقې ارامۍ او سوکالۍ ته رسېدل.

شاعر نازک زړه او حساس ذهن لري، په وړه خبره ډېر ځورېږي او په ډېره وړه خبره به خوشحاله شي، همدا يې لامل دی چې د دردېدلو په وخت زموږ د ولس ډېر دردونه ، غمونه او غوښتنې تر ټولو زيات د شاعرانو په کلام کې محسوسېږي، خو همدغه شاعران چې بيا کله د سولې يوه څړيکه وګوري دومره ورته خوشحاله وي چې خپل ولس ته ژر ژر د خوشحالۍ زيری ورکوي. په پښتو شعرونو کې سلګونه داسې مثالونه لرو چې شاعرانو په کې سوله غوښتې، له جنګه ستړيا او کرکه يې څرګنده کړې او پر ښکېلو خواو او نړيوالو يې غږ کړی چې دې ولس ته نور سکون په کار دی، ارامي او سوکالي ورته په کار دی. شاعر د يوه سوله غوښتونکي موجود په توګه هره خبره سولې او سوکالۍ ته تاووي، دی که د غنمو وږی يادوي،که د شبنم ځاځکي يادوي، که د ماشوم مخې ته پروت کتاب يادوي او که په پسرلي کې غوړېدلي ګلونه دا ټول هغه څه دي چې دده سوله دوستی ذهن يې د ټول انسانيت لپاره غواړي. همدا يې لامل دی چې کله کله په تورو تيارو کې هم ګلالي خيالونهويني له ځان سره وايي چې سوله راتلونکې ده، بالاخره به د سولې او سوکالۍ دښمنان په خپلو کړنو پښيمانه شي او د هېواد د ناخوالو په ليدلو به ددوی په سترګو پښيمانۍ ښکاره شي، دجنګ پر ځای به په خپلو سترګو کې دمينه ناکو نظرونو جنګونه راوړي د جنګي اسونو پر شا به يې د سولې جنډه رپېږي، ښاغلی کاروان وايي:

جنګ به يې وژلی وي د سترګو جنګ به راوړي
ګورې به جنګي اسان د سولې رنګ به راوړي

www.sikaraam.com

د شرر ساپي په زړه کې چې بيا کله د سولې هيلې غوړېدلي او د سولې کوم څرک ورته چېرته په وطن کې ښکاره شوی نو له خوشحالۍ او شوخۍ يې د يار په لېچو کې پر ويدو غمجنو بنګړو غږ کړی چې:

مودې مودې ويده وې په ټپې ټپې مړوند
را ويښ شه اوس د شنو بنګړيو شرنګه ځوانيمرګه

که خپلو کلاسيکو ادبياتو ته وګورو، کلونه کلونه دمخه هم شاعرانو شعر د سولې او دوستۍ د يوه پيغام وړونکي په توګه کارولی، دوی تل هڅه کړې غوره ارزښتونه لکه عدل، احسان، مينه، دوستي او نور په ټولنه کې ژوندي کړي ، دوی په خپلو شعرونو کې پاچاهان او واکمنان عدل او انصاف ته بلل او په خپلو ښکليو او عاطفي شعرونو يې د دوی په زړه کې د مينې او محبت بڅرو ته پوکی ورکاوه. د اوسنيو ځوانو شاعرانو په ځانګړې ډول هغوی چې له جنګ سره يو ځای مزل کوي زياتره شعرونو کې سوله غوښتل کېږي، له واکمنو څخه غواړي چې نور دې د توري پر ځای دپوهې رڼا په لاس کې ونيسي او د هېواد په ګوټ ګوټ کې دې دا رڼا خوره کړي. د احسان الله درمل په لاندې غزل کې به وګورو چې يو شاعر څنګه د سولې د راتلو په هيله شپې او ورځې سبا کوي، د هېواد د ټولو وګړو په څېر دده لويه هيله هم همدا ده چې افغانان په خپل کور کې په امن کې ورځې شپې تېرې کړي، دوی وايي لوږه، تنده هر څه زغملی شي خو نور د خپلو ورونو د وينو ويالې نه شي ليدلی، دی سولې ته شکايت کوي او وايي چې موږ لکه پرخه دا څو کاله پر اغزو درته شپې تېرې کړې، زړونه مو ستا د راتلو لپاره د انتظار په لمبو ولاړ وو، ډېر وځنډېدلې اوس يې نو وخت دی چې د ګلاب غوندې مخ راواړوې، ځکه چې له ماشومتوبه ان د ځوانۍ تر مرحلې موږ ستا په تمه پر اغزو شپې تېرې کړې دي. احسان الله درمل په تورو جنګي سترګو کې هم سپينه سوله غواړي او وايي چې د انقلاب غوندې دې په کې په ناڅاپي ډول را پيدا شي چې زړونه مو ارامه او خلک مو سوکاله شي:

مونږه لکه پرخې درته شپې پر اغزو تېرې کړې
اوس خو مخ ظالمې! د ګلاب غوندې راواړوه

زړونه ستا راتلو ته پر لمبو د انتظار ولاړ
خدای دې پر دې للمو د سيلاب غوندې راواړوه

www.sikaraam.com

خدایه سپینه سوله خو په تورو جنګي سترګو کښې
لړه د سپېڅلي انقلاب غوندې راواړوه

د ډېرو ځوانو شــاعرانو د شــعرونو له محتوا نه ښــکاري چې د افغانستان خلکو که څه هم د خپــل تاریــخ ډېره موده په جنــګ کې تېره کړې، مګر نور نو له جنګه ســتړې دي، نور نو غــواړي خپلــو اولادونو ته د ټوپک پر ځای قلم ورکړي. ددوي په نظر د جنګونو زغرې دا څو کاله کېږي چې په ځوانانو باندې ویشــل کېږي، ځوانان به دجنګ په جامو پوښــل کېږي، مګر ترڅنګ یې د امن غوندې نازکې پېغلې د خپل سرتور سر د پټولو لپاره ټیکری نه لري. شاه سعود وایي:

جنګونو زغرې په ځوانانو باندې و وېشلې
د امن پېغلې راتــه ووېل چې څادر نــه لــرم

دوی وایي  په اور کې زیات وسوځېدو، پرون او نن خو مو کورونه و نړېدل ، نو خدایه پاکه د سباني نسل لپاره خو مو کورته امن راوله:
په اور کې وسوځېدم خدایه! له تا امن غواړم
نن که مي ونړېږي کور خو سبا امن غواړم

د نن په ډېرو شــعرونو کې لولو چې شاعر نه غواړي دنیا په وینو کې غرق پرق شي، ګلونه او ګلغوټــۍ پــه باغونو کې ورژېږي، د بېوزلو خلکو ډوډۍ به وینو ککړه شي، د ســهار وږمه قتله شي، د چا په کور ویر او ماتم وګوري او د ژوند ښکلا بدرنګه شي.  د نن د شاعر زړه په جنګ کې ســتړی کېږي نو ځکه خو چیغې وهي چې خدایه د امن پرښــتې راولېږه، د امن کوترې راولېږه، داســې کوترې چې په وزرونو پورې یې لمبې نه وي، د ســمیع الله تړون دا شعر ولولئ:

د رباب غېږه کې یو ترنګ دې جنګ نه لري تښتي
د ټپو شور د بنګړو شرنګ دې جنګ نه لرې تښتي

خدایه د امن پرښتې دې رانه ټولې تاو کړه
دا کابلی زړه مې نور تنګ دی جنګ نه لرې تښتي

ځه سپين خو نه دی چې سرې وينې يې په مخ ښکاره شي
جانان د رنګه غنمرنګه دی جنګ نه لرې تښتي

يو لاروی د چم ګاونډه پټ په غلا تېرېږي
ددوی په کلي کې خو جنګ دی جنګ نه لرې تښتي

په پېښور کې يې تسل نه شي له آټکه اوړي
لايې په غوږ د راکټ کړنګ دی جنګ نه لرې تښتي

جانانه مه جنګوه سترګې چې ازارېږي نه کړې
ټرون د خدای ساده ملنګ دی جنګ نه لرې تښتي

د هېواد يوه بله شــاعره نبيله غزل بيا خپلو خلکو ته يادونه کوي هر قوم چې د ســولې پر ځای جنګ ته مخه کړې ده نو له خپله ژونده يې خوند نه دی اخيســتی. د سولې په اړه د ټولو شــاعرانو ګډ نظر دی او ټول خپلو خلکو ته وايي چې ويښ شئ، جنګ د اوسني عصر ښــېګڼه نه بلکې بدګڼه ده، د پرديو په اشــاره لګېدلواورونو کې ستاسې د اولادونو ارامي او ســوکالي هم نه شي ډاډمن کېدای، تاسې به د نړۍ مليونران شئ، بلډينګونه او ودانۍ به ابادۍ کړئ، خو تر هغې چې مو د خپل ولس په زړونو کې د ســولې راوســتلو له لارې ځان ته ځای نه وي پيدا کړی، ستاســې دا ټوله شــتمني به درته بلا شي، د نبيله غزل شــعر به ولولو چې نارينه و ته پېغور ورکوي چې ســتا د تــورو خرپا ځه کومه زما په مخ کې دې هغه پخوانی مهربانه رنګ نه شته:

چې په سوله د چا جنګ دی بدل شوی
ګوره وخت يې هم په ځنګ دی بدل شوی

د باروتود لوګو له تنفسه
د کابل د حورو رنګ دی بدل شوي

درپسې به د زيړي په رنځ اخته شم
داغ د زړه مې نور په زنګ دی بدل شوی

د شپيلۍ غږ د شپې نه اورم په خوب کې
که زيارت نه جوړ ملنګ دی بدل شوي

www.sikaraam.com

زورور شوې چې په زوره دیدن غواړې؟
که انداز دې د قلنګ دی بدل شوي ؟

ته به څه کوې د تورو په خرپا کې ؟
چې زما مخ کې دې رنګ دی بدل شوي

سمیرا کوچۍ چې د خپل ولس ناخوالې او بدې ورځې ویني نو پاک څښتن ته په ډېره مینه فریاد کوي چې د تخلیقونو خاونده دنړۍ ډېر هېوادونه دې ارامه پیدا کړي خو افغان ولس دی چې له کلونو کلونو د جنګ په اور کې سوځي. د اغلې سمیرا کوچۍ په دې شعر کې د یوې پښتنې د خولې سوچه خبرې او د ژوند راښه تصویرونه لیدل کېږي، دا هغه څه انځوروي چې د جنګ په دوران کې یې په خپلو سترګو لیدلي، دخپل چاپیرچل تصویرونه یو یو یادوي او خدای پاک ته زارۍ کوي چې خدایه پاکه ستا د تخلیق یوه حصه ته ګورې چې له ډېرې مودې نا ارامه ده، نارینه یې جنګ ځپلي، تورسرو یې د ژوند ټولې خوږلنې له لاسه ورکړي ایا ته ددې تورسرو زارۍ او فریادونه اورې او که نه:

د تخلیقونو ستر واکمن خاونده
ټول کاینات دې پر ارامه اوسي
ستا د تخلیق یوه حصه ده مګر
چې پر دې سیمه نا ارامه اوسي

نارینه نشته ټوله جنګ ته تللي
ستا د تور سرو سوال قبلېږي کنه؟
چې د شاهین له پنجو ځان وباسي
د دې کوترو سوال قبلېږي کنه؟

د یوه وران کاله په وره کې ولاړ
ښکلی ماشوم واړه سوالونه لري
غواړي دعا ستا په طرف ولېږي
مګر نه لپې نه لاسونه لري

www.sikaraam.com

یوه درنه یوه سپېڅلې پېغله
راځي په اوښکو یې لمانځنه کوي
د یوه ځوان په پښو کې ځان غورځوي
د تللي ورور ورنه پوښتنه کوي

چې غوړېدلې نه وي ورژېږي
پر ګل غوټۍ دي زړه خوږېږي کنه؟
بیرته چې باسې یې په سره ډولۍ کې
پر ناوکۍ دي زړه خوږېږي کنه؟

د شا زلمو ځوني خو وسوځېدې
کور مو سوځېږي بورجل اور اخیستی
اوس مو د لېچو بنګړي شرنګ نه لري
پاس پر تندي مو اوربل اور اخیستی

پر سر یې تور دېوان ولاړ مصلح
زموږ د امام په تن زخمونه لګي
دا ستا په کور کې امن پاته نه شو
پر منارو یې راکټونه لګي

نو ای د سترو قدرتو خاونده
و موږ ته سوله راکړه سوله راکړه
چې مو سجدې په کې کافري نه وي
نوی ژوندون له نوي روله راکړه

نارینه نشته ټوله جنګ ته تللي
ستا د تور سرو سوال قبلېږي کنه؟
چې د شاهین له پنجو ځان وباسي
د دې کوترو سوال قبلېږي کنه؟

ځوان شــاعر عبدالرحیم هلال بیا د ملالۍ کلي ته راشــه تر عنوان لاندې سولې ته زارۍ کوي چې موږ درد لرو خو اوس د ډېر درد له لاسه ان د فریاد ویستلو چل هم رانه هېر شوی دی، خبرې لرو، جرګه او جرګه مار لرو خو د جرګې مارو د راټولو اراده په چا کې نه شــته.

www.sikaraam.com

د سولې کوترې ته وايي چې په خپلو معصومو وزرونو کې سوله راوړه او زموږ تنده پرې ماته کړه، د ســولې په تمه په دې ليکل شــوي شعر کې خپل ولس ته ډېر هغه انځورونه وړاندې کوي چې د انســان په زړه کې عاطفه راوپښــولی شي، د جومات شــهيد کېدل، د رود ټپي کېــدل، په رود کې د مړوندونــو راتلل او ډېر هغه نور تصويرونه چې افغان ځوان نســل يې ډېرې بېلګې په تېرو کلونو کې ليدلي، دی خپل ولس هم چلينج کوي چې موږ اوس بريتور زلمي او شــمله ور سپينږيري لرو خو له بده مرغه له ټولو نه د جرګو او مرکو چل هېر دی او حيران دي چې څه وکړي:

هله ژرشه ملالۍ کلي ته راشه
ته په خپل معصوم وزر کې اوبه راوړه
سندرمارې توتکۍ کلي ته راشه

احساس راوړه دټپوژبه رازده کړه
دردموشته خوموږسندرې هېرې کړي
شمله ورزلمي مولاس ترزنه ناست دي
جرګې شته خوموږخبرې هېرې کړي

رود ټپي دي پکې وينې په څپودي
دځوانانو اندامونه اوبو راوړل
دګودر ټوله صحراپه وينوسره شوه
له بنګړو ډک مړوندونه اوبوراوړل

ملالۍ دکلي غبرګي سترګې تاته
ته اودی خوديوبل له زړونوجوړواست
ملالۍ يوځل له توروخاوروپاڅه
له باتورونګياليو ورونوجوړواست

سپين جومات مودباروتولوګوتورکړ
څوناترسوموښايسته امام شهيدکړ
چې به موږه اقتداپسې کوله
خدای ناترسوموهغه امام شهيد کړ

www.sikaraam.com

دسپین ږیرویې دې خولې پلسترکړي
دځوانانویې په تېغ غاړې پرې کړي
ستا همزولي یې په سپیودي داړلي
په زانګوکې ماشومان یې دي وژلي

ملالی راشه لږ ژر راپېښه وکړه
زرغونه شه احمدخان درسره راوړه
بیاموکلي سرولمبوپه سراخیستی
یا نازو شه میرویس خان درسره راوړه

ددې برخې په پای کې به د نصرت الهام د سولې په نامه شعر را اخلو چې د هر افغان د زړه ترجماني کوي، دی وایي هر افغان سوله غواړي خو هغسې سوله نه چې یو شمېر ادارې او اشخاص یې تش په نامه چیغې وهي، افغانان له زړه نه د سولې تږي دي، له جنګه ستړې دي او لوی ارمان یې همدغه دی چې کله خپل هېواد ارامه او سوکاله وګوري.

له جنګه ستړی افغان سوله غواړي
همدا یې زړه کې ارمان سوله غواړي
زمونږ په کلي کې جنګونه زیات شي
چې په نړۍ کې انسان سوله غواړي
لا یې قلم چرته لیدلی نه دی
تنکي تنکي ماشومان سوله غواړي
دلته د سولې بیرغ تل پورته دی
کوي به جنګ په میدان سوله غواړي
هغه کافر دی، هغه هم ووژنئ !
هغه چې کوم مسلمان سوله غواړي
د اقتصاد په سر په دي همه
ورسره خواکې جهان سوله غواړي
کله به امن شي مېلمه زمونږه
کله به دلته اسمان سوله غواړي
الهامه اوس به یې منې او کنه
د مینې جنګ دی جانان سوله غواړي

www.sikaraam.com

## پایله

د اوسنیو شعرونو له محتوا نه دا پایله اخیستلای شو چې ولس نور له جنګ نه ستړی دی. د وچـو ویاړونـو پر ځای او د پلار او نیکه د تورو او فتحو پر ځای باید ورته د مینې او عاطفې زده کـړه ورکـړل شي. دوی باید وپوهول شي چې نور لـه جهالت او ناپوهۍ سره دجهاد او جنګ ضرورت دی، ولس باید په پوهه سمبال شي، دوی ته باید د نړۍ واقعیتونه په هنري ژبه وښودل شي چې موږ له کومو ستونزو او بدمرغیو سره مخ یو، څنګه کولای شو د ټوپک پر ځای خپلو راتلونکو نسلونو ته قلم په لاس کې ورکړو او د پوهې په ګاڼه یې سمبال کړو. د سـاینس او ټکنالوژۍ په دې عصر کې یوازې وچ ویاړونه او تاریخي غورې دربې ولس له کومو سـتونزو سره مخ کولی شي او که همداسـې دوام ورکړو د راتلونکیو نسـلونو برخلیک به څه وي.

لکـه ځینو شـاعرانو چې د ولـس د ناخوالو انځورولو او په هنري ژبه د ولس راویښـولو ته ملاتړلې دغسې باید زموږ نور شاعران هم د افغانانو ترمنځ راپیدا شوې فاصلې ورکې کړي، د مقدس جنګ یانې جهاد تر خلاصېدو وروسـته خـو خپلمنځي جنګونو دلته د نفرت کار وکـړ، نو پوښـتنه داده چې زموږ خلکو د نفرت دا اغزي ولې ونـه رېبل، اخر ولې یې زموږ د زړونـو د ښـتې د ګلونو کر تـه جوړې نه کړې، که موږ په لوی لاس ځـان ته ډاډ ورکړو چې زموږ د هېواد په دې خپلمنځي جګړو کې هېڅ تاوان هم نه دی شـوی نو دا به مو هسـې خپلو ځانونو ته بازي ورکړې وي. حقه خبره داده چې ځینو پېښـو او بدمرغیو زموږ د خلکو او قومونو او د ځینو اوسـېدونکو ترمنځ هډماتې او فاصلې راوسـتې دي او ددې فاصلو د له منځه وړلو لپاره باید په ګډه کار وشي که هغه په شعر کې وي او که په نثر کې، که مخامخ له چا سره خبرې کولی شو او که د رسنیو یا نورو وسیلو له لارې ورسره وصل کېدای شو.

د نړۍ په یو شـمېر ادبیاتو کې وینو چې ځینې وخت تر جنګه وروسـته ډېر ښـه ادبیات پنځېدلي. هغه مهال چې په هېواد کې د جنګ جګړو ناخوالې روانې وي، پر ټولنیز شـعور یـوه خړه پرتـه وي، کله چې ټولنه ورو ورو له جنګ نه خلاصېـږي هغه خړه کېني او ټولنیز شعور لکه د چینې په څېر پاک او صفا شي. هیله من یم چې پښتو شعر کې تر دې وروسته د جنـګ جګړو په پلوۍ نور شـعرونه ونه لیکل شي، ځکـه جنګ په هر حالت کې بدمرغي راولي، زمـوږ دجنګـي قوم په نوم مشـهورېدل کوم افتخار نه دی، ویـاړ دادی چې یو قوم علمي، سـاینسي او نور پرمختګونه او نوښـتونه ولري. پښتانه شـاعران باید په هنري ژبه د

www.sikaraam.com

ولس د راويښولو او پوهولو هڅه وکړي.

ځينې اوســني شــعرونه په ځانګړي ډول د ځوانانو شعرونه موږ ته ددې هيله راکوي، چې د ځوانانو شــعور راويښ شوی، له روانو حالاتو نه رنځ وړي، د جنګ پر ځای غواړي په زړونو کــې دمينې زړې وکري، راځئ موږ هــم ددوی ددې هيلې لپاره په پاک نيت کار وکړو، نور نــو خپله شــاعري د جنګ او جګړې د غځېدلو وســيله ونه ګرځوو، نــور بس ده جګړې ډېر ماشومان يتميان کړي، ډېرې ښځې او نجونې يې کونډې بورې او ورارې کړې. جګړه پر چا حلوا نه ويشي، موږ د تېرو جګړو ثمره وليده، دهماغو جګړو رواني ناروغۍ، کرکې او بدبينۍ دي چې موږ تر اوســه هم ونه شول کولی يو سوکاله افغانستان ولرو او دا بدې ورځې شپې په ډاډ او اطمينان واړوو.

www.sikaraam.com

**اخځونه**


۱.د اسحق ننگیال د شعرونو منتخبات – یون، محمداسمعیل، سیندونه هم مري، پېښور، ۱۳۸۷ لمریز کال.
۲.جهاني، عبدالباري، د سباوون په تمه، شعري ټولگه، کندهار، ۱۳۸۵ لمریز کال.
۳.درانی، درویش، ستوري په لمن کې، شعري ټولگه، کویټه ۲۰۰۰، م کال.
۴.یــون، محمداســمعیل، پــه اورونــو کــې ســندرې، دویمــه شــعري ټولگه، پېښــور، ۱۳٦۹لمریزکال.
۵.صابر، صاحب شاه، قامتونه قیامتونه، شعري ټولگه، پېښور،۱۳۸۵ لمریزکال.
٦.سالک، مصطفی، دطاووس بڼکه، شعري ټولگه، پېښور، ۱۳۷۷ لمریز کال.
۷.سعود، سیدشاه، داسې ډېر لرې به نه ځو، شعري ټولگه، پېښور، ۲۰۱۰م کال.
۸.ساحل، محمدنبي، د سولې گډه مشاعره، غورچاڼ، کابل، ۱۳۸۷ لمریز کال.
۹.شمس، شمس الدین، د زړه بام، دویمه شعري ټولگه، کابل، ۱۳۹۰ لمریز کال.
۱۰.زابلی، سعید، ستورو ته ناست یم له سپېتاره سره، شعري ټولگه، پېښور، ۱۳۹۱، لمریز کال.
۱۱.هاند، جعفر، نوره دې نه یادوم، شعري ټولگه، پېښور، ۱۳۸۹ لمریز کال.
۱۲.نیازي، ومان، دراوی، شعري ټولگه، کابل، ۱۳۹۱ لمریز کال.
۱۳.یون، محمد اسمعیل، د افغانســتان فرهنگ ته اوښتي زیانونه، پېښور، ۱۳۸۷ لمریز کال.
۱۴.اکبر، ډاکټر محمداکبر، دگوتوخاپې،شعري ټولگه، پېښور، ۱۳۷۹ لمریز کال.
۱۵.شمســزی، عزت الله، د نښــترو او گورگرو څو ســندرې، د لغمان د شــاعرانو تذکره، پېښور، ۱۳۸۰ لمریز کال.
۱٦.فردا، فاروق، سیوری، شعري ټولگه، کابل، ۱۳۷۰لمریز کال.
۱٦.بېلابېل پښتو ویبسایټونه او فیس بوک پاڼې.

## کتاب پیژندنه

---

**دکتاب نوم:** پر پښتو شعر د جنګ اغېزې

**لیکوال:** عزت الله شمسزی

**خپرندوي:** د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون

**ایډیټر:** خوشال خلیل

**دپښتی طرحه:** محمد مظفري

**ډیزاین:** محمدتقي حسن‌زاده

**چاپشمېر:** لومړی وار ۵۰۰ ټوکه

**چاپځای:** د کمیسیون چاپ خونه

**نیټه:** ۱۳۹۱/ مرغومی

**پته:** ٦ مه ناحیه، پل سرخ، کارته سه، کابل، افغانستان.

**ټیلفون:** ۲۵۰۰٦۷۷-۲۵۰۰٦۷٦(۰۲۰)۰۰۹۳

**بریښنالیک:** aihrc@aihrc.org.af

**ویبپاڼه:** www.aihrc.org.af

www.sikaraam.com